انجیل شریف

پہ معرفت دَ

مُقدّس یُوحنا

منظُوم پښتو

مع

تفسیر

ناظم م۔ع۔ تائب —— مفسّر ج کرسٹنسن

Published By The Danish Pathan Mission, Mardan, N.W.F.P.

۱۹۳۹ | ۱۰۰۰ | اول ځل | ۱۳۵۸

انجیل شریف

په معرفت دَ

مُقدّس یُوحنا

منظُوم پښتو

مع

تفسیر

ناظم، م. ع. تائب ——— مفسّر، ج کرسٹفسن

Published By The Danish Pathan Mission, Mardan, N.W.F.P.

۱۹۳۹ | ۱۰۰۰ | اول ځل | ۱۳۵۸

خبردار

شئ. دا کتاب دَ خدای پاک کلام دي ځکه دا خبره یاده لرئ چه په ادب ساتل ستاسو ذمیواري ده

بله خبره دا ده چه دَ دي کتاب نظم دَ متن په اصل باند موقوف دي. نو که په ځنی ځائ کښې سکته یا سهوه وینئ هغه معاف کړئ ولي چه هلته به دَ متن خاص خیال ساتلي شوي وي.

کوم الفاظ چه له متن نه زیات یا دَ ناظم خپل دي هغه دَ فارسئ په رسم خط لیکلی شوي دي. او دَ متن په مطابق دَ ایاتونو نمبرونه په انګریزئ هندسو کښې لیکلي دي.

دَ تفسیر په حق کښې دا عرض دي چه هغه دَ مستند تفاسیر په مطابق تیار شه او په ممکن کوشش دَ ثقیل او دَ مشکل الفاظو حل وشه او دَ پښتنو دَ ضرورت په موافق ولیکلي شه

ځمونږ دا سوال دي چه خدائ دِ دَدي کتاب په وسیلي دېرو پښتانو ورونړو له هدایت ودکړي. آمین

م ع تائب ـــــ جے کرستنسن

دیباچه

دا
غټ کتاب
په کافي کوشش او
خرڅ دَ دی دَ پاره تیار شوی
دي چه دَ خدای کارونه چه ئي په
عیسی مسیح کړي دي دَ دي پیښتانو د رونو ته
صفا ښکاره شي او دَ دي کتاب په لوستو
به دَ دیرو عجیبهٔ کارونو بیان معلوم
شي لکه چه په شپږم یا نهم یا یولسم باب
کښې لیکلي دي - هم حقیقي تعلیم به دَ
عیسی مسیح په هر مخ باندې راځي

نو دَ دي کتاب په پیش کولو کښې
مونږ ته ضرور دي ښکاري چه دَ الهام
په مضمون بوڅو خبري ولیکو چه لوستونکي
ته معلومه شي چه عیسایان ځنګه دا کتاب
مقدس مني او خدای په کومي طریق
دَ کتاب مقدس په وسیلي ایمان - امید
تسلي دَ انسان په زړه کښې پیدا کوي
او ... اول دا سوال
دَ الهام په ...
دي چه هغه ولي کیږي؟ یعني څه مقصد
دي اول مقصد دا دي چه خدای
تعالی انسان ته ښایي چه هغه
ځنګه دَ انسان دَ پاره
دَ خپل خاص

قایم
ترتیب په
وسیلي څه څه کوي
او دوهم مقصد دا دي چه
خدای انسان ته ښایي چه هغه له انسان
ته دَ دي اصول په مطابق څه څه غواړي

چه مونږ بائبل شریف لټوو نو دا
معلومیږي چه دَ الهام لوي او غټ حقیقت
دا دي چه خدای دَ انسان دَ پاره څه کوي
او دا الهام په دوه قسمه دي اول دا
چه خدای ځای په ځای او وخت په وخت
زورآور او عجیبه کار کوي - مثلاً لکه دَ
حضرت نوح په زمانه کښې طوفان یا دَ موسی
علیه السلام په وخت کښې دَ بني اسرائیلو له
مصر نه ایستل - او له فرعون نه بچکول -
دغه شان بائبل شریف دَ خدای له کارونو
نه ډک دي - او دا کارونه دَ انسان دَ پاره
یو قسم الهام دي - ولي چه خدای دَ دي
کارونو په وسیلي انسان ته خپل مقصد
ښایي - دوهم دا چه خدای دَ چا خاص الخاص
انسان په خولې اشارت ورکوي چه
وړاندي به هغه یا دغه زورآور کار
وشي - مثلاً بي بي مریم ته
دا خبره معلومه شوه
چه بچي

د
انسان به هم
له نبئ نه پیدا ښي
یادا چه خلیل الله ته معلومه
شوه چه د هغهٔ په نسل کښې به هغه
نعمت د دُنیا د پاره راښي.

نو په دی نښان سره خدائي وخت
په وخت خپل لوي کار کوي او د وخت
منیځ کښې اشارت په طور د پیشینګوي
ورکوي د دي د پاره چه انسان بې زړه نهٔ
شي مګر چه هر په داسې زمانه کښې ایمان
ولري چه هیڅ زورور کار د خدای له
طرف نه ښکاره کیږي.

که انسان د بني اسرائیل تاریخ ته
خیال وکړي نو دا خوګنده خبره ده چه هم تر
دی وقت پورې د خدائي وعدې بني اسرائیلو
سره نه ده ماته شوي مګر خدائي دا یو قوم
ساتلي دي. سره د دي چه د هغه زمانې له اقوامو
شاید بل نشته چه اوس په دُنیا کښې موجود
دي. خدائي خپل شان وفا دار ظاهر وي.

په خاص طور د موسیٰ علیه السلام
له وقت نه د عیسیٰ مسیح تر زمانې پورې یعنې
قریباً دوه زره کاله. خدائي دا قوم
په مختلف حال کښې ساتلی وه
او وخت په وخت
د انبیاءو

په وسیلې خدائي
د راتلونکي مسیح په
حق کښې تازه اُمید په هغه
خلقو کښې ساتلو. بلکې تر دي حده پوري
چه د بني اسرائیل علماؤ ته معلومه وه چه
هغه مسیح به په کوم ځای. کوم خاندان او کوم
یې کښې پیدا کیږي. خدائي هم ورته ښودلي
وو چه د مسیح د ولادت نه وړاندې به یو بل نبي
پیدا شي چه د مسیح لاره به تیاروي
دا ایمان. اُمید او تسلي هر وخت د ایماندارو
خلقو په زړونو کښې پیدا وو.

بیا چه وقت پوره شه او خدائي دوباره
د لوئي کار په کولو کلام وکړه نو حضرت یحیٰی
په زوړ والي کښې معجزانه طور پیدا شه. ولې چه پلار یې
زوړ شوي وه او مور یې هم شنډه هم زړه
وه. روح (ایلیاه) او شپږ میاشتي وروستو
عیسیٰ کلمة الله له پیغلې مریمې نه پیدا
شه. بیا خدائي د عیسیٰ مسیح په وسیلې هغه
دوهمه کارونه وکړل. یعني د هغهٔ په خولې یې
د انسان د پاره د تسلي. د اُمید او د تل
ژوندون پوره تعلیم او نبوت وبښول. مګر
خدائي هم د عیسیٰ مسیح له لاسه دومره زورور
کارونه ښکاره کړل چه د بابا آدم له وقت نه
تر دي وقت پورې نه دي شوي.
چه او کوم وخت
انسان

د غلط خيال او د وجهي
نور زيه به مصلوب کاوه
عيسى مسيح انسان مخ نه کړه
نو خداى جلالي کاري يا تورندي وکړي
هغه وليږي. پس
هم دا کار وکړه چه عيسى مسيح
خداى هم نه و خپور او
اسمان ته خداى پخپله الله داخيږه
د پښتنکوي هم هغه راتلي چه د تورندو
ظاهر کړي
هم هسي عدالات وکړي.
او د مړو
غرض دا دي چه خداى د زوراور کار
او د نبوت په وسيلي د پاره څه وکړل او چه څه دي چه
هغه پخپله د انسان د پاره دا الهام دي.
په کوي او چه بني آدم لږ شان فکر وکړي نو د
هغه آخر سوال دا دي چه خداى به خما د پاره څه وکړي؟ خداى په
او د تبول انسان د ګناه په وجهي مهربان دي او انسان به
قهر دي؟ يا خداى مهربان دي او انسان غرق
کړي دي؟ يا څه خاص ترتيب يې
نيغ دي؟ آدم

تر هغه پوري تسلي نه موږي تر څو چه د دي سوال جوابي هغه موندلي نه دي يعنى خداى به خما د پاره څه کوي؟

په سبب او په وسيلي د الهام موندنه ځکه د دي سوال جواب شته. خو داسي نه دي چه د يو انسان د خولي بل انسان تسلي موږي. مګر دا الهام په زوراور او غټه ګلدولو کښې او په نبوت کښې موندنه ته رسيږي

که چيرې موندنه په لټه و الفاظو کښې له دي الهام نه مطلب واخلو نو دا دي چه خداى وفادار دي يعنى خالق هم نيکي دي هغه خپل مخلوق غرقيدو ته نه پريږدي ديه مثلاً هغه وخت چه موسى عليه السلام د خداى په حکم بني اسرائيل له مصره بهر کړل او هغوى په ځنګل کښې فلسطين ته روان شو نو د بې ايمانۍ ګناه پيدا شوه او د دي ګناه په وجهي هغه ټول پښت چه له مصره ووت هم په ځنګل کښې مړ شه. مګر پس له دي نه خداى هم هغه قوم هغه ملک ته ورسوه يعنى لکه چه يې خليل الله سره وعده کړي وه. خداى چيرې ثابت و وفادار و نبوه

بني اسرائيل د ټولي دنيا د پاره مثال دي. هم

هغه
شان به خدائي
انسان ځائي ته رسوي۔
اګر که ته یږ کسان به کښې د بچ
ایماني په و جهو ورک شيي
څکه بکار دي، چه په الهام کښې هم هغه
ده لويه خبره وي؛ يعني چه خدائي له
انسان ته څه غواړي. له شروع نه
خدائي په مختلف طور انسان ته ښوولي دي
چه بني آدم په هيڅ طرز خپل ځان بچ کولي نه
شي - بابا آدم ته دا خبره راغله - خليل الله ته
موسی علیه السلام ته - بلکې جميع انبياؤ ته معلومه
شوي وه چه انسان هيڅ طاقت نه
لري چه خپل ځان بچ کړي او که څوک دا خيال لري
چه په نيکۍ يا عمل يا ديني کاروڼو به زړه ځان
بچ کړي هغه نه يواځي له ځانه بيوه بيله لار
اختيار کوي چه په هيڅ شان ئې سرته نه رسولي
نه شي مګر هغه هم د خدائي نبوتونه - کاروڼه
او نبيان رد کوي - نو معلوميږي چه خدائي
له اول نه اول له انسان نه دا غواړي چه
هغه خپل ځان بې طاقته وپيژني

مثلاً بني اسرائيلو په مصر کښې څه طاقت
او اُميد لرل. په هغوي علامان وو او
فرعون زورور بادشاه وه. مګر چه
پوره شو چه بې طاقته يو
حالة د موسی کلام د
هغوي په

نهم
ولګيدهٔ
دويم کار چه خدائي له
انسان نه غواړي دا دي
انسان پوه شي یا ومني چه خدائي د خپلې
مرضۍ په مطابق ترتيب قايم کړي دي. او
دا د ايمان او د پابندۍ ترتيب دی. يعني اګر
چه بني آدم د خپل ځان د پاره هيڅ نه شي کولي
په هغه يقين کول لازم دي چه خدائي په خپل
ترتيب هغه کار کوي چه انسان نه شي کولي.
دلته په دې انجيل کتب په شپږم باب کښې
كليمة الله هم دغه جواب خلقو له ورکوي

کوم کار چه خدائي له موږ نه غواړي هغه
نهٔ تش د انبياؤ په خوله موږ ته ښايي مګر
خاص د خپلو کاروڼو په وسيلې موږ ته ئې
ښکاره کوي

خدائي تش د يو کس، د يو قوم يا د يو
پښت د پاره زورور کارونه نه کوي
بلکې هر يو زورور کار د ټول انسان د پاره
دي. په يو کلي کښې به کار وشي او د دُنيا
تر حدودو پورې به خبره ورسي او پښت
تر پښته به هغه يادېږي. او د دي د پاره
چه يادداشت په ټول انسان کښې قايم شي
د زورور کارونو او د نبوتونو بيان
ليکلي شوي دي. مثلاً څه
وخت چه حضرت
نوح علیه

مثل د پاسه سیل کاله
منادي وکړله. مګر خلقو
ایمان رانه وړ نو خدايي هغه تول
پښت غرق کړه. او دا د تول انسان د پاره
یوه اشاره ده چه خدايي هغه خلقو سره
نوح چه ایمان نه لري څه کوي. څکه د حضرت
د طوفان یاداشت به انسان کښ
قایبول غواړي. او دا قایبول په دی شان
کیږي چه د هغه بیان و لیکلي شي.
سره کیږي چه د هغه شان لیکلي شوي د
بائبل شریف دغه شان تر اوسه پوري د
هغه په وجهي یا دیږي چه د دنیا له
دي. او د هغه کارونه
خدايي هغه شروع نه شوي دي

بائبل شریف کتاب مقدس
د څه بل بنه
دي. یعني هغه د څه عام تاریخ یا د خدايي
کتاب په شان نه دي مګر آخر دي په دعوا
دي. څکه کتاب مقدس وجهه دا ده
ډیر وجهی دي. اوله په دی کښ
کښ دوه کارونه د خدايي په
چه خاص الخاص کارونه چه خدايي چه
یا دیږي. یعني هغه کارونه کړی دي چه انسان
ظاهر طور د دي د پاره شي ولي خدايي
انسان په مطلب پوه د نه شي
په پتو کارونو پوهیدي
دو یمه

وجهه دا ده چه کوم
کسان چه خدايي
د هغوي له لاسه دا خبري
ولیکلي هغوي هم له خدايي نه خاص
هدایت یافته وو (یوحنا ۱۴ باب - ۳۰ ایت
وګوره) د دی د پاره چه هر څه داسي ولیکلي شي چه
ربښتني مطلب تر نه وزي ولي چه د خدايي په ظاهر
کار هم هیڅوک نه پوهیږي که هدایت
یافته نه وي. څکه څوبنږ دا قایم اصول
دي چه لیکونکي ملهمان وو. ولي چه
کتاب چه په کښ د خدايي د خاصو کارونو
بیان د خدايي د مقررشویو کسانو په
وسیله لیکلي دي هغه به خود کتاب مقدس
وي او هم به دیني کلام وي. او په هغه
کتاب کښ به موبنږ تسلي او امید
مومو. او د ایمان او د پابندي حکم به
هم حاصل شي

د دي پتولو خبرو په مطابق انجیل
شریف موبنږ ته رسیدلي دي. خدايي
خاص د څلورو کسو له لاسه موبنږ ته جل
لوي جلا جلا بیان بنولي دي او د انجیل
شریف څلور کتابونه دي څلورو کسو
په نومونو یادیږي. یعني حضرت متي
مرقس. لوقا. یوحنا. او انجیل
شریف په هر قوم کښ
د دنیا په درسته کښ

خور دي ...۱۰۰ وژبو
ژبوي اوس لا ژرنو ژبي چه هرڅايي
يعني اوس حاصلېږي ژبي چه کارونه پاتې
کښې حاصلېږي کښې هغه مسيح کښې قايدا
د خلقو په يادداشت کښې عيسیٰ چه تووله دُنيا
ښې چه خدائي په د پارکه ښې او د تل
شوې دي- د دي بڼ
کېدې په وسيلي
د هغهٔ په و موميږي-
ژوندون خبره ده چه کتاب مقدس
باقي دا وسيله ده يعنی خدائ د کتاب
د خدائي يو وسيلي د انسان په زړه کښې
مقدس په وسيلي او تابعداري پيدا کوي
ايمان- اُميد- تسلي مقدس په اوس کښې
ځکه هر څوک چه کتاب يې په دي دُعا
اخلي هغه له پکار دي چه اخلي اې خدائه
سره په اوس کښې ستا په کارونو او
شا مدد وکړه چه زه ته ښه په زړه
په نبوتونو پوه شم چه
کښې خپل پوره کار وکړي- اُمين

٣

يوحنا رسول

د انجيل شريف د دي حصې
ليکونکي حضرت يوحنا وه او په هغه دولسو
کسو کښې يو وه چه عيسیٰ کليمة الله په طور
د خاصو مريدانو انتخاب وو او چه پښتانه
هم ورته د مسيح حواريان وايي- حضرت يوحنا
د ګليل په ضلع کښې په بيت عبدا کښې
اوسيدو- پلار ئې ماهي ګير وه او خاندان
ئې کافي مالدار وه- د هغهٔ د پلار نوم
زبدي وه او مور ئې سلومي وه هغه
ډيره ديندار ښځه وه او د مسيح د راتلو
منتظره وه لکه چه نور خلق د هغې د زماني
د مسيح د راتلو په انتظار کښې وو-

نو کوم وخت چه حضرت يحيیٰ
په ځنګل کښې منادي کوله يوحنا او د هغهٔ
ورور يعقوب هم هلته لاړل او د حضرت
يحيیٰ د خولې نه ئې ورمبي ځل د عيسیٰ
مسيح په حق کښې خبرې واوريدلې- او چه
عيسیٰ ئې وليد نو ورپسې لاړل او څه
وخت ئې ور سره تير کړ-

لاړلې نه پس
عيسیٰ کليمة الله
پخپله د

کیږي
د دریاب په ... او
عمر ژوندی وه ... او ما
کاږي هغه یا دا وده ... چه ... کښي هم
... نو ورته د هغوی کښی ... او
... د هغوی ... لیکلي ... او
... تامن ... مریدان شو.
ناست ... عیسی مسیح ... ته
مماقفت ... د عیسی ... الله
خاص ملګري ... د عیسی
حضرت یوحنا بیا چیري د عیسی ... وه
شه. بیا کوم وقت هم درسره ... موقعه
وفیصلي شه حضرت یوحنا ... مریدي
او چه هغه په ... د ... نولسم
کښی هم سره د ... محرر
وه. لیکلي ... هغه وقت ... چه
یاب کښی ... عیسی مسیح ...
حضرت یوحنا ته وسپارله.

بیا ترڅو یهودي چه په بیت المقدس کښی مشر
وه. حضرت یوحنا په جماعت کښی مشر
د عیسایانو حضرت پطرس ... حضرت یوحنا
شه. او حضرت ... یعنی د افیسس
ښهر ته بدل کړ ... چه نوي
... مریدان په ایمان
وه ... کښی قایم

کیږي.
او هلته د
عیسایانو د او وړو
جماعتونو مشر شه.

په دی مینځ کښی یو بل بادشاه د روم
په تخت کښیناست او هغه عیسایان
غم اخته کړل. حضرت یوحنا هغه ښهر
نه خارج شه او په یو وړکوټي جزیره
کښی قید شه چه ورته پټمس ویلی کیږي

بیا چه یو بل نوی بادشاه د روم راغی
حضرت یوحنا ازاد شه مګر شه مدي پس
هم هغه وفات شه. او هغه د مرګ په وقت
کښی قریبا د سلو کالو وه.

خدای د هغه له لاس ډیر لوی کارونه
اخستي وه. حضرت یوحنا په دې مشهور
دي چه د هغه له لاس یوه حصه د انجیل
شریف ولیکلی شوه. بیا کوم وخت چه هغه
په پټمس جزیره کښی قید وه نو کتاب مکاشفات
د هغه له لاس ولیکلی شه. په کتاب مکاشفات
کښی خدای د راتلونکي زمانې د واقعات
حق کښی اشاره راکوي. یعنی نبوت دي په
کوم وقت چه حقیقت څرګند شوي وه نو
د ایماندارانو د نصیحت او تسلی د پاره
ئی هم دري خطونه لیکلي وو
چه په بائبل شریف
کښی دي.

اول باب

له خدای تعالی په هر شان
سره د انسان په خیال نه بهر دی
نو هم قسم مماشغات عملت عکس چه په ازل
راتلې صحوف د فرمایق چه د کیږی ... د خدای
چه دلته د دنیا د پیدا کیږی په انسان خیال نو
او هغه شال د ... چه بیښی او انسان نه خیال و د بیښی هغه زمانه
داده د سبب بیښی ... د انسان حنبری حم په خیال و ... نه
د هیڅ بیښی ... آدم بیښی چه عاله بیښی هیڅ ... په هیڅ
په هیڅ چه د خدای ... ده
قومان بیښی ... په

کلام لفظ د لوګس) دی. او دا لفظ په یونانی
استعمالیږی ـ د غیرکس د یاره او دا د ۵، ۲، ۵ لفظ
غیر ګس د یاره استعمالیږی ـ نو د مطلب د یاره د وده
پیغام. ګتاب. او چه د ګس د یاره استعمالیږی ـ قسمه
نو لنبي د کلمة الله سبب هغه خاص د
یعنی په انجیل شریف نوم دی ـ وجه دا
عیسی مسیح په ورځ زمانه کښې حق
ده. په ورځې شخصي کلام په وسیلې
تعالی د نبیانو په نبوله ـ کلیمی
خپله مرضي زمانه کښې بیان دی.
چه دی خپل شان نبوتي په وسیله دی.
د شخصي کلام
او هغه شخصي کلام
کلمة الله دی.
د خپل شان اول کلام د انسان له
د ... شخصي وه ـ او چه بکه
خدای ذات نه بهر نه دی.

سوم که چه د انسان هغه
په زمانه کښې دی ـ هم په
خدای خبره وخت اول له
دا منلی چه ده چه خدای ذات
د ازل کښې ده د خدای وه
قابله خبره په معرفت ه ... هر
یعنی په وسیله د تلی ... خالق په کار
شخصی یعنی ... خدای په دنیا
د نیکانو ... په وسیله د خاوند
خدای شخصی کلام د هغه چه پیدا
ټول ... د دی.

1 په ازل کښې وه[1] کلام[2] او دا کلام
خدای سره وه او خدای وه[3] را تمام
2 او هم دغه خدای سره وه په ازل
3 ټول اشیای په وسیله[4] را پیدا شول

کتاب نو چه انسان وکړی
مقدس کوم ... بیښی. په
کړی هغه د ورښی دا فیصله پوری
اول: څو مره پوره چه خات
دوبیم: چه عقل د انسان نا کامیاب دی د
به وسیلې به خدای ما پوره کړی. که څوک دا کړی.
خات سره نه کوی نو څو مره چه هغه د ایمان
خیال کوشش کوی دو مره به هغه په خپل
ښتی. او د عو قیدلو و ... دو مره فیصله
زیاته شوه ـ ولې چه هغه یې لاری
قدم یې غلط اخستی دی.

هر یو څیز چه شه پیدا تو نه یو بیا
نه شه بې د هغه له وسیلې پیدا
4 په هغه کښې وه ژوندون اعلیٰ محکم
او هغه ژوندون وه نور د بني ادم
5 په تیاره کښې نور ځلیږي عجائبه
ولیکن تیاره په هغه نه شوه غالبه
6 یو سړي راغي د رب فرستادا
وه د هغه سړي نوم حضرت یحيیٰ
7 شاهدي د پاره راغي چه د نور
شاهدي وکړي ـ تول خلق په دستور
د هغه په وسیلې راوړي ایمان
8 هغه خپله خو نور نه وه په امکان

مکر راغي چه دَ نُور شاهدي وکړينه
9 دا رښتين نُور چه هر کس روښانه کوينه
وه هغه راتلونکي خاص تر دي دنيا
10 بلکِ وه هغه دنيا کښ هوېدا
دنيا شوه په وسيلي دَ هغهٔ پيدا
خو دنيا هغه ونه پيژندهٔ بيا
11 هغه خپل ځاي ته راغي په اصول
خو خپلوانو هغه نه کړلو قبول
12 مکر هر څوموه چه هغه قبول کړنه
نور هغوي ته يې دا حق ورو بخښنه

چه دَخدایُ ځامن شي هغه ټول کسان

چه دَهغه په نامه څوک راوړي ایمان

نه له وینې. نه له شوقِ جسماني 13

نه له بلې ارادې څه انساني

بلکې شو پیدا له خدایُ په اصلیت

کلام جُسه شه له فضل او حقیقت 14

نه معمور څو بُن. په مینځ کښ او سیدلو

مو بُن. دَهغه لویُ والي داسې ولیدلو

لکه وې دَپلار دَیو ځوي لویې جلال

او یحیي یُ داشهادت ورکړ في الحال 15

او په لوړ آواز یې وُوِهسې شان

دا هغه دي چه یُ ما کړي وه بیان

۹ دَ حضرت يحيی په شاهدي وايي هغه خبره چه شخصي كلام په ازل كښې وه يعني كلام چه دنياوي طور يعني مشخص وه خو بيا عيسی وه او له هغه نه وروسته عيسی كلمة الله يوحنا وايي چه موږ ته نزول له هغه نه معلوم شو
۱۲ حضرت يوحنا وايي چه دَ هغه په لاس لره فضل او حقيقت دَ ګناه بخښل

يعني هغه چه ورستي راغي له ما
شهٔ روښي له ما چه وهٔ روښي مخوا
16 دَ هغه له زياتوالي موږ ټولو بيا مونږ ل
يعني فضل بانډ فضل مكمل
17 شريعه راغله دَ موسیٰ په معرفت
دَ مسيح په وجهي فضل او حقيقت
18 خداي هيڅ ته چري نه دي ښكاره شوي
خو هغه يواځي پيدا شوي ځوي
چه دَ پلار په غيږ كښ دي اقبال بلند
هم هغه هغه كړ موږ وته څرګند

۱۵

اول كښې په خداي كښ وه چه هغه دَ خداي دَ اصليت
او دنيا ته راغي. هغه دَ خداي دَ اصليت عكس وه او هغه خكه په تفصيلي طور موږ ته خداي ښودلی شي
هغه اصلي قربان كيده ولكي چه هغه راووت
په انسان كښ دَ خداي اصليت بيانيدل نه شي. ليكن
۴ چه انسان چري خداي نه دي ليدلي نو هغه كلمة الله دي او په
جاودان حقيقت په دنيا كښې خلقو ته معلوم وو
پوري ته اصلي قرباني نه عامه لارو دَ فضل او نه دَ
دَ خداي ګډه وري يعني مسيح ته راغي هم
اصلي قرباني لوري ته اشاره وه
خداوند قرباني صرف نقلي قرباني وه

ا
اصلي نوم د بيت
المقدس يروشليم
دی او معنی ئې داده: د سلامتۍ ښهر.
يهوديانو هغه ته په دې وجهي
ګڼلې چه په هغه کښې بيت الله ده
په ټولو کلو کښې د عام عبادت د پاره
جماعتونه وو. مګر خاص عبادت لکه قرباني
يا اختر کول په بيت الله کښې وو او دا
سبب دي چه خلق به په مخصوصو موقعو کښې
د عبادت د پاره اکثر بيت المقدس
ته تلل.

۲
د بني اسرائيلو يعني يعقوب عليه
السلام يا ديېزي. او د هغه له دولسو ځامنو
نه دولس خيلونه جوړ شوې. د دې يو
خيل لاوي وه. او هم د هغه په ځيل
کښې د موسیٰ او د هغه د مشر
ورور هارون خاندان وه چه
خدای په خاص طور هارون
د بيت الله د پاک کار او د قرباني
کولو د پاره مقرر کړې وه نو
هغه کار صرف د هغه د خاندان
د لاس منظور پيدې

دَ يحيىٰ شاهدي داده په هوس
يهود يانو چه له بيت المقدس[1]
کاهنان او مردكاران[2] په دي وينا
واستول چه ته يي څوک وائې يحيىٰ
20 يحيىٰ وكړ اقرار نه شه په انكار
بلكې وِ يئ زه مسيح نه يم په اقرار
21 بيا پوښتنه وكړه دوي ته يئ الياس
يحيىٰ وِ زه هغه نه يم بې قياس

۱۶

شه. او هغه خاندان ته
کاهنان ويلی کيږي.
کاهنان په مختلف قسم خدمت
مقرر وه نو خدای د ښه خاص
نور هم د هغه خيل د لاوي
خاندانات سره تعلق د خاندان
مقرر وه چه د هارون د کاهنو. نو
په عام کار کښې خدمت وکړي. يو
د خدمت په وجهي هغوي
قسم نوکران يا شاګردان شو. نو
هغوي ځکه خاص د حضرت يحيیٰ
مطلب ځکه د يهودو.
۳ هم چه حضرت يحيیٰ
داته ځان په الياس نه وايي او دې
هغه زماني يهوديان په ډې طور راتلونکې
ده چه الياس به په جسماني
يه پيدا په جسماني طور
الياس نه وه. بلکې هغه خيال
طور يې هم غلط وه. ولې چه
[illegible]

بیا دوی وِ ته ویي هغه نبي څه؟ وایه
ده ویل نه یمه دا خیال وی بی ځایه
څکه هغوي ورته وُوِ بیا ویي څوک 22
څه جواب ورکړو لیږو ونکو ته بی توک؟
ته څه وایې په بابت کښ دَ خپل ځان
یحیی ورکړلو جواب په هسی شان 23
یو آوازیم چه ځنګل کښ نعري کړي
چه کړئ لاره دَ رب سمه سمدستي
لکه چه دي یشعیاه نبي ویلی
فریسیانو دا کسان وُو رالستولي 24
بیا هغوي تر دا سوال وکړ سمدستي 25
نه مسیح یي. نه الیاس. نه هغه نبي

د عیسیٰ مسیح په زمانه کښ بني اسرائیلو کښ د راتلونکي انبیاؤ په حق کښ ډیر خیالونه وُو. هغوي د اول نه د مسیح په انتظار کښ وُو او حیران وُو چه هغه به څوک وي … چه هغه به موږ له بادشاه … خلاص کړي. د الیاس دویم راتلو … هغوي … چه هغه به د … انتظار کښ وُو … او هر … قیامت نه وړاندې … نبي … راځي … استثنا … ۱۸ باب ۱۵ آیت … یهودیانو … مسیح به … نبوت … صرف هغه نبي … انبیاؤ … نبوت … خلقو … یاد کښ …

۱۷

یعني په یشعیا ۴۰ باب ۳ آیت کښ نبوت دي حضرت یحیی دا نور نبوتونه پوره دي او خلقو ته د یشعیا نبي عجیبه ښایي. او دلته دا یوه صرف عجیبه خبره ده چه هغه راتلونکی کس هغه … په طور د آواز راځي. د مالک پیغام صرف دومره دي. چه تیار کړئ. ځنګله راتلو کښ دي. ځان یعني اصلي او ورته سمه کړه. راتلونکی حقیقي او … کښ دي. هغه کښ او … په راتلو چه د هغه د … هم په استثنا کښ او په نورو دوه … ځایونو کښ راغلي دي. هغه اوس پاتې او دا سره وجه ده چه حضرت یحیی تش د مسیح د پاره خبرې کوي او د ځان د په باره کښ هیڅ نه وایي.

ل١ ترڅه صحو ديې تبنه هغه بني اسرائيلو سخت وه. جلو په بعضو فرقو کښي بپتسمه د فرقو تبنه وه. هغه کسان چه پوره تشو حضرت يحيى ته نوي فرقه نه جوړه کړي ده. د بپتسمه ورکوله په مطلب هم نه پوهيدي او حضرت يحيى صرف په جواب کښي صرف ته

ل٢ د يحيى دلته عيسى ته خداى کلمة الله وايي. دا اشارت کوي چه حضرت عيسى ته کلمة الله وايي. نو هر يو يهودي په دې مطلب پوهيدي شه. په دې زمانه کښي چه بني اسرائيل په مصر کښي ميريان وو. او خداى اخو هغوي د فرعون له ظلم نه بچ کړل. نو په هغه شپه کښي خداى حکم ورکړ چه هر يو دا غه ګډ وري د قربان شي. او د هغه وينه د دروازي د سر

او د دوو په درشلو چپرکا ورکوي. نو چه د مرګ فرښته د شپي راغله په هر کور کي مشر ملک کښي. نو چرته چه د وا نه وه هلته مرګ ونه شه د وينه نو په بني اسرائيلو ګډ وري د قربانۍ يو لو نښان وه. وروستو د ګناه د پاره خداى ورته بيان د قربانۍ نو ګډ وري هر چا ته معلومه وه. نو کيده. حضرت يحيى په دې مطلب قربان چه دا الفاظ استعمالوي اوکړه سړه چه نو نبه زمانه کښي هم خلق په ښه پوهيږي

رانه وايه بپتسمه[١] ورکوي څله؟

26 په جواب کښي يحيى دا وينا وکړله

بپتسمه په اوبو باندِ ورکوم زهٔ

خو يو کس ستاسو ترميان ولاړ دي وايم زه

چه يې نه پيژنئ تاسو په هيڅ شان

27 چه له ما وروستو راځي مخم زليشان

زهٔ لايق نه يم هومره په يو وار

چه تسمي يې پرانزمه دَ پيزار

28 دا خبري دَ يردن له سِند نه پوري

بيت عنيا کښي وشوي چرته چه يولوري

ورکوله بپتسمه حضرت يحيى

29 بله ورځ يې په راتلو وليد عيسى

وي ويل ګوري ګډ وري[٢] دَ سبحان

چه ګناه دَ جهان اخلي په خپل ځان

30 دا هغه دي چه يې په حق ذکر مذکور شه
چه له ما وروستو راشي ورنبي ضرور شه
سبب دا دي چه له مانه وه اول
31 نو ما ونهٔ پيژندلو مکمل
چه ښکاره شي خاص په بني اسرائيل
بپتسمه دَ آب ورکومه په تعجيل
32 او يحيي ورکړه شاهدي په هسي شان
چه ما روح وليد چه راغي له آسمان
دَ کونتري په شان هغه را کوز شهٔ
او دَ هغه کس دَ پاسَ ايسار شهٔ
33 او ما نه پيژند - نو چا چه راستولم
دَ اوبو په بپتسمي يې مقرر کړلم
هغهٔ مانه وِ چه ته وويني څوک
چه پرِ روح کوز شي ايسار شي په دي توک

٢٧

دَ مسیح پیژندل
داسي په عام جسماني
خیال نا ممکنه وه ځکه خدای
تعالیٰ حضرت یحیی ته یوه نښه ښوولي
وه چه هغه لوږ یحیی چه عیسیٰ کلمة الله
هم مسیح دی. وای حضرت یحیی عیسیٰ
په دنیاوي طور دیر ښه پیژند. مګر هغه
داله شانه نه شو ویلی چه هغه د
عیسیٰ چه زه پیژنم هم دی. نو چه
خدای مسیح شوی کلام دی وه
تعالیٰ دا نښه ښیي

روح القدس

١٩

بشکل ښکاره ښيي. به ثانه
نازل ښيي. چه په صور بي
کښی دَ مقدس متي په انجیل شریف
باب کښی ١٦-١٧ داغلي په هغه
حضرت یحیی یو آواز دي
چه دا زما محبوب ځوی دی. دریم
چه زه تر خوشحاله یم. واورید چه

له خدائ دَ بني اسرائيلو دَ انبياوُ په خولې دا نبوت کړې وه چه زه به خپل روح په انسان بانِدِ نازل کړم ديوايل نبي ۲ باب ۲۸-۲۹) او دَ روح القدس ذکر دِيرِ شلهٔ دَ عيسیٰ مسیح په وسیلې کیږي. بلکې هم په دې انجيل شريف کښې دا معلوميږي چه هغه نبوت دَ عيسیٰ کلمة الله په وسيلې پوره شهٔ او هم روز روز پوره کيږي. دَ رسولانو په اعمال کښې دويم باب له اول ايت نه وګوره.

٢ په انجيل شريف کښې
دوه قسمه بپتسمه ياديږي. دَ
دَ اوبو او دَ روح القدس. دَ
اوبو بپتسمه يو قسم اقرار دې
او دَ روح القدس بپتسمه
طاقت مونزل دې. دغه بپتسمه
هم دَ عجيبي بپتسمه حروف يو
اقرار وه چه دَ انسان هرڅه په
ايمان خځلېدلی دې. دَ قوم دَ ذات
يا دَ عمل په وجهي خځک امید
تيرلي نه ايږي. بيا په مسیح ايمان
راوړونکي دَ روح القدس بپتسمه
موږي يا په نوره الفاظو کښي په هغه
قوت لباس داخي دا
دَ مسیح او دَ نورو پيغمبرانو او نبيانو په
منځ کښې يو لوی فرق دې. هغوي
اقرار بنولي تي. مګر لنش دَ عيسیٰ کلمة الله
دَ خاطرو او دَ هغه په وسيلې دَ بپتسمه
روح القدس

هم دې هغه کس چه په روحُ القدس[٢]
بپتسمه به ورکوي خاص په هوس
34 اوما وليدهٔ هغه په هغه شان
شاهد ي ورکوم چه ځوي[٣] دې دَ سبحان

٢٠

حاصليږي.
٣ دَ بني اسرائيلو نه په چار چاپير
هم دَ بني اسرائيلو بت پرستان او نور خپل امت
ملکونو کښې بت تعدی په خپل ... چه
هغه دَ کفر خدای په نه بنود ... په
امت به کله دَ بني اسرائيلو کښې ... او رسول يو
مختلف طور ... دَ الله او نبيانو په ... حضرت بعض
چې شان ... سبحان شي ... ځوي علم په هغه
په انسان طور ... خدای ځوي نه شو دې
شان استعمال ... دَ هغه اسمان نه او نه يه دې
چه يو هغه ... او په صورت کښې هم طور
الفاظو کښې ... اود ... په ځنګ د
نِيٰ روح القدس ... کښې د
شاهدي ... دَ بني اسرائيلو ... مطلب
نِيٰ دَ هغه ... ځوي دَ ... مطلب وه
وړ او ... مسیح ... او خلق په
هغه ... دَ خدای ځوي ... بغي
کلمة الله ... دَ خدای ځوي خاص کلام
ايمان ... خدای
مومن ...

عيسیٰ. دَ ګناه نه بچونکي. مسیح. دَ خدایٔ مسح شوي ابن ادم. دَ انسان په ذات کښې شامل ابن الله يا دَ خدایٔ ځوي. دَ خدایٔ په ذات شامل يعني په لفظ ځوي کښې مطلب قرابت دې جسماني ځوي والی په عيسايي اجماع امت کښې کفر ګڼړلی کيږي په دې ټولو نومونو کښې بو هم نښته چه دَ عيسیٰ مسیح مريال نو له ځانه جوړکړي دې هر يو نوم دَ ده په وسيلې ګاظلي دې. او چه انسان په دې نومونو ښه قدرپوهيږي نو خدایٔ دَ هر يو نه په وسيلې دَ انسان په زړه کښې جل جل تسلي پيدا کوي.

35 بیا بله ورځ یحییٰ ولاړوه ورسره
دَ هغه دوه مریدان ووُ ښه کره
36 چه عیسیٰ تیریداهٔ ورته یې وکتل
وِیُ دَ رب ګډوری وګوریُ کال
37 چه دې دواړو واوریدُ دغه بیان
په عیسیٰ پسې هغوی زرشو روان
38 عیسیٰ وکاته په شا نو رسمدستي
ویُ لیدل چه دوی په ما پسې راځي
ورته یُ وِدُ څنګه راغلیُ څه غبسه ته
دوی وویل تهٔ اې اُستاذ اوسي چرته
39 عیسیٰ دوی ته وویل راشیُ په ځان
وګوریُ - دوی ورغلل هغه زمان
ویُ لید ځایُ - هغه ورځ پاتې ورځغه شُو
وه قریب لسم ساعت چه ورسره شُو
40 په دې دوه وُ کښې چه یُ خبري دَ یحییٰ
واوریدلي او بیا لاړل نو عیسیٰ

41 یو آندریاس دَ شمعون پطرس ورور ونه
اول یې شمعون سکه ورور وموند نه
ورته یې وویل دي مسیح موندلی اوس
42 چه معنی یې ده په اصل خرستس[1]
دی یې ورسته مسیح عیسیٰ له هغه پل
چه عیسیٰ ورو کتل وې فرمایل
چه یې ته شمعون فرزند دَ یوحنا
خو کیفا به شي بللي پطرس[2] یا
43 بله ورځ دَ ګلیل نیت وکړ عیسیٰ
او فلپس یې بیاموند ولې وورته دا
44 ما پسي شه۔ دَ بیت صیدا فلپس وه
چه هم بشهر دَ اندریاس او دَ پطرس وه
45 او فلپس نهتن ایل وموند بیا
ورته یې وو دَ چا ذکر چه موسیٰ
په توراة کښ او نبیا نو کړي ونه
نو هم هغه کس اوس مونږ بیاموندنه

[1] اصلي عبراني نوم مَشِیحَ دي. او په یوناني کښ دَ هغه ترجمه خرِسطس دي او په انګریزي کښ CHRIST ورته وایي **مطلب مسیحه** لکه چه دَ یشعیا نبي کښ ۵۳ باب کښ **شوي دي.** وایي چه خُدای په صحیفه کښ داغي. خدای چه ما جدا کړي دي. خادم مسحه کړي دي او چُل دوح ګم پر ویلي به النان پنځ چه دَ هغه یه ستي.

دَ عیسیٰ خاصیت هم په دي نوم ښکاري. ولې چه یې له عیسیٰ کلمة الله بل څوک په دنیا کښ تیر شوي نه دي چه مسیح یا مسحه شوي ویلي کیږي.

[2] دَ حضرت پطرس خپل خانداني نوم شمعون ده. مګر عیسیٰ مسیح پطرس نوم ورکړي دي او دي چه مطلب په دي کا ټوکي دي چه ګیفا ویلي کیږي. او دَ مسیح مطلب دا دي چه مضبوط والي

هغه دي د یوسف ځوی عیسیٰ ناصري [١]
46 نهتن ایل ورته بیا وِو سرسري
څه ښه څیز له ناصرت ختلي شینه؟
فلپس وِو راشه ګوره له یقینه
47 په راتلو چه نهتن ایل ولید عیسیٰ
د هغه په حق عیسیٰ وویل دا
وګوري دي رښتین دي اسرائیلي
چه په کښ نشته په هیڅ قِسم تګي
48 نهتن ایل وِ پیژني ما له کوم خوا
په جواب کښ ورته وویل عیسیٰ
چه فلپس ته وبللي له هغي وړاندِ
لا ولاړ وي د انځیر د بوټي لاندِ
49 ما ته هلته ولیدلي ای ممتازه
نهتن ایل جواب کښ وویل اُستاذه
ته د خدای ځوی یې پادشاه د اسرائیل
50 عیسیٰ وِو نهتن ایل ته په تعجیل

١ له
کلمة الله عیسیٰ ته ناصري
ځکه وایي چه هغه د
ملک د ګلیلي او د ... کښې
عمر یې په ناصرت کښې
تیر شوی وو. او ناصرت په هغه زمانه
کښې د فلسطین د ښار ضلع
دي. او د مختلف حاکمانو نه
وو. او عیسیٰ مسیح د نبوت په
موافق په بیت لحم کښې
پیدا شو یعنې د حضرت
داود علیه السلام په ښار کښې
چه دا ... وه او هغه د

په
او اخر یې د خاندان د بخت حاکم
و هغه ضلع کښې بدینبود له
اختیار کړه. هغوی په ناصرت کښې بنزاری استوګنه
ناصرت نه یادیږي. ځکه
نهتن ایل یقین نه کاوه. چه
له دي ښې نه به هیڅ راځي.

١٨
په حضرت
مختلف ابل عيسیٰ ته
د خدايي څوځي وايي
صحيح هم يو بل نجم د قرآن
د باره بنايي. يعني هغه نجم
کښې چه د دانيال نبي په صحيفه
ابن الله شکله ورته وايي. ابن ادم. هلته چه
په خدايي ذات کښې دي
او دلته ابن ادمؑ په دي
وجهي ورته وايي. چه د انسان
په ذات کښې دي.
دلته صاف ښکاره دي چه
په عیسیٰ کلمة الله کښې يو پټ راز
دي. يعني چه هغه په دواړه و
ذاتونو کښې شامل دي. هغه بني ادم
اول اول د خدايي په ذات
پوهيږي. او وړيږي د جل ذات ته
په راز نه پوهيږي. نو ځکه خود د
عیسیٰ مسیح د ذات په راز نه پوهيږي.
مګر چه خدايي تعالیٰ په مختلفو
بڼو نو نو د لبنو او

٢٣
کرامانو انسان له خبرولو
لري چه د رازو نشته
هيڅ ژوي دي چه
د انسان لارښود دي په
عيبي وکوي

په دي وجهي چه مِ دا خبري وکړلي
چه اينځر دَ بوټي لاندِ مِ ليدلي
تا په دي باندِ ايمان راوړ ځهٔ وايه
لوي کارونه به له دي وينيا له وړايه
51 ورته ئې بيا وِ رښتيا وايم دا زمان
چه په تاسو لري شوي وينئ اسمان
هم به وينئ ملائک پاس په ختون
او په ابنؑ ادم بيا په کوزيدون

دويم باب

1 بيا په دريمه ورځ واده وه په قانا
دَ کليل کښې. مور وَه هلته دَ عيسیٰ
2 عيسیٰ هم ئې مريدان ملمانه وُ نه
3 په ځه وخت کښې چه شراب بيا تمام شُونه

ك ځنې ښځې خلق چه تر لیونیانو ته دي. او دَ نورو وطنونو چه هیڅ دَ دستور دا رواج ته چه اکثر دلته وایي چه عیسیٰ کلمة الله په سبب لفظا دَ ځینې مور یې عزت وکړ او هغوی دا کښې ... په ملک کښې دَ خلقو او دَ ژبې په مطابق دستور او رواج ...

... عیسیٰ ... صحبت ... مور ... وخت ... خیال ... چه ...

او بیان یې ای ښځې مریم ته یو مرید وو ستا مور ده. موقعه کښې ستا ښځې دي. ممکنه ده چه دَ ښځې هم ځای خیال لفظ استعمال ښې. ځکه دَ پښتنو دستور هغه نه استعمالیږي خو هغه زمانې په مطابق لفظ وو. دَ عزت

د عیسیٰ مور دَه ته وَوِ په شتاب
وکوره دوي څخه نشته نور شراب
4 عیسیٰ ویل ای ښځې[ك] څما ستا
څه دي؟ نه دي لا راغلي وقت څما
5 مورئې پوهٔ کړل تمام خدمتګاران
چه څه دي دايي کويُ هم هغه شان
6 هغه ځای کښې دَ یهودیانو دَ پاکیدو
دَ دستور په موافق دَ کاڼو وسرو
شپږ چاټي وي هر یوي کښې په راتلو
دوه یا دري منه راتلي نوري او به
7 عیسیٰ وِ داځمان ډک کړيُ لبالب
زر هغوي تر مور کوډک کړل په ادب

٨ بیائې وِ ورته چه و باسئ ترا اوس
یوسئ. هلته یوړل دوي تر میرِ مجلس
٩ میرِ مجلس چه څه وقت وڅکهٔ دا اب
چه تري اوس جوړ شوئ وه پوره شراب
پوه نه وه چه له کومه ځائې نه راغلل
ولیکن خدمتګاران پرې پوهیدل
دَ وادهٔ زلمي ته دهٔ وکړ آواز
هسې رنګ یې ورته ووِ په مجاز
١٠ هر یو کس اول بهتر شراب راوړي
او ناقص هاله چه وڅښي تول سړي

دلیکن عجیبه کار دِ وکړه دا
چه بهتر شراب ساتلي دي لا تر
11 دَ عیسیٰ دَ معجزات دا شروع وه
او لویئ خپله قانا کښې ښکاره کړه
مریدانو پر هم راوړلو ایمان
12 پس له دې دَ هغه مور او وروڼه مریدان
ښکته شو کفرناحوم وته روان
لږ ورځي پاتي شو هلته هغان
13 دَ یهود نژدې دَ فسح اختر وه
عیسیٰ بیت المقدس وته لاړ شو
14 بیت الله کښې يې ولیدل هغه ...ان
دَ غواوُ، ګډو او کونترو تاجران
هم طائفه دَ صرافانو يې وموندل له
15 نور دَ پړ دکړو يې جوړه کړه

13 په یهودیانو کښې لوئ اختر هم هغه فسح [illegible] ... هغه وقت [illegible] ... خلاص [illegible] ... هغوی [illegible] ... دَ عیسیٰ [illegible] ... خلاصون [illegible]

خلاصون جاري کړه

بيتُ الله نه ئي هغه ټول وشړل
يعني ګډې او غويان ئي و ويستل
او پيسي ئي دَ صرافانو نس کړلي
او تښتي ئي دَ هغوي ټولي وار وُلي
۱۶ کونترمارو ته ئي وَوِ هغه دم
له دي ځايه کړئ دا لري مقدم
دا ځما دَ پلار کور دي دَ جلالت
تاسو مه جوړ وئ ځاي دَ تجارت
۱۷ مريدانو ته ئي ياد شو چه ليک دينه
چه ستا دَ کور غيرت به م وخوړينه
۱۸ يهوديانو په جواب عيسیٰ ته وِوي
کوم نښه مونږ ته ته ښکاره کوي
چه ته دا کارونه کړي په ځپل اتکل
۱۹ په جواب کښې عيسیٰ دوئ ته وويل

(ل) د بني اسرائيلو په مذهب کښې مختلف قسم قربانۍ پکار ديدل او چه خلق له لري ځايونو نه بيت المقدس ته راتلل هغوي ځان سره د قربانۍ د پاره ځاروي يانور اسباب نه شو راوړی. نو ځکه دا دستور دی وه چه د بيت الله سره په غوجل کښې به سوداګران ناست وو ولي چه ځای لوی وه-نو هلته به ئي چاروي کونتري وغيره څرڅول- مګر اصلي شريعت د قرباني د خشادو د پاره ديږ سخت وه چه داسي ئي د اغه ادبي عيبه ځيز پکارديده. چه په هغه ځای نقص به په کښې نه وه. بلکي د ازمينت د پاره هم وقت مقرر شوي وه-چه که عيب په کښې وي نو هغه به

۲۸

ښکاري دي وه. مګر د سوداګرانو له لاسه هغه شريعت رد شه ولي چه هغوي د خپلې ګټي د پاره ناست وو. او عيب به ئي نه ښودلو. هم هغه شان صرافانو به د نورو ملکونو پيسي بدلولي او د خلقو نقصان به ئي کاوه او اصلي مقصد د شريعت برباد شه او دا وجه ده چه د عيسیٰ کلمة الله زړه د غيرت و خوړه او ټول ئي د بيت الله له غوبې نه بهر وشړل.

تاسو دا بیت الله وران کړئ په درې دم
په درېو ورځو کښې به ئې زه بیا ودروم
٢٠ یهودیانو ورته وویل له قاله
په تیارې، ئې تیر شو شپږ او څلویښت کاله
دا چه هسې رنګه کاندِ دعوې ته
په درې ورځو کښې به ودروې ته څه
٢١ خو هغه په بیت الله دَ وجود خپل
په بابت دا کلام وکړه مکمل
٢٢ څکه څه وخت چه له مړو پورته کړې شه
مریدانو ته ئې دا کلام یاد شه
په کلام دَ پاک کتاب په هغه حین
دَ عیسیٰ په قول ئې وکړلو یقین
23 بیا اختر چه خاص دَ فسح شروع شه
نو د عیسیٰ په بیت المقدس کښې وه

٤ په انجیل شریف کښې دغه خبره راغلې دي
چه صرف هغه خلق نښه لیدل غواړي چه پخپله بې ایمان دي
او عیسیٰ کلمة الله هم دا جواب ورکوي
چه یوه نښه به ورته ورکړې شي چه یونس
دَ راسي به عیسیٰ صلعم دَ کیب په مېلاده کښې
ورځې او شپې (متي ١٢ باب ٤٠) یعنې دا دَ
مړو څخه اود بیا راژوندي کېدلو اشاره ده.

عیسیٰ صلعم کیدلو اشاره ده.
او هم دلته چه هغوي له
په تمثیلي طور بیا دَ خپل مرګ او
بیا ژوندي کیدلو په حق کښې اشاره
ورکوي. مګر دا نښه دَ ایمان راوړونکو
دَ پاره ده. او نور خلق هغه نه
انکار کوي. او حقیقت هم دا دي.
چه که څوک په هغه نښه یقین نه کوي
چه عیسیٰ صلعم پخپله ښایي. نو هغه کسی
په انجیل شریف کښې نښان سره دَ عیسیٰ
کلمة الله په اصلیت
پوهیدي نه
شي.

چه دَ هغه نښې يې وليدې عيان
ډيرو خلقو په هغه راوړ ايمان
24 خو عيسیٰ پر اعتبار نه کاوه يوځل
وجهه دا وه چه هغه ټول پيژندل
25 او حاجت يې نه لره چه څوک انسان
دَ انسان په حق شاهدي ورکړي څه شان
سبب دا وه چه هغه ښخپله پوهيده
چه په زړه د بني آدم کښې دي څه څه

عیسیٰ[1] کلمة الله یې کار هم کړي
په طور دَ نښې نه دي کړي
مګر چه خلقو دَ هغه زور او د کار وه
ولیدل نو هغوی ښخپله په طور
دَ نښو ګڼل او خلګ یې پېژني
یقین وکړ. مګر عیسیٰ مسیح په
نښه چه ګوم یقین یا ایمان چه په
نښو په زور او د کار و نو یا یه
معجزو څرګندین دي هغه ډبنتني
او اصلي نه دي نو هغه پوه دي
چه دَ تعلیم په بنیاد لګېدلي نه دي.
او دا وجه ده چه دالله عیسیٰ
مسیح دَ خلقو ایمان هیڅ ایمان
نه ګڼېږي. ولې چه خلقو صرف
تماشه ګڼله او دَ هغوی په واه
واه بابل. عیسیٰ کلمة الله غلط
نه شته. هغه ته معلومه وه چه
دَ تعلیم په وجهي به هم دا خلق
ګمانه انکار وکړي. او ځکښې پېښه
ښیېږم باب کښې چرته چه کلمة
الله دَ خپل ځان په

حق کښې تعلیم ورکوي.
هلته معلوم ېږي چه دَ عیسیٰ
مسیح خبره دالته بالکل دریسته ده.
ولې چه خلقو هلته تنګ وګړ
او وي او چه دا خبري سختې
دي یې څوک اورېدی یې. او
دَ عیسیٰ مسیح شاګردي هم
نه ګوله. او ډېر کسان پرېدي چه
دا حال دي. ډېر کسان اوس شته چه
په قسم قسم دَ عیسیٰ مسیح زور او د
کار و نه او نېکۍ او معجزي منلي او
څکه هم دَ خپل خیال مطابق دَ عیسیٰ
هغه عزت کوي. مګر هغوي دَ عیسیٰ
مسیح دَ اصلي پیغام نه انکار کوي پاکې
ښنالګ خوري. په دي ورته نه سبب
حقیقت دَ خدای تعالیٰ اصلي مقصد په رسیږي
او دَ حق تعالیٰ هغوی نه نېکاري. په عیسیٰ
مسیح کښې وجهه صرف دا ده چه وو. او
واره دي. او بکار دي په تیاشې
چه دَ هغه پکار دي. دَ طور دَ نجات
خبري دَ خپل ځان دَ پاره
واوری.

دریم باب

سله فریسیان په یهودیانو کښ یوه فرقه وه . هغه عیسیٰ مسیح د زمانی نه قریباً ۲۰۰ کاله وړنبي جوړه شوي وه . مګر د مسیح په وقت کښ قریباً شپږ زره وُو . په هغه زمانه کښ د یونانیانو زور په ټولي دنیا کښ زیاتیده . رسم او رواج د هغوي هم په نورو خلقو کښ تاثیر کاوه . په یهودیانو کښ بعضي خلق د دی خبري مخالفان وُو . او ځان ئي له نورو نه جدا کړ . او **فریسي** نوم ئي په ځان کیښود چه په عبراني ژبه کښ هم دا مطلب لري . یعني **جدا شوي** . نو اوس په هغوي کښ دا تعلیم جاري شه چه سره د موسوي شریعت خدائي هم زباني پوره تفسیر یا بیان موسیٰ علیه السلام ته ښولي وه . نو د تفسیر پابندي داسي لازمه شوه لکه چه د شریعت پابندي وه . بیا هغه پسی د علماوُ د خاص

تعلیم وه او
پابندي د ملایانو د تقلید
زیږ پابندي لازمه وه ·
په دي شان سره اصلي
شریعه په لږه شته · او
انساني خلقو حکمونو له د
خلقو په ظاهري حلال او حرام
هیڅ شي · درانه
پاک او ناپاک کې هم
نعدي حس وتیسوع
چه اخر خپل قوم سره
هو وه ي نه شول
خو کې
فریسیانو دومره
ستیغي سره له نو هم
خپل شان لوید نیم
من هبیان جنګو · او په هر
ح تي موقع کښ به ني

۳۱

فریسیانو کښ یو کس وه نیک نفس چه په نوم دي یادیده نیکدیمس

ځان ښنو لو · په بازار
کښي به ئي د خلقو په مخکښې
چل نمونځ کولو · تسبیح به ئي او ولي
تعویذونه به ئي ځان له عنت عنت
جوړه ول خیرات به ئي د خلقو د لیدلو
د پاره کاوه · یعني ټول مذهب د
هغوي صورتي وه او د خلقو په واه واه
به ئي ډیر خوشحالیدل · او چه عام خلق اکثر
د صورت په موافق فیصله کوي · نو
د فریسیانو ډیر تعدد عزت او اختیار
وه او چه په هغوي کښي ډیر عالمان
هم وُو · نو د بادشاه په دربار کښي
د هغوي اثر کافي وه ·
له انجیل شریف نه معلومیږي
چه هم هغه خاص من هبیان د
عیسیٰ کلمة الله سخت دښمنان وو
او اخر د دوي په اثر او کوشش
سره عیسیٰ مسیح السلام ته وسپارل
شه · او په سوال د شته · اوس
سوال دا دي چه دي خاص
من هبیانو ولي
کلمة الله

سره دښمني کوله ؟ وجهه دا وه چه عیسیٰ مسیح د هغوي په نقلیت پوه شه او هر وقت به ئي د هغوي د صورتي مذهب تردید کاوه . د فریسیانو دا خیال وه چه انسان د شریعت د پوره کولو په کوشش خدائ راضي کولي شي . او څکه د خدائي په مخکښ خاطرجمع او دریدي شي . مګر د عیسیٰ کلمة الله دا تعلیم دي چه داسی کس په هیڅ شان سره صادق کیدي نه شي بلکي عنت ګناهکار دي . (لوقا ۱۸ باب ۱۰ تر ۱۴ ایت وګوره) مګر رښتني مذهبي هغه دي چه اګر که نیک سړي وي خو د خدائي په مخکښ خپله نیکي ناڅیز ګڼړي او هر څه د خدائي په رحم وغورځوي او د رحم لاد په دي انجیل شریف کښ صفا صفا ښکاري .

یهودیانو کښې[1] هغه هم مشرو نه
2 یوه شپه هغه عیسیٰ له ورغلو نه
ورته یې وِ موږ پوهیږُو له اغاز
چه دَ رب له لوري نه راغلي اُستاذ
هغه نبی[2] چه نه بنایي نو هیچا
ښولي نه شوي که یې مل نه وي مولا
3 عیسیٰ وَوِ په جواب وایم رښتیا
چه ترڅو دوباره څوک نه شي پیدا
لیدي نه شي بادشاهی هغه دَ رب
4 نیکدیمس ورته وَوِ په ادب
چه سړي زوړ وي څه رنګ پیدا کیدي شي
دویم ځل دَ مور په نوس ننوتي شي
چه هغه په دوباره پیدا شي بیا؟
5 عیسیٰ وُوِ په جواب وایم رښتیا

ل۱ سړه دَ دي چه په عام طور فریسیان داسي خلق وُ چه رښتني مذهب دَ دوي له لاسي په ټغل بدل شه پاتم. په هغوي کښي بعضي بعضي کسان وُ چه په رښتیا سره دَ حق متلاشیان وُ. مثلاً حضرت پولس چه خلاف ئې خاص دَ غیر یهودیانو په باره معتقد کړي ؤ هم فریسي وه او نیکدیمس هم دَ یهودیانو په لویه جرګه کښې SANHEDRIN ممبر وه هغه هم دَ عیسیٰ مسیح دَ مرګ په موقعه کښې موجود وه. او خدمت ئې کاوه

ل۲ نیکدیمس هم په دي خیال عیسیٰ مسیح له راغلي چه هغه زورور دي نبي وګڼي خو کلمة الله دا حقیري واخستي او په بل طرف ئې

بوټي. ولي چه عیسیٰ مسیح ځاي په ځاي وُ چه ځان په نبوي نه ثابتوم. ولي چه ایمان راوړل پوښتنم نوي ژوندون دي او دَ مثال په طور دنیاوي پیدایښت یاد یږي. یعني دَ زړه او دَ خیال او دَ نیت او دَ عمل او دَ اخلاق تبدیلي ایمان په وجهي راځي او دا تبدیلي هیچري په انسان کښې نه راځي. تش په معجزو یقین کیدي.

چه له روح او له اوبو څوک پیدا نهٔ شي
دَ خدائ په بادشاهت کښ به رانهٔ شي
6 له جُسي چه څه پیدا شي نو جسه ده
چه له روح نه پیدا شي دَ روح میوه ده
7 حیران مه شهَ چه ما تا ته وویل
چه ضرور دي تا له بیا پیدا کیدل
8 باد هر خوا وته چه غواړي الوزي
ته يې اواز اوري چه الوزی راځي
خبر نه يې له کوم خوا راځي چرته ځي
هم په دغه شان له روح پیدا شوي دي
9 نیکدیمس ورته وِ په جواب
دا خبري کیدي څنګه شي جناب؟
10 عیسیٰ وِ ته يې استاذ دَ اسرائیل
بیا څه؟ نهٔ پوهیږي څما په صاف دلیل؟

ف ۵ عیسیٰ مسیح هغه نوي پیدا شوي [illegible] موقوف دي [illegible] روح القدس سره [illegible] دَ اوبو ذکر دَ بپتیسمه اشارت دي. [illegible] کلیسیا کښ بپتیسمه یو نشان [illegible] یهودیانو کښ سنت نشان وو. ایمان [illegible] بپتیسمه اخلي [illegible]

هم هغه شان روحاني یا نوي پیدا ښت دَ روح القدس په وجه دي.
ف ۸ دَ باد مثال دا مطلب لري. چه څوک دا خیال ونه کړي چه دا نوي پیدا ښت داسي دي. چه موږ پرې پوهه نه کیږو [illegible] په منطقي طور هغه ثابت کړو. بلکه لکه چه باد پخپله عجیب دي خو اثر يې ښکاري هم دغه شان نوي پیدا ښت په انسان کښ اثر کوي او هغه دَ روح په وجه پخپله محسوس کوي.

(۱) پوره قصه د دي مار په حق کښي په تورات شریف کښي ۲۱ باب لیکلي ده. د گڼتي کښي لیکلي دا ده. چه بني اسرائیل په ځنگل کښي وو. نو ماران په خلقو حمله وکړله او بي شماره خلق مړه کړل. بیا خدای موسیٰ علیه السلام له حکم ورکړ چه د ځیړو مار جوړه کړه او اوچت یې په لرگي ځوړند کړه. او هر څوک چه خلق چه مارانو چیچلي وو او هغه مار ته کتلي وو هغه به ژوندي شو. او هغه مار ته سترگي پوره نه وه. او دسیي او پاس مار ته سترگي پوره کړي. هغه به روغ شي. او س په تورات شریف کښ او پیدایښت کتاب لیکلي دي چه د مار په وسیلي گناه اول اول په انسان کښي جاري شوه. او له هغه وخت نه مار د گناه تمثیل یا مثال دي. نو خداي په ځنگل کښ دا عجیبه کار وکړ چه هم د مار شکل یې

د مار د زهر د بچیکیږو د پاره مقرر کړ. او چه عیسیٰ مسیح هم دغه دا قصه راخیستي او د گناه د پاره مثال جوړ کړي نو معنی دا ده چه عیسیٰ کلمة الله مصلوب شي. لکه نو د گناه په طور وړ نه دي. چه مسیح څوک چه حضرت پولس وایي چه گناه د پاره گناه شه. چه هغه سورلئي ته د جیچلي انسان د هغه نور وړي نو د گناه ایمان به سترگي نه لیږي او وسي. هغوی ژوندون طاقت به انسان د هر مرگ ... ته ورکړي.

11 ربښتیا وایم چه څه معلوم دي هغه وایو
چه څه مونږ لیدلي دي شاهدي یې نیایو
او دا شهادت مو نه کړ قبول بیا
12 که ما د زمکي کلام وکړ او هیڅ‌یا
یقین ونه کړ. څوک به وکړي یقین
که خبري د اسمان وکړم یو حین
13 هیڅوک کس نه دي ختلي تر اسمان
بي له هغه چه تري راکوز شه په جهان
چه اسمان کښ دي یعني ابن آدم
14 په څه رنگه چه موسیٰ نبي یو دم
ولاړ ځنگل کښ مار (۱) په لرگي خېژولي
ضرور دي چه هسي شان یو ځل غاغلي
15 اوچت وخېژولي شي ابن آدم
دي د پاره هر څوک چه پر هغه دم

او په هغه مصلوب شوي راوړي ایمان
بیا مومي هغه ژوندون دَ جاودان
16 ولې چه خدای دي دنیا سره داسي
مینه وکړله چه خپل یواځي ځوي یې ورکړه
چه هر څوک چه پر ایمان راوړي هلاک
نه شي مګر دَ همیشه ژوندون وړي
17 ولې چه خدای خپل ځوي دي دنیا ته
نه دي ځکه رالیږلي چه یو خوا ته
دا دنیا کاندِ مجرمه په قانون
بلکي بیا مومي له ده څني خلاصون
18 چه پر څوک راوړي ایمان نه شي مجرم
چه څوک نه راوړي نو اوس مجرم دي هم

سبب دا چه دَ خدايُ دَځوي په نوم
دهٔ ایمان نهٔ دي راوړي شهٔ مغموم
او دَ مجرم کیدو خاص سبب دي دا ١٩
چه رڼا په دنیا راغله خو دنیا
له تیاري محبت وکړ بي حساب
وجهه دا ده چه کارونه يُ دوُ خراب
ولي هرڅوک چه بدي کړي هغه بیا ٢٠
له رڼا سره کینه کړي - سبب دا
هسي نهٔ چه يُ هر کار ملامت شي
ولیکن چه څوک په حق عمل کوي ٢١
دي رڼا وته راځي چه يُ هر کار
شي ښکاره چه په خدايُ کښ شهٔ اظهار
پس له دي عیسیٰ او هم يُ مریدان ٢٢
یهودیه وطن ته راغلل خرامان
هلته کښ هغوي سره يُ ډیره وکړله
بپتسمه يُ هم هغهٔ ځائ کښ ورکوله

23 په عینون کښ چه شالیم ته دي نژدي
یحیی هم ورکړله چه اوبه ډیري وي
راتلل بپتسمي له هم بیحد انسان
24 څو یحیی قید شوي نهٔ وه تردي زمان
25 مریدانو دَ یحیی یو یهودي
سره بحث په طهارت جوړکړ دستي
26 هغوي ورغلل یحیی ته ئې په گفتن
وِ استاذَ. هغه سړي چه له یردَن
پوري غاړه تاسره وه او چه تا
دَ هغهٔ گواهي وکړه په رښتیا
گوره هغه اوس بپتسمه ورکوي
تمامي خلق هغهٔ لره ورځي
27 یحیی وُو په جواب کښ چه انسان
هیڅ موندلي نهٔ شي څو چه له آسمان
28 ورکړي نهٔ شي. تاسو ټول ئې شاهدان
چه ما ویلي وُو مسیح نهٔ یم په ځان

مګر بیا دَ هغه دَ وړاندِ په دا حین
29 رالیږلي شوي یم نهٔ په یقین
چه دَ چا ناوي وِي هغه دَ واده
خاص زلمي دي وِلیکن چه دوست دَده
چه ولاړ وِي دَ هغهٔ اورِي هغه
د زلمي په اواز ډیر ښاد وِي ښکاره
دا ښادِي څما پوره شوه په دي دم
30 ضرُور دِي چه هغه زیات شِي او زهٔ کم
31 چه له پاس نه څوک راځِي له ټولو پاس دي
چه له زمکِي نه څوک دي دَ زمکي خاص دي
او خبرِي هم دَ زمِکي هغه کړي
له اسمانَ چه څوک راځِي هغه پاس وِي
32 چه هر څنګه یې ولیدل او واوریدل
شهادت کوِي دَ هغي مکمل
خو هیڅوک دَ هغهٔ شاهدي نهٔ قبلوِي
33 او چه څوک دَ هغهٔ دا شاهدي مني .

له په دي خاتمه کښ مطلب دا دي چه انسان دنیاوي دي او څکه دَ اسمان په خبرو شاهدي نه شي ورکولی ولي چه هغه اسمان ته نه ځي او نه دي چه دَ هغه ځایه حال ووینِي. او هغه که حضرت عیسی لوی کامل پیغمبر وه خو بیا دَ نورو پیغمبرانو له دي دنیا وه په شان

حکم هغه کس چه له خدایه نه وي او دنیا نه راځي هغه شاهدي دَ ورکولی او شاهدي دي هغه دَ رښتیا ده هم یې خو دَ عیسی مسیح او دَ نورو خاص فرق معلومیږي.

هغه مهر ولګوه په دي کلام
چه خدایُ تعالیٰ دي رښتني مدام
34 ځکه ځوک چه پاک خدایُ دي رالیږلي
هغه دَ خدایُ خبري کوي ښکلي
هغه روح په اندازه نهُ ورکوي
35 پلار له ځوي سره بیشکه مینه لري
کل اشیایُ دَ هغهُ په لاس ورکړي دي
36 بیا هغه ځوک چه په ځوي ایمان راوړي
هم هغه دَ همیشه ژوندون لري
ولیکن بیا چه یُ ځوک ځوي نه مني
وبه نهُ ویني ژوندون بلکه دَ رب
نور په هغه باندِ پاتي شه غضب[۱]

ځلورم باب

چه معلومه شوه مالک ته څه وقت دا
فریسیانو واوریُدل دا چه عیسیٰ

مریدان خپل له یحییٰ نه زیاتوي
بپتسمه وله هم په وخت ورکوي
۲ که عیسیٰ خود بپتسمه نهٔ ورکوله
مریدانو ته ئې بلکې وسپار له
۳ لاړ ګلیل ته یهود به ئې پریښودله
۴ خو دا لازم په سامریه کښې تیریدله
۵ راغي نور په سامریه کښې تریوښار
چه په نوم هغه بللي شهٔ سوخار
هغه زمکې ته نژدې وه چه یعقوبؑ
وَه ورکړې تر یوسف ځوئې محبوب
۶ دَ یعقوب کوهي هم هغه ځائې کښې وه
نو عیسیٰ چه له سفر نه ستړې شهٔ
په کوهي باند نور هسې کښینا ستنه
قریباً شپږم ساعت هغه وقت وُنه
۷ دَ سامریّه یوه ښځه دَ اوبو
دَ ایستو دَ پاره راغلله رو رو

۳
د عیسیٰ مسیح
په زمانه کښې د فلسطین
یهودیه علاقې وې. او د
ګلیل په علاقې هم
کښې د سامریانو علاقه وه.
په اصلیت کښې سامریان
یو غیر خلق وه. چه دې ملت
ته په هغه زمانه کښې راغلي
وو. چه یهودیان په بابل کښې
مریبان وو. سامریانو د
موسیٰ علیه السلام

۴
تورېت منلو خو
د نبیانو صحیفې به نه
منلې. او خاص خپله ځای د عبادت
غرزیانو جوړه کړې وه. لیکن
یهودیانو به بیت المقدس کښې
بیت الله خاص ګڼل به.
عبادت کاوه او کال په کال به
بیت المقدس ته حج کاوه.
یهودیانو ځکه په سپک نظر
سامریانو ته کتل او هغوی به
هم ځان له یهودیانو
ساتنه.

عیسیٰ ور ته وُ وِ غوارم تا ته څښاک
٨ مریدان تلي وُو چه واخلي خوراک
٩ هغې ښځې ور ته وِ ـ ته یې یهودي
غواړې ما نه او به څنګه؟ یم ساموري
ولي چه یهودیانو هیڅ غرض سروکار
سامریانو سره نه لره په یو وار
١٠ په جواب کښې عیسیٰ وُ وِ له دهغه
که دَ پاک خدای پېژند لي تا بخښنه
هم پوهید لي چه هغه څوک دي لہ یقین
چه له تا نه او به غواړي به دي حین
تا بخپله به له هغهٔ او به غوښتلي
دَ ژوند ون او به به لې در ته درکولي
١١ ښځې وِ صاحبه دَ اِیستو دَ پاره
تا څخه هیڅ څیز هم نهٔ بشکاري آشکاره
او کوهي ژور دي نو دَ ژوندون آب
ته له کومه لري ـ پاته نه شوم په دې باب

12 ته زیات لوي یې څه څوښ له پلار یعقوب
چه لیٔ موښ له دا کوهی را کړه مرعوب
هغه خپله او ځامنو یُ هم یُ مال
13 به تر ښبلي. عیسیٰ وویل په قال
چه هر څوک له دي آب ښبی بیا تږي شي
14 مګر هر څوک چه له هغه اوبو ښبي
چه به یُ زه ورکوم هغه به تر تل
تږي نه شي بلکي کوم آب چه یو ځل
ورکوم زهٔ. په هغه کښ به چینه شي
چه دَ تل دَ ژوند دَ یاره به بکاره شي
15 ښځي وُوِ په جواب کښ ایُ صاحبه
ماله هغه او به را کړه عجائبه
چه زهٔ و ښبمه او بیا تږي نهٔ شم
نهٔ او بو ایستو لره دلته را ځم
16 عیسیٰ وُوِ په جواب کښ لاړه شهَ
خپل خاوند را وله بیا دلته راځهَ

17 ښځې زردا په جواب کښ وویل
خاوند نه لرم. عیسیٰ وفرمایل
ښه دِ وُوِ چه خاوند زه نه لرم
18 پنځه سړي کړي دِي تا دم په دم
چه چا اوس ساتلي یي خود هغه ستا
خاوند نه دي. دا دِ وویل رښتیا
19 ښځې وِ ما ته نبي ښکاریږي ته
20 پلار نیکه مُو عبادت کاوه په دي غرهٔ
تاسو وایئ چه بیت المقدس دي ځاي
چر ته چه عبادت ښایئ دَ خدئ
21 عیسيٰ وُوِ په خبره ته شما
اوس ایئ ښځې یقین وکړه په رښتیا
هغه وقت راځي چه نهٔ په دي غرهٔ باندِ
نهٔ په پاک ښار عبادت دَ پلار به کاندِ
22 څه چه نهٔ پیژنئ تاسوئ کړئ خدمت
مونږ چه څه پیژنو کړوئ عبادت

سـه یهودیانو به هر شان سره دمنلو چه خدائي حاضر الوردي. مګر په هغه زمانه کښې چه
خدائي دَ موسیٰ علیه السلام په وسیلې خلق دَ مصر نه خلاص کړل نو کوم وقت چه هغوی ځنګل ته
ووتل خدائي بیا دَ موسیٰ کلیم الله په ذریعه ورته وښول چه یو خاص تمبو جوړ کړي.
چه دَ عبادت ځائي شي. چه تمبو تیار شه نو خدائي په خاص طور خپل جلال په هغه
کښې نازل کړ. مګر چه بني اسرائیل فلسطین ته ورسیدل او قایم شو. نو دَ تمبو په
ځائي ئې پوخ مقام جوړ کړ او هغه دَ حضرت سُلیمان له لاسه تیار شه. بیا
هغه یو ځل دَ غیر اقوام دَ بادشاهانو له لاس نه ورانه شه. بیا خاص دَ مسیح په
زمانه کښې هیرودس بادشاه ډیر کوشش کاوه چه خلق په دي شان خوشحاله کړم

ولي چه له یهودیانو نه نجات دي
23 مګر هغه وقت راځي بلکي دا ساعت دي
چه رښتین عبادت کنړونکي به دَ پلار
عبادت په روح رښـتیا کوي هروار
وجهه دا ده چه پلار هم په هغه شان
عبادت کونکي غواړي هـر زمان

چه بیت الله لاړیږي او خاپسته ب
آباد کړم. ځکه معلومیږي.
چه دَ عبادت دَ خاص ځائي په حق
بحث کوم دی. او دا وجهه ده
چه هغه سامري ښځي یو

دې دا سوال پیش کړو د
ولې ځینې دَ سامریانو خلقو
ځان دَ پارهٔ عبادت
مقام جوړ
کړی دی؟

وه او هغوي به بیت المقدس ته نهٔ تلل. مګر دَ عیسیٰ کلمة الله جواب دا دي چه
دَ ورانئِ دَ پارهٔ به دَ عبادت خاص ځائي یا خاص صورت نهٔ وي. اوس به عبادت
تش په سیرت موقوف وي. غرض دا چه سامریانو به تش خپل خلق عبادت ته
پریښودل. او یهودیانو به هیڅ اله. بغیر له یهودیانو نه اجازت نه ورکاوه چه
په بیت الله کښې دننه لاړ شي. مګر چه عیسیٰ مسیح عالمګیر خلاصونکي دي. نو
عبادت بیا په خاص قوم کښې یا په ځائي کښې پاتې کیږي نهٔ ځکه مالک مسیح پخپله
دا وایي. چه اوس به عبادت عام شي. نهٔ په قوم او نهٔ په ځائي موقوف دي
هر چرته چه په حق او په روح سره کیږي هغه ځلئي ښه دي. او هم دا وجهه
ده چه په عیسایت کښې دَ عبادت دَ پارهٔ دَ قبلې بندیز نشته او نهٔ دَ یو ښهر
په بل فضیلت شته. مګر صرف دَ روح او دَ رښتیا شرط دي. چه دَ عبد او دَ
معبود په مینځ کښې دي.

24 نو خدائې روح دي او هر څوک چه غواړي
چه ئې عبادت وکړي دا پکار دي
چه ئې وکړي په روح او رښتیا سره
25 ښځي وُوِ ما ته دا معلومه ده
مسیح یعني خرستس راتلونکي دئ
چه راشي مونږ ته به ښایئ ټولي خبري
26 عیسیٰ ورته وِ زه چه تا سره کړم
خبري. نو زه هم هغه مسیح یم
27 په دي منځ کښې مریدان د ده راغلل
او دوي هم په دي خبره حیران شول
خو هیچا ورته وُ نه وِ څه غواړي ته
یا دي ښځي سره ولي کلام کړي ته
28 ښځي پریښود خپل منګي او ښهر ته لاړه
وئې ویل خلقو ته دا په هسکه غاړه
29 راشئ یو سړي وګورئ چه هر څه
چه ما کړي وو راته وښول ټول هغه

د عیسیٰ په هغه زمانه کښې چه ښځه
کتابونه مقدس وه. هغوی نوم
د اتلو په طبع کښې
شو. په بیخ قسم خیال
انتظار کاوه او

٤٥

پوره دي
ځکه هغه خیال. چه
مشتبه په ځای په
غیر. هغه بل شان
لسلم د تقسیم سامریانو
اقوامو کښې حل
بیان د اول د اتلو کښې
مستقل وه. هغوی هم
د پیښه په ثابت د
تفسیر کښې پوره

په دي
مثال کښې د ما لک
عیسیٰ مسیح مطلب دا دي
چه د دوه پیری مو دي نه
د دنیا خوا او د پیغمبرانو
په وسیلې د دنیا د
خلاص ونې پیغام خو
هغوی چه. او خلق هم
تیار وو. او په انتظار
کښې وو. بلکې تر دي
حلقه ده پوري چه هغه
انتظار هم په غیر قومونو
کښې موجود ووه. په
چه دلته بنګاریږي. او هم
په دولسم باب کښې چرته چه
یونانیان راځي. او د عیسیٰ مسیح
بیتوس لیږي. بلکې د عیسایت له
شروع نه او تر دي وقت پوري
هم دا مثال د بښتني ګیږیږي. یعني
چه پیر کس ګیږي او بل دیبیږي.
دیبي چه عیسایت تر اوس هم
په دو جهي خپریږي. چه د ایمان
ځه ګلسان

د زمکې په تیارولو او عمر
تیرکوي. او د هغوی په ژوندیوب
کښې چه د اسرائیلو هیڅ نه ګیږي بلکې بعد
خلق وایږي چه عملي فضول تیر ته
هم په دوئیم لیږیت کښې هم هغه
د کلام پخم لوي شي. او دا ني
نیسي او نور خلق ایمان راوړي. میر
هغه شان یو سړي او بل ایږي. و بل
په اصلیت کښې دواړه یو دي
چه نه یو کونبي دښمنان د پاره ګړي او نه
دوستانو د پاره ګړي

نو څنګه دغه هغه مسیح نهُ وِي؟

30 وو تل له ښهر وله ور تلل هغوي

31 په دي مینځ کښں مریدانو وکړ سوال

اي استاذه تهُ څه وخوره دم ور حال

32 خو هغوي ته يُ ووِيل چه ما څخه

دَ خوړلو دَ پاره هسي خوراک شته

چه يُ نه پیژنيُ تاسو له یو څله

33 څکه وُوِ مریدانو یو تر بله

چا راوړي دي خوراک هغهٌ له څهُ

34 په جواب کښں ورته ووِیل هغهُ

دا خوراک مِ دي چه چا راستولي یم

دَ هغهُ مرضِي دَ هغهُ کار پوره کړم

35 تاسو نهُ وایيُ چه اوس میاشتی څلور

پاتي دِي څه؟ پس به لوُکړ شِي فی الفور

ګوري زهٔ تاسو ته وایم په رښتیا
خپلې سترګې پورته کړئ پټو ته هر خوا
وګورئ دَ لو دَ پاره دي اوس تیار
36 او لوګري مزدوري اخلي دَ کار
دَ همیش دَ ژوندون دَ پاره ترمیوه
ټولوي ښه عجیبه کره وره
چه کرونکي او ریبونکي خوشحالي
37 یو ځاي وکړي. دلته دا متل راځي
38 یو کري او بل ئي ریبي. تاسو ما
ولیږئ چه هغه ریبئ صفا
چه پر تاسو نهٔ ده کړي څه خواري
خو خواري ده نورو کړي حقیقي
خو دَ هغوي خوارئ کښ تاسو شریک یئ
او دَ هغوي په بنا دې کښ داخل شوئ
39 دَ دې ښهر ډیر سامریانو په هغهٔ
دَ دې ښځې په سبب ایمان راوړهٔ

[illegible]

چه هغې شاهدي ورکړه هغه شان
چه څه ما کړي وو ما ته يې کړه بيان
بيا سامريان چه ورغلل وې کړ ترسوال 40
ورته يې وې مونږ څخه پاتې شه في الحال
وې کړه دوه ورځې هغوی څخه قيام
نور ډېر و خلقو هم يې دَ کلام 41
په سبب سره په هغه راوړ ايمان
او هغې ښځې ته يې دوې هسې شان 42
مونږه اوس ستا دَ خبر په وسيلي
ايمان نه راوړو. مونږ خپله داوريدي
او هم مونږه يوه شوي يو په دې شان
چه بيشک هغه خلاصون دې دَ جهان

[illegible]

43 پس له دوؤ ورځو نه شهٔ روان عیسیٰ
او په خپل نیت ګلیل ته لاړ شهٔ بیا
44 ولي چه ځپله ئې ئې ورکړ شهادت
چه خپل مُلک کښ نبي نه لري عزت
45 هرکله چه هغه راغي تر ګلیل
ګلیلیانو دي قبول کړ بې تعجیل
ولي چه بیت المقدس کښ هر څه
چه په اختر کښ کړي وُو هم هغهٔ
هغوي هغه لتول کارونه ولیدل
څکه چه دوي به اختر لره تلل
46 بیا هغه ګلیل کښ راغي تر قانا
چه ئې جوړ کړي له اوبو وُو مي ځوا
هلته کښ دَ بادشاه یو ملازم وُنه
چه ئې ځوي کَفَرنحوم کښ ناروغ وُنه
47 چه دهٔ واوریدل عیسیٰ له یهودي
اوس ګلیل ته دي راغلي ودغي

عرض ئې وکړ ښکته راشه څما زوئ
جوړ کړه ولې چه مړ کیږي قریب دي
عیسیٰ وِ که تاسو نخښې لوي کارونه 48
وَنه وینئ نو هیچرې له مضمونه
ایمان نه راوړئ. عرض وکړلو امیر 49
اي صاحبه ښکته راشه بې تاخیر
هسي نه چه څوئ مِ مړ شي په دي میان کښ 50
عیسیٰ ورکړ دا جواب په هغه آن کښ
څه ته لاړ شه بیرته څوئ ژوندي دي ستا
هغه کس نور په خبره دَ عیسیٰ
وکړ بنه کامل یقین. بیرته لاړ شه 51
مګر هغه لا په ښکته کوزېده نه
نوکران دَه لره مخې له راغلل
ستا هلک ژوندي دي دَه ته ئې وویل 52
دَه تپوس وکړ کوم وقت ئې بنه شه حال
هغوي وویل پرون. بلند اقبال

لا
په دي ځای کښې عیسیٰ مسیح
هغه خلق ملامت کړي دي د معجزاتو چه
ایمان نه لري. مګر تماشګیر دي. او چه عیسیٰ
کلمة الله ده ملازم مال د په زړه سوځانه کړي دي او د
[illegible] کړي. یعني د ده بیو عجیبه طریقي
فصله وکړه. او چه قریبا د اکثر نجوم
لیتش په ځای عیسیٰ میله کلام مسیح

۵۰
د ملازم شوي جوړه
[illegible] نو دا ممکنه خبره ده
هیڅ دي خلقو کښې داسې اثرات
هم وه د پاره د اثه میله سخت وي
د دي چه د چه. عیسیٰ کلمة الله
دوینئ. شه د اثراړ. بوره نه شه
کلام بوره نښانات سره هغه بیه بو
طرف د ایمانانو کس مل د ده
ب طرف د خلقو هیڅ
او په ځای د پاره
فائیدي نښانتي
وه شه.

په اووم ساعت کښ تبې پریښوده
33 پلار ئې پوه شه چه دا هم هغه وقت وه
چه عیسیٰ ورته وئې ژوندې دې ستا دا ان
نو هم ده هم ئې ټول کور داوړ ایمان
34 دا بیا ده دویمه نخښنه بنه صفا
چه هغه وقت کړې وه مسیح عیسیٰ
چه هغه له یهودیه نه شه روان
او په تلو کښ راغې تر ګلیل کوم ان

پنځم باب

1 پس له دې د یهودیانو اختروه
عیسیٰ بیت المقدس و ته لار شه

2 یو تالاو په بیت المقدس کښې دِي
دَ ګډو دروازې څنګه نژدې دِي
عبراني کښې بیت حسدا بللي شِي
او دَ هغې تالاوُ پنځه منډوه دِي
3 چه په کښې ګڼ رنځوران یعني راندهٔ
ګډ اوشل هم په نورقسم ووُ پراته
5 هغه ځاي کښې وهٔ هم یو سړي غریب
له اته دیرش کالو وه ناروغ قریب
6 چه هغه سړي پروت ولیدهٔ عیسیٰ
په دي پوه شهٔ چه له ډیرې مدې دا
پروت دي ورته یې وِته غواړې چه شي جوړ
7 په جواب عیسیٰ ته دوِ رنځور زوړ
اي صاحبه هیڅوک هم نشته څما
چه څه وقت او به وخوځي هغه ما
دي تالاوُته ژرکوز کاندِ یو دم
او ترڅو چه زهٔ پخپله کوزیږم

له
دا سي معلومیږي
په بیت حسدا کښې یو
قسم د زیارت وه. خلق به
یقین کاوه چه هر کله چه په دا
تالاو کښې اوبه بې آرامه شي نو اول کس
چه و ډوبیږي هغه به جوړ شي نو
په تالاو کښې طور نه معلومیږي.
چه اصلیت په کښې څنګه وه
هکله د دې مرحه خبره صفا
ښکاریږي چه ډیر بیمار خلق
ورته به جمع شوي وو

٥٢

عجیب. ادعه لوی چه د ډیرې کلنې
جوړه شوي چه مدې ډیرې رنځونه
کاله په دې هلم دوه لکه چه هغه
رنځ له ځلولو عیسیٰ سره ځته الله
ورو شي. په روحانیت وه

له دَ بني اسرائیلو دَ شریعت په موافق دا حکم وه او اوس هم په لس احکام کښ شته چه ته په دَ ارام ورځ ساتي. مګر دَ فریسیانو په تعلیم کښ دَ دي یو سم او اصلي حکم په ځاي یو ډک فضول حکمونه جاري شوي وو. لکه مثلاً کټوک بوا مټر اوچت کړي او وړي نو دا ډیري ګناه شه. او نار وا شه. بلکه نیم داخلي نو دعا شه. داسي هم دَ خوراک دَ حلال و حرام دَ وا ده - دَ

[illegible]

بل سري ړوندي له مانه بښکته شي

8 عیسیٰ دَوِ ورته پاڅه سمدستي

بستره پورته کړه وګرزه پخپله

9 نو هغه کس یو دم جوړ شه له یو ځله

بستره یې پورته کړه وګرزید پخپله

ولیکن دا ورځ دَ سبت وه کامِله

10 یهودیانو څکه دوِ تر روغ شوِي

نن دَ سبت ورځ ده دا روانه دِي له

[illegible]

پیدا یشت نه دي راغلي نو بني ادم غرق دي. مګر لکه کلمة الله پخپله نیکدیمس نه ویلي وو- که دویم ځل پیدا نه شي دَ خداي بادشاهت لیدلي نه شي- دَ اتوار په سحر کښ حمونږ مالک عیسیٰ مسیح له قبر نه بیا ژوندي پورته شه. نو په دي ورځ یې پا مرګ فتح وموندله. چه دَ هغه په وسیلي په انسان کښ دَ دي نوي ژوندون پیدا یشت راځي. څکه په عیسایانو کښ دَ اتوار ورځ ساتلي کیږي.

چه کړي پورته بستره او ګرزي ته
مګر هغه دله دا جواب ورکه
11 چه چا زه جوړ کړي یم وئي ویل ما ته
واخله خپله بستره ګرزه هم خوانه
12 دوي سوال وکړ هغه دي څوک چه ئي وِ تا ته
واخله خپله بستره ګرزه هم خوانه
13 خو هغه جوړ شوي سړي ته نه وو معلوم
هغه څوک دي چه ئي جوړ کړم زه معلوم
ولي چه عیسیٰ تِر څان ایستلي وه
وجهه دا ده هغه ځاي کښ خلق شه
14 پس له دي په بیت الله کښ بیا عیسیٰ
هغه ولید. ورته ئي وفرمایل دا
اوس ته جوړ یي خو بیا مه کوه ګناه ته
هسي نه په لوي آفت شي مبتلا ته
15 هغه کس لاړ. یهودیانو ته ئي وِ دا
چه چا زه جوړ کړلم دي هغه عیسیٰ

16 نو یهود ځکه عیسیٰ وربړوه
چه هغه د سبت په ورځ دا کار وکړه
17 عیسیٰ دوی له جواب ورکړ هغه دم
خما پلار تر اوس کار کړي زه هم کړم
18 یهودیانو نور کوشش وکړلو ورا ندِ
چه یي قتل کړي. خو نه تش په دي باندِ
چه هغه د سبت په ورځ کوي دا کار
بلکِه هم خدای ته وایي خاص خپل پلار
برابر خدای سره کړي خپل ځان
19 عیسیٰ ورکړ جواب هغه زمان
زه رښتیا رښتیا کړم دا کلام بنا فلي
ځوی له خپل ځانه هیڅ نه شي کولي

بي له هغې نه چه وينې ـ چه کوي پلار
هرڅه چه کوي ځوئ هم کوي دا کار
20 ولې چه پلار ځوئ سره مينه لري
چه هرڅه خپله کړي ځوئ ته هم ښائي
هم له دي به لوئ کارونه کړي عيان
په ليدو به ئې تاسو پاتې شئ حيران
21 لکه پلار چه خپله مړۀ ژوندي کوي
ځوئ ١ هم ژوندي کوي څوک چه غواړي
22 هم عدالت دَ هيچا نۀ کوي پلار
مګر ځوئ ته ئې ورکړ کُل اختيار
23 دي دَ پاره چه ټول وکاندِ دَ ځوئ
عزت ٢ ـ لکه چه دَ پلار عزت کوي
که څوک دَ ځوئ عزت نه کړي هم دَ پلار
نه کوي چه ځوئ لېږلي دي اشکار
24 رښتيا وايم چه څوک زما کلام اوري
او په هغه بانډ څوک ايمان راوړي

٥٥

١ دُ خپلو خبرو په ثبوت عيسیٰ مسيح دوه دليلونه پيش کوي. اول دا خلائقو له ژوندون او په مړو اختيار ورکړه دي چه دا خاص الخاص دُ خدائي کار دي. دويم دا چه دُ خدائي په دربار کښې چه عدالت وشي. نو به دي په وشي چه انسان په عيسیٰ کلمة الله ايمان راوړي دي. او که نه ورا ودي ٢ له دي نه عزت نه ... چه څوک دُ خپل خيال

٥٦

په مطابق دُ بل چا قلار وکړي. دي نه عزت وائي چه دُ چا راسي قلار وکړي لکه چه هغه پخپله دُ قلار دعوی کوي نو دُ عيسیٰ مسيح عزت کول دا دي. چه نبي آدم ايمان راوړي چه هر څه دعوی چه هغه دُ انجيل ځان دُ پاره کړي. دا دُ ښتيا ده. که موږ هغه نشي چه پيغمبرانو کښې شامل نه کړو. نو دا پوره عزت نه دي. دلي چه هغه دُ دي نه ... دعوی دُ ځان دُ پاره کړي.

چه چا زه يم رالاستولي هغه کس
دَهميش ژوندون لرِي بي شکه اوس
عدالت ته نه راځي بلکي له مرګ
دي وتلي په ژوندون داخل دي زبرګ
25 ربښتيا وايم چه راځي هغه ساعت
بلکي اوس دي چه به مړي بی مهلت
دَ خدای دَ ځوي اواز اوري. او کوم
چه اواز واوري ژوندي به شي يوروم
26 ځنګه چه ژوندون خپل ځان کښ لري پلار
دغه شان ئې ځوي له هم ورکړ اختيار
چه خپل ځان کښ دَ ژوند ولري طاقت
27 ورئې کړ اختيار چه وکړي عدالت
چه هغه ابن آدم دي په دي بانډ
28 حيران مه شئ اوس راځي هغه وقت رواند
په قبرونو کښ چه څومره مړي دي
هغوئ ټول به دَ هغه اواز اوري

م ١ ايمان داري نه دي چه څوک عيسیٰ مسيح
پيغمبر يا نبي و مني. نش په مناو
هغه نه کيږي. دي ته ايمان وائي
چه انسان دا يقين لري چه حق تعالیٰ
دغه يو شخص مقرر کړي او دنيا ته
راستولي دي. چه د هغه په وسيله
بني نوع انسان ژوندون حاصل
کړي.

م ٢ انجيل شريف کښ د تل ژوندون او د جسم
ژوندون چه ...
٥٧

29 او بهر به په اواز راځي هغوي
دَقیامت ژوند له چه ښه کړي وُو دوي
او هغوي چه بد ئي کړي وُو بی مهلت
خاص دَ پاره دَ قیامت دَ عدالت
30 زهٔ له خپل ځان نه کولي هیڅ نهٔ شم
څه چه اورم عدالت داسي کوم
عدالت مِ دَ انصاف دي انصاف کړم
ولي چه خپلي مرضئ ته نهٔ گورم
بلکي دَ هغهٔ مرضي پوره کوم
چه يُې زهٔ دلته کښې رالاستو لم
31 که دَ ځان دَ پاره زهٔ شاهدي ورکړم
نو ځما شاهدي رښتیا نهٔ ده بیا هم
32 خو یو شته دي چه شاهدي ځما دَپاره
ورکوِي. ما ته معلومه ده له واره
څه شاهدي چه هغه ما دپاره کړِي
هغه ده بالکل رښتنه حقیقي

33 تاسو وليږل يحيیٰ ده ته كسان
او هغهٔ په حقيقت ښما ښه شان
34 شاهدي وركړه. مگر زهٔ دَ انسان
شاهدي نهٔ قبلوم خو بيا دغه بيان
ځكه كوم چه تاسو بيا مومئ خلاصون
35 هغه بلهٔ ډيوه ده دَ ځليدون
ستاسو خوښه ده چه دَ يوساعت دَ پاره
په رڼا كښ ئې هم ښاد اوسئ له واره
36 وليكن چه شاهدي ما ځخه شته
چه دَ يحيیٰ شاهدۍ نه لويه ده
كوم كارونه چه دَ پلار له لوري كړم
او هغه كارونه زهٔ پوره كوم
هغه كړي ښما دَ پاره شهادت
چه يم پلار رالېږلي په قدرت
37 او چه پلار رالېږلم هغهٔ هم
شاهدي وكړه ښما په حق محكم

نهٔ دَ هغهٔ اواز دي تاسو اوريدلي
نهٔ موُچري دَ هغهٔ شکل دي ليدلي
38 او په خپلو زړو نوکښ دَ هغهٔ کلام
قايم نهٔ لريُ سبب داوی تمام
ولي چه څوک چه هغه دي رالستولي
په هغهٔ تاسو يقين نهٔ کړيُ ښاغلي
39 لټويُ تاسو کتابِ مقدس
داگمان کړيُ چه په هغه کښ هم اوس
شته دَ هميشه ژوندون ستاسو دَپاره
خودا هم هغه دي چه کوي له واره
40 څما شاهدي. بيا تاسو نهٔ غواړيُ
چه راشيُ ماله او ژوندون بياموميُ
41 له انسان څخي عزت زهٔ نهٔ غواړم
42 وليکن چه تاسو هم زهٔ پيژنم
ستاسو زړه کښ نشته مينه دَ ستا ر
43 زهٔ راغلي يم په نامه دَ خپل پلار

له
مسيح د لته
په مخلوقو باندي په سخت
اعتراض کړي. هغه صفا صفا
درته وايي. چه دَ خدايي کلام
خود په تاسو کښي نشته. بي شکه
کتاب مقدس هر څخت ستاسو په
لاس کښي دي. هر وقت کتاب لولي
سبق په سبق يې وايي. خو هغهٔ
فايده په کښي نشته. ولي چه
تاسو دَ قصده نهٔ غواړي چه
هغه کس قبول کړي. چه

ضرور دي او لوي دي دَ
اکثر دَ هغه کيږي. او ... پيدا دي
وجهه هم دا ده. ولي هيڅوک
دا نه غواړي. چه دَ خپل قدر يا
دَ خپل خالق سره بي عزته
ښي. له خدايي سره دومره مينه
هم نه لري چه هغه شان ايان دَ
هغهٔ دَ پاره بي عزتي پيره کړي.
او غم وکړي.

له معلومیږي چه یا راکه عیسیٰ د شه د حضرت موسیٰ ارشنشاه کتاب ته اشاره کوي. ۱۸ باب هلته ښکلي دي چه غیر خلق فتح جهیان او جادوگران ساتي. او د هغوی منلي مه کوي. د بني اسرائیل د لاسي نه کوي. ولي دي چه خدای په هغه چه به یې لاسي نه کړي کس باله یې قوم یو لاسي چه دي یهود د موسیٰ کلیم الله دي. ع نشان دي. چه هغه پیغمبر او د هغه خدای سره تعلق لري. او د هغه کلام تاسو واوري. هغه چه تاسو لازم دي. او د هغه پیغمبر کلمة الله راغي. او واوري. ولي کلیم الله وه. چه هغه زه یم. او د کلیم الله هغه پیغمبر هم دي چه د هغه وقت یو دي پاڼ. چه دانیب له وقت نه او تر دي نه دي. قربت انسان تیر شوي هم دا یې تر دي وایي خښتن سره او دایې تر دي.

د کلمة یعني کلمة الله ته یعني ارشاد لري. چه لیکه کلام الله وه. یعني که د حقیقي ثابت شه. پیغمبر الله دي یقین په تورات وي او په خود په کلمة الله دښتني پیغمبر کېږي. نو هغه پیش چه د تورات شریف هم ایمان راوړي دي حنیري بند په بند د توريل په ذات کښې ختم شوي. د کلمة الله

تاسو ما نهٔ قبلوئ خو که څوک بل
په خپل نوم راشي قبول به يې کړئ په ول
تاسو څه رنګه شئ بيا ايمان راوړلي 44
چه له يو بل نه عزت غواړئ بناغلي
او هغه عزت چه دَ واحد خدای
له طرف دي هَغه نهٔ غواړئ يو ځائ
ګمان مه کوئ چه زهٔ به تر خپل پلاره 45
وکړم ستاسو شکايت. دَ دي دَ پاره
يو کس شته چه ستاسو کاندِ شکايت
دي موسیٰ چه پرِ اميد مُودي هرساعت
وجهه دا. که په موسیٰ مُويقين کړلي 46
نو بيا هم به مُو په ما يقين لرلي
هَغه هم وکړ کلام په حق څما
و ليکن که دَ هغهٔ په کلام بيا 47

چه لیکلي دِي خود نهُ کوي یقین
و به کړي یقین ځما په قول کوم حین؟

شپږم باب

پس له دي نه دَ ګلیل دریاب ته بیا 1
یعني تبریاس ته پوري وت عیسیٰ
ګڼر اولس شهُ ځکه دهُ پسي روان 2
چه هغوي ننبي لیدلي په هغه‌ران
چه به يې په رنځورانو ښکاره کړلي
نو عیسیٰ مسیح یو غرهُ ته ور ختلي 3
مُریدانو سره هلته کښېنا ستهُ
دَ یهود اختر دَ فسح نژدي وهُ 4
خپلي سترګي يې کړي پورته ويُ لیدل 5
چه ګڼر خلق ما ځنه راجع شول
ويُ وِفلپس ته مونږ به دوي دَ پاره
خوراک واخلو له کوم ځايُ نه اوس لواره

٦ مگر دا یې پر دَ ازمیښت کلام وکړ
ځکه چه هغه پخپله پوهیدهٔ
٧ چه به څه کوم. فلپس ورکړ جواب
چه دَ سلو روپو خوراک به په حساب
دومره هم نه شي پوره چه تر هر یو
څه نه څه خوراک دَ پاره شي ملاو
٨ دَ هغهٔ له مریدانو نه یو کس
یعني اندریاس ورور دَ شمعون پطرس
٩ ورته وویل دي دلته یو هلک
دَ اوربوشو شته پنځه دوډیې بې شک
ور سره دي هم ورکو ټي دوه کبان
خو په دي دَ دومره خلقو څه شي توان
١٠ عیسیٰ وویل چه خلق کښینوئ
شنه وابښه ډیر وو هر خوا په هغه ځائ
پنځه زره کسان وو. ټول کښیناستل
١١ عیسیٰ هغه دوډیې واخستي یو ځل

٦٣

چه يې شکر پرِ وکړ په هغوي بيا
چه ناست وُو هغهٔ تقسيم کړلي هر خوا
او هم هسې شان کبان يې وويشل
چه هغوي څومره غوښتل له ورکول
12 چه ماړه شوُ مريدانو ته يې ويل
پاتې شوي ټکړي کړئ ټولي مکمل
13 چه بربادي نه شي نو يې راجمع کړلي
له هغه ټکړونه ښکوئ دولس ډکي شولي
دا له هغي پنځو ډوډونه پاتي شولي
چه خوړونکو په خوښئ ترِ وخوړلي
14 او چه خلقو هغه ښه وليدله
چه عيسیٰ په دي مقام کښ ښکاره کړله
دوي ويل دا په رښتيا هغه نبي دي
چه دنيا کښ ضرور دي راتلونکي دي

15 چه عیسیٰ په دی شه پوه چه دوی راځي
نو ریم نیسي په زور ما بادشاه کوي
لاړ یواځي غره ته وخوت هغه ان
16 بیا چه شه تما بنام د ده تول مریدان
د دریاب غاړي ته بنکته ورکوز شول
17 وختل بیړۍ ته پوري غاړه تلل
خیال د دوی کفرنخوم ته اماده وه
تیاره شوه خو عیسیٰ لا راغلي نه وه
18 چپي پورته شوي په وجه د تخیلي
19 چه دوی بوتله دري څلور میله بیړۍ
ولید دوی چه عیسیٰ گرزي په دریاب
او بیړۍ ته نژدي کیږي په شتاب
20 وېره راغله پر. عیسیٰ ورته ویل
چه زهٔ یمه. وېره مه کوئ بالکل
21 دوئ راضي شو. وبي خیژوه بیړۍ ته بیا
یو دم راغلل دوي تر ځایٔ د مدعا

22 بله ورځ هغه مخلوق چه دَ دریاب
پوري غاړي ته وه جمع بی حساب
وليدل دا چه بي له يوي كشتيَ
بله نشته. عیسیٰ هم نشته دا ځایَ
مُریدانو سره نهٔ وه تلي عیسیٰ
مُریدان یواځي تلي وُو یو خوا
23 خو كشتيَ له تبریاس ځنی بی شک
هغه ځایَ ته راتلي چرته چه مالكِ
پس له شكر نه ډوډيَ ورو ویشلي
اوچه خلقو په بناديَ سره وخوړلي
24 مخلوقات چه وليدل چه نهٔ عیسیٰ
دلته شته. نهٔ يَ مریدان شته په یوخوا
په عیسیٰ پسي كشتوكښ كښنيا ستل
په لټون كفرنحوم وته راغلل
25 دَ دریاب په پوري غاړيَ بیاموندهٔ
ورته يَ وِ استاذه دلته راغلي څه؟

[illegible]

26 عيسىٰ دوئ ته په جواب کښ ووئيل
رښتيا تاسو ته وايم مکمل
تاسو ما نهٔ لټوئ په دي سبب
چه مُعْجزي مو وليدلي نښي د مطلب
بلکي ځکه چه ډوډئ مو وخوړله
او په ښه شانِ ماړه شوئ له يو ځله
27 دَ فاني خوراک دَ پاره خواري مه کوئ
خو ډير خيال هغه خوراک دَ پاره وکړئ
چه دَ تل ژوندون دَ پاره پاتي شي
او هغه به اِبنِ الله آدم در کوي
ولي چه پلار يعني خدائ په هغه باندِ
دي خپل مهر لګولي ورستو ورانده

[illegible]

28 هغوي ځکه ورته ووېل څه وکړو
چه دَ خدای کارونه مونږ وکړی شو
29 عیسیٰ وویل دا کار دي دَ رحمان
په لیږلي شوي دَ هغه راوړئ ایمان
30 هغوئ وویل څه نښي ښایي ته
چه ایمان در باندِ راوړو څه کار کړې ته
31 پلار نیکو نو مومن خوړ په بیابان
لکه چه لیکلي دي په هسې شان
له اسمان نه به يې دَ خوراک دَ پاره
ډوډئ دوي له ورکوله بي تکراره
32 عیسیٰ وِ ورته رښتیا وایم. دا ان
موسیٰ نه وه چه ډوډئ يې له اسمان
درکوله. خوږ پلار هغه حقی
او اسماني خوراک درله درکوي
33 دا دَ خدای ډوډئ ده چه له پاس راځي
او دنیا ته حقیقي ژوندون بخښي

ف دَ بني اسرائیلو عام خیال وه چه نجات په عمل باندِ موقوف دي. ځکه دا پوښتنه کړې چه څه کار وکړو. عیسیٰ مسیح ځکه دا جواب ورکوي چه اصلي کار دا دي چه دَ خدای په مقرر شوي کس ایمان ولري. خیرات زکوٰة یا لمونځ یا نور د څه اصول دَ مذهب دَ خدای اصلي کار نه دي مګر که چیري

ایمان راوړي چه بېشکه دَ خدای هغه پوره لار دَ نجات دَ پاره جوړه کړې له. بیا ددي لاري ټولي خیر په هر کار کښ دَ مسیح قایل او فرمان بردار دي. ځکه فرمانبرداري دَ ایمان نښه ده او نه چه بغیله ایمان دي.

34 دوی ورته ووچه ای صاحب مجیب
مدام مونږ له راکړه دا خوراک عجیب
35 عیسیٰ ووِ دَ ژوندون دودۍ زه یم
څوک چه ما له راځي دا ورته وایم
هیڅوک به وږي نه شي او په ما
چه ایمان راوړي. به تږی نه شي بیا
36 خو زه وایم چه تاسو زه لیدلي یم
خو ایمان راباندې نه راوړئ بیا هم
37 چه هر څه څما پلار ماله راکوي
په ټه شان به هغه ټول ماله راځي
چه هر څوک ماله راځي زه به یې هم
هیڅکله له خپل ځان نه وبه شړم

د یهودیانو دا مطلب وه چه بیشکه تا عجیبان ښکاره کړي دي ... موسیٰ علیه السلام ... په بیابان کښې ... د ایمان ... عیسیٰ مسیح ... [illegible]

... د آسمان ... دنیا ... [illegible]

38 ولې چه زهٔ له اسمان نه راکوز شوی یم
نهٔ چه په خپلې رضا عمل کوم
خو عمل کوم دَ هغهٔ په رضا
چه لېږلی یې زهٔ راواستولم په دنیا
39 دا ده دَ راستونکي رضا
چه هر څه یې ماله راکړل ترِ نه بیا
هیڅ یو څیز ورک نهٔ شي بلکې په یوه دم
په آخره ورځ به یې بیا ژوندي کوم
۴۰ څکه هم دا دَ پلار رضا ده
چه هر څوک ځوي وویني او په رښتیا
په هغهٔ راوړي ایمان دَ تل ژوندون
دي به بیا مومي او زهٔ به یې په مضمون
په آخره ورځ. بیا ژوندي کوم
۴۱ یهود دَ هغې په وجهې بانډې هم
خپه شو چه یې ویلي وو هسې شان
زهٔ ډوډۍ یم راکوز شوي له اسمان

42 وېي وِ عیسیٰ دَ یوسف څوېُ څه دانهٔ دي
مور او پلار یې مونږ ه پیژنو نو څه دي
څنګه وایي چه له اسمانه شوم راکوز
43 عیسیٰ دوي له جواب ورکړ په رموز
په خپل مینځ کښې مه بروېږئ وار مان
44 هیڅوک ماله را تلي نهٔ شِي په هیڅ شان
بې له دي څښي چه پلار يُ را کابږي
پس هم هغه کس به ما لره راځي
په اخره ورځ به يې زهٔ ژوندي کوم
45 صحیفو کښې دَ نبیانو دي دا هم
چه هغوي تول به له خدايُ تعلیم اخلي
چه هرڅا له پلار نه اوریدلي دي
او زده کړي دي. هغه ماله راځي
46 داسي نهٔ دي چه چا پلار لیدلي وي
بې له هغهٔ چه دَ خدايُ له لوري راغي
هم هغه ځنپله پلار لیدلي دي

ص
حضرتي ځان دا خیال ښکاري
کوي چه په عیسیٰ ایت کښي
تول تاکید په لفظ څوي دي. او چه
د عیسیٰ بانو دا او ښتش دي چه په انسان
شش په دي لفظ د خدای په ذات کښي
شامل ثابت شوي. مګر دا خیال غلط
دي. هم په د څوي له لفظ نه
انجیل شریف په هر ځای ابن دا خوبه
ثابتوي. چه کلمه الله خپل شان
خدای يې ذات کښي شامل
ثبتنه هغه به شکه

خدای يو دی او هغه د قیامت
مالک ویلی شوه که هغه له
شان نه را ځي نه وي
یا هغه په دو ویلی شوه چه پې له
خپله ویلي شته چه ذات د
ما نه پیدا خدای لیدلي دي. یا
هغه په خپله ویلي شته په له اسمان د
ژوندون دوډۍ له اسمان
راکوز شوي یم.

وا یم رښتیا رښتیا چه څوک ایمان راوړي ۴۷
هم هغه کس دَ همیش ژوندون لري
وایم چه دَ ژوندون ډوډۍ یمَه زهٔ ۴۸
پلار نیکو نو مُو ځنګل کښ من خوړهٔ ۴۹
مړهٔ شو. دا هغه ډوډۍ دهٔ چه له پاس ۵۰
راځي. دي دَ پاره څوک چه و خوړي خاص
مړنهٔ شي. زهٔ یم هغه دَ ژوندون ډوډۍ ۵۱
چه را کوزه له آسمان شوه په دی ځائی
او که څوک چري له دي ډوډۍ وخوري
نو به تل تر تله هغه ژوندي وِي
کوم خوراک چه ورکوم زهٔ تر دنیا
دَ ژوندون دَ پاره. دهٔ جُثه ځما
څکه په خپل مینځ کښ بیا دا یهودیان ۵۲
په جګړه شو. دائي وویل هسی شان
دا سړی خپله جُثه خوراک دَ پاره
راکولي څنګه شي له دی ګفتاره

53 نو عیسیٰ وِ ربنتیا تاسو ته وایم
چه څو وَ نه خوري جثه د ابن آدم
او د هغه وینه تاسو ونه څښئ
خپل ځان کښ به خو د ژوندون ونه لرئ
54 څوک چه خوري ځما جثه وینه مِ څښي
نو هم هغه د همیش ژوندون لري
په آخره ورځ به لئ زه ژوندي کړم بیا
55 ولي دي ربښتین خوراک جثه ځما
او ربښتني څښاک هم دي ځما وینه
56 چه څوک خوري ځما جثه وینه مِ څښینه
هغه ما کښ زهٔ هغهٔ کښ یم قائیم
57 لکه چه ژوندي پلار را واستولم
او د پلار په وجهي یم ژوندي د اشان
څوک چه ما خوري ژوند لري ځما په توان
58 دا هغه ډوډئ ده چه خاص له آسمان
شوه را کوزه - نهٔ د هغه من په شان

پلار نیکونو مُو چه وخوړ او مړه شول
خو چه څوک دا ډوډۍ خوري ژوندي دي تل
59 دا کلام يې کفرناحوم کښ وکړلو
په جماعت کښ چه تعلیم يې ورکولو
60 چه هغوئ دغه خبري واوریدي
دَ هغه له مریدانو څنو وې
دي ډیر سخت کلام څوک دا شي اوریدلی
61 ولیکن عیسیٰ په زړه کښ پوه شه غلي
چه په دې باب مِ بنړیږي مریدان
نو يې دوئ ته داسي وُوِ ئیل آن
چه په دې خبرو تاسو تیندک خوري
62 څنګه که ابن آدم تاسو ووینئ
چه هغه بیا هَغه ځائ ته وخیژي
چرته چه هغه ړو نبي وه واقعی
63 روح هغه دي چه همیش ژوندي کوي
جسم په هیڅ شان فایده هیڅ نه لري

٦٣ اروکه روحاني جهان او جسماني جهان یو نه دي خو بیا دَ دواړو د پاره ژبه یوه ده او هغه ژبه په دنیاوي خبرو چلیږي ځکه هر کله چه انسان د روحاني جهان ته وګوري هغه مجبور یږي چه هم هغه دنیاوي الفاظ استعمال کړي سره دَ دې چه مطلب بل دي. مثلاً عیسیٰ مسیح ځیل ځان ته لاره. حق. ژوندون. د نماړ په وهلي.

٦٤ شپون. دَ رمې دروازه. قیامت. کلام. ځمکه او ډوډي. په تکلیفونو ځایونو وایي. دا الفاظ نړول دنیاوي دي. هم دَ کلمة الله مطلب به انسان هاله پوه نه شي. بیا چه روحاني مطلب ته واخلي. بیا معلومیږي چه دا نړول الفاظ کفاره ته اشارت کوي.

څه خبري چه ما وکړي په مضمون
هغه هم روح دي هم دي هغه ژوندون
64 څني تاسو کښ شته نهٔ راوړئ ایمان
ولي چه عیسیٰ اول پوه وه بنه شان
څوک څوک دي چه ایمان په مانه راوړي
کوم یو کس دي چه به ما حواله کړي
65 وئ وِ ادس ما ځکه وکړ دا بیٔان
چه هیڅوک ماله را تلي نهٔ شي هیڅ شان
چه ترڅو وله طاقت ور نه کړي پلار
66 مریدان ډیر دَ مسیح په دي گفتار
له هغهٔ نه نور په بیرته نه راړل
پس له دي بیا ورسره نه گرزیدل
67 عیسیٰ ځکه هغه دولسو ته ویٔل
تاسو هم غواړئ دَ دویٔ په شان تلل؟
68 نو شمعون پطرس بیا وویل په جواب
چا نځه به لاړ شو مونږه ائ جناب

دَ همیش دَ ژوند کلام دي تا څخه
69 مونږ ایمان راوړلي دي پوهه یُوښه
تهُ دَ حق تعالیٰ قدوس یې ای مسیح
70 عیسیٰ ورکړوله دا جواب صحیح
تاسو دولس نه یئ غوره کړي ما
خو په تاسو کښې یو کس شیطان دي بیا
71 دا خبره يُې وکړه له دَ یهودا
څويُ دَ شمعون اسکریوطي وه رښتیا
ولي دا کس یو په دولسو کښې وهٔ
چه مسیح يُې ورستو په حواله کهٔ

اووم باب

1 پس له دي عیسیٰ گلیل کښې گرزیدهٔ
یهودیه کښې گرزیدل يُې نه غوښتهٔ
وجهه دا چه یهودیانو په تفتیش
دَ هغهٔ قتل پسي کاوه کوشش

۷۶ له حکومت چې ... دیه دوو علاقو کښې یو ... بادشاه ناست وه ... کښې دَ روم دَ بادشاه خاص ملکي ... حاصت وه. هم په یهودیه کښې ... اسرائیلو ... خلق هم ... عیسیٰ مسیح ... دَ پاره چې گلیل کښې ... شه.

2 وه بیا نژدي یو اختر دَ یهودیانو
چه پہ نوم مشهور اختر وہ دَ تمبوانو
3 دَ عیسیٰ ورونړو ځکه ورته وویل
له دي ځایہ ستا یهودیه ته بنایي تلل
چه هم ووینی ستا وارہ مریدان
ټول کارونه چه لې ته کړي دا زمان
4 ولي هیڅوک کار په پټه نه کوي
که دا غواړي چه هم ځپل ځان ښکاره کړي
که ته دا کارونه کړي نو بیا ځپل ځان
په دنیا باندِ ښکاره کړه په ښه شان

5 ولي چه دَ هغه خپلو ورڼو هم
پر ایمان لا وړي نه وه تر دي دم
عیسیٰ وِ نه دي راغلي لا وقت ځما
6 لیکن ستاسو هر وقت وقت دي په رښتیا
کینه تاسو سره کړي نه شِي دنیا
7 خو کینه له ما سره کړي په هر خوا
ولي چه زه شهادت پرِ ورکوم
چه کارونه دَ هغې بد دي هر دم
8 تاسو لاړ شئ دي اختر ته خو زه لا
ور تلي نه شم پوره وقت نه دي ځما
9 او چه دا خبري يې وکړي ورسره
نو شه پاتي په ګلیل کښې دوباره
10 خو چه ورونړه يې وړاندِ لاړل په اختر
عیسیٰ هم په پټه لاړ نه په اظهر
11 یهود ځکه په اختر کښې لټوهٔ
په خپل مینځ کښې يې ویل هغه څه شهٔ

١ ځکه چه دَ عیسیٰ مسیح ورونړو ایمان نه راوړلو خو ورو ورو ستو ایمان راوړلو شو. او دَ هغهٔ دَ یو ورور په حق کښې دومره معلومیږي چه هغهٔ په بیت المقدس کښې دَ عیسایانو په مجلس کښې خاص مشر شهٔ. او چه هغهٔ هم دَ دې ایمان دَ صداقت دَ اظهار دَ پاره دَ شهادت جام نوش کړهٔ.

٢ دلته دا مطلب نه دي چه کلمة الله په دې شان په پټه لاړه چه هیچا ته معلوم نه وه. ولي چه [illegible] کښې صفا لیکلي دي چه هغه په بیت الله کښې ښکاره ست او تعلیم یې ورکاوه. خلقو دا خیال کاوه چه هغه به په لوئي دبدبه سره راشي. او خپل شان به نورو ته ورښایي. مګر پاک عیسیٰ دَ عام کس په طور لاړه ولي چه دَ هغه زور او بادشاهي دَ دې دنیا نه وه. هغه اراده [illegible] ځکه هم دَ دې دنیا دبدبه دَ هغه نه وه [illegible]

12 په دي مخلوقات کښ دَ هغهٔ په باب
په اقسام کیدي خبري په اسباب
چا به وِ. چه هغه نیک دي ضروري
چا به وِ. نهٔ - بلکي خلق غلوي
13 دَ یهودیانو له ویري نه هیچا
په ښکاره خبري کړي نهٔ شوي یو خوا
14 بیا په مینځ کښ دَ اختر تربیت الله
عیسیٰ لاړ شه ورکاوه لیٔ تعلیم هر خوا
15 یهودیان څکه په دي شو حیران
دي امي دي په تعلیم پوهیږي څه شان
16 په جواب کښ ورته وویل عیسیٰ
دا تعلیم نهٔ دي څما مګر چه چا
زهٔ را واستولم دي دَ هغهٔ تعلیم
17 که څوک غواړي چه لیٔ کړي رضا تلیم
نو ربه ورته دا معلوم شي په رښتیا
چه دي دا تعلیم په اصل کښ دَ چا

لم اجر که کلمة الله په دنیا وي
دبل بي سمرة ده نبي او د هغهٔ
علم او تعلیم داسي وه چه د هغهٔ
و سلیکي هغهٔ خلقو ته ظاهر شهٔ
بیکي په نشلفو شایدي نو ګنب په
ږعیب شریف کښ دا مشبره
دا نبي ده چه خلق

٧٩

د کلمة الله تعلیم
نه حیران شو۔ او د هغوی
په زیږو نو داسی ولکیده چه
هغوی د شان نه ومنله چه
هغهٔ صاحب اختیار دي۔ او
څکه په دي نوم کلمة الله
مشهور دي۔

له انسان اکثر د خداي په حق کښې تعليم جوړه دي . بيا هم کله چه خداي د انسان په مخ کښې يو لوي کار داسي وکړي چه د انسان تعليم پر غلط بنياد دي . نو انسان هغه کار ته غلط وايي او خپل جوړه شوي تعليم قايميږي . په بني اسرائيلو کښې دا تعليم قايم شوی وه . خداي يو واحد خداي دي . مګر د يو والي مطلب او بيان هغوي له ځان نه جوړه کړيدي او په دي جوړه کړيي بيان هم ټينګ وو بيا خداي د هغوي په مخ کښې يو کس پيدا کړ چه هغوي په هرشان سره ورته حيران شول ولې چه د هغه پيدايښت . ژوندون . تعليم . طاقت کار دو نه . هر څه بل شان وو . چه هم سره د دې چه خداي

٨٠

يعني که له لوړي دخداي دي دا
يا که زهٔ هغه له ځان نه وايم بيا
18 څوک چه خپل کلام کړي غواړي خپل عزت
ليکن څوک چه دَهغه غواړي عظمت
چه يې استولي دي هغه رښتين دي
په هغهٔ کښ بې انصافي نشته يقين دی
19 موسیٰ نهٔ دي تورات تاسو له درکړي ؟
خو په تاسو کښ چا دي عمل پر کړي
څله دَ مرګ له کوشش تاسو کړئ ځما ؟
20 مخلوقات وله جواب ور کړ لو بيا
چه په تا کښ دي بدروح څوک کوشش کړي
چه په څه شان سره تا قتل کوي

دا سې يو کس ليږلی وه هغوي هم دغه کس رد کړ او خپل تعليم لي قايم کړ . له دې نه دا معلوم ميږي چه هغوي دا خيال نهٔ کاوه چه د خداي رضا او ښې . مګر د الٰهي نيت وه چه څوک ... [illegible]

[illegible]

21 عیسیٰ ورکړلو جواب په هسې شان
ما یو کار وکړ بیې تاسو ټول حیران
22 دَ موسیٰ له لاسَ حکم دَ سُنت
تاسو ته ورسیدلو بی مهلت
خو دا حکم هم خاص نه وه دَ موسیٰ
ولیکن پلرونو نه راغی په خوا
دَ سبت په ورځ نور شي سُنت انسان
23 نو چه تاسو کړئ سُنت سړي هر شان
دَ سَبت په ورځي هم په دي سبب
دَ موسیٰ قانون قایم شي په مطلب
ولي ما ونه قهرېږئ ورستو وړاندي
چه پوره سړي مې جوړ کړ سبت باندي
24 فیصله مه کړئ دَ صورت په مطابق
خو فیصله کړئ دَ انصاف په موافق
25 ځني خلق چه وُو دَ بیت المقدس
هغوئ خپل مینځ کښ داوُوکړ ترکس

په بني اسرائیلو کښ دا قانون دَ شریعت نه وه مخکي جاري شوی وه چه دَ هلکانو سنت په اتمه ورځ وکړي یعني خلیل الله ته دَ سنت دا حکم ورکړ شریعت دَ موسیٰ نه مخکي راغلی بیا په هغه ورځ دَ سبت چه ورځ شي دَ خالي په ورځ ونه شي یهودیانو ورستو دا فیصله وکړه

دَ سبت سنت ورکړي دَ هلک چه که اتمه ورځ هم دَ سبت ورځ جوړیږي جواب دا مطلب دَ انسان دوه ځله ... عیسیٰ دَ هغه ورځ ... دَ سبت ... زیات

دا هغه نه دي چه یې دوئ کوشش کوي
چه په هر ممکن سبب یې ووژني ؟
26 ګورئ دي اوس په ښکاره خبري کړي
او هم هیڅوک ورته هیڅ غږ نه کوي
یا دوئ پوه دي چه هم دغه دي مسیح ؟
27 خو دي پېژنو چه له کومه راځي
ولیکن مسیح چه راشي کوم زمان
دَ هغه ځاي به نه پېژني انسان
28 عیسیٰ ځکه نور په بیت الله کښ بیا
ورکاوه په لوړ آواز تعلیم رښتیا
تاسو ما پېژنئ هم دَ کوم ځاي یم
خو له ځپل ځان نه راغلي زه نه یم
لیکن چا چه راستولي یم رښتین دي
خوئ نه پېژنئ تاسو دا یقین دي
29 زهٔ یې پېژنم دَ هغهٔ له لوري یم
ولې چه هغه زهٔ راستولي یم

چه
ړ. یهودیانو کښې یه دي ځاي
وړو . چه مسیح ته دا هم معلومیږي
یه هام سیمږي د نبوت دا معلوم
قدرتي طور به نه وه حکم یه موافق
هلته چرته به یه دنیا کښې چه یه
شیطان یه چه بیلې دي رانځي
بانو ازمیښت مالک عیسیٰ چه
هم راتې کړي د مسیح
واپېي چه شیطان د حنبرم
چه د بیت الله ورته

له مناري نه خپل
ځان ښکته غزار کړه - هلته
هم دغه مطلب دي چې بیا
به دا نه خلق تا منیې ولې چه خوږي
ځاي نه رانتیږي ویلې چه له کومه
بیا د خلقو به ویې . هغه ځاي
بیه خپل کار نه کوې . حیرانتیا
بیه خپل قوت او هغه دنیا
ځان ته راکاږي . خپل منیې

30 هغوي څکه دَ نیوه کوشش کاوه
خو هیچا په هغه لاس وا نهٔ چوه
لا ییُ وقت راغلي نهٔ وه نو څکه
31 ولیکن له مخلوقات ډیرو په کلکه
پر ایمان راوړ او وِ ئیُ چه هر کله
چه مسیح راشي له دي نه زیات یو څله
به څهٔ مونږ وته ظاهر کړي معجزات؟
32 فریسیانو واوریدل چه مخلوقات
دَ هغهٔ په باب دا رنګ خبري کړي
کاهنانو. فریسیانو سمدستي
افسران ور واستول چه وِ ئیُ نیسي
33 عیسیٰ وَوِ لږ ي ورځي پاتي دي
چه یم تاسو څخه بیا هغهٔ له څم
چه ئیُ زهٔ دي څائي ته راولیږ لم
34 ما به ګورئ خو به مِ بیا نهٔ مومئ
چه څم چرته هلته هم راتلي نهٔ شئ

لم
څنګي خلق د
خیال کوي چه د پاک خدای ګنې
اصلي مفصل په هغه د یهود بانو
دا نه وي چه ښې مګر خراب خلق
له رونې مرنې شه دا خیال
هغي په زور اوړ ګنې غلط
په نوِل انجیل شریف هم دغه وه
تا بنیږي. اصلي مطلب بي دردمند
مبلغ هم د ګناهګارانو
نیغي. او داسي مره ښیي.
له رونې مره

کلمة د اصفا ... دي
چه الله به دي موقعه کښي
یعني د ذات ... معلومیږي
الله به ... دي وجهي چه
پیدا به لفظ ... تیځ چه
شه وقت ... نه ګښي شه
دي چه ... به هغه ... کلمة
د هغه په حزائي مرګ هم په
کیدل هم داسي هغه ... وه
د هغه اسمانه درومه ... وي
د امکان نه خبره ... ووزني
ووِ نه نهٔ ... د

35 يهوديانو تَر يو بل څکه وئيل
چه به ئې نهٔ مومُو کوم خوا ته ځي داخل
په يونان کښ خوارهٔ شو يو ته به ځي؟
يونانيانو له به تعليم ور کوي؟
36 څه خبري دِي چه دهٔ راته وکړلي
چه به کوریٔ ما خو نه شئ به موند لي
چه ځم چرته راتلي هم نهٔ شئ هلته
37 بيا اخير چه لويه ورځ دَ اختر وَه
عيسیٰ ودرېدو په زوره ئې وُوِ دا
چه څوک تږي وِي نو را دِ ځي تر ما
38 و دِ څښي که څوک په ما ايمان راوړي
پاک کتاب کښ چه څه رنګ ليکلي دِي
دَ هغهٔ له ځان به نور دَ ژوندون
دَ اوبو سيندونه بهيږي په مضمون
39 خو دائې و ويل دَ هغه روح په باب
چه راتلونکي وه په خلقو په شتاب

کلمة الله دلته دَ خپل مرګ او بیا ژوندي کېدلو او اسمان ته ختلو په ځای کښ اشارت ور کړي هغه خلق دا خیال کوي چه هغه به شاید یهودیه صوبه پریږدي او په هغه یهودیانو پسي به ګرځي چه دنیا کښ خوارهٔ واره دي په یونان کښ داسې یهودیان ډېر وو او په بیت المقدس

۸۴

کښ خلقو دا خیال کاوه چه مالک عیسیٰ مسیح به داسې وکړي چه به نور هم شوي یهودیانو ته تعلیم ورکوي یونانیانو کښ به تبلیغ او په دې خلق نه پوهیږي اشارو هغوی په وجهه دا چه خپل عقل به نقیض کاوه هم څکه غلط وه

چه ایمان یُ په عیسیٰ راوړي وهٔ
ولي چه روح لا تر دي نازل نهٔ شهٔ
سبب دا دي چه تر دي پوري عیسیٰ
خپل جلال ته رسیدلي نهٔ وه بیا
له مخلوق چه څنو وا وريدٔ دا بیان ۴۰
وِیُ ربنتیا دا دي هغه نبي ذی شان
څنو وِ مسیح دي. چا وِ غلط دِي 41
وِیُ څرنګ به له ګلیل مسیح راځي
پاک کتاب کښ څه دا رنګ لیک نهٔ دِي؟ 42
چه مسیح به دَ داوُد له نسله وِي
او دَ بیت الحم کلي نه راځي
چه داوُد اوسیده چرته واقع

43 ځکه دَ هغه په وجهي منځ آن
اولس شه بي اتفاقه په ګمان
44 ځنو تر دا وغوښتل چه وئي نيسي
خو هيچا لاس وريو نهٔ ور سم ستي
45 کاهنانو فریسیانو له په بیر ته
افسران راغلل هغوئ وویل ورته
تاسو ولي هَغه کس رانهٔ ویستلو
46 افسرانو دا جواب وله ورکړ لو
ګوري چا بني آدم دا رنګ خبري
47 لا تر اوسَ پوري کړي نهٔ دي چري
فریسیانو ځکه ورکړ دا جواب
تاسو ګمراه شوي هم يئ په دي باب؟
48 په مشرانو یا فریسیانو کښ چا
په هغهٔ ایمان راوړي دي څه یو خوا؟
49 دا عوام چه نهٔ پوهیږي په تورات
هغي دي لعنتیان په واقعات

له
بیا په دي ځای
کښې داسي واقعیه له
چه خلق د کلمة الله کلام ته
او تعلیم ته حیران شي او هم
قایل شي. مګر کلمة الله د
خپل نوم په موافق هرڅه په
خدایي خاوند وي. یعني د هغه
کلام په مخصصیت یا په عقل یا
علم یا د کلام نتیجه خاوند نه دي
او د خلقو و د هم نه دي
چه

86

عیسیٰ مسیح له بیره
هوښیار دي یا تعلیم یافته
یا تجربه کار دي لکه چه د نورو
خلقو صفت کیږي. مګر حیران
شو. او وې چه دا د اختیار
خاوند دي. دا یې کلام چیري
نشوي نه دي لکه هغه ګوري
پیر صحیح ښکله وي. چه کلام او
تعلیم د خدای دي. لکه څوک
د خدای په مرضۍ ګړو
خوشحاله وي. هغه به هم په
حقیقت پوه شي.

50 نیکدیمس چه رومبی هم وه راغلی
وه په دوی کښې یو کس. ورته ئې جواب ښکلی
51 چه څوک نه شریعت تر هغې پورې
څوک مجرم کولی شي څه چه څو پورې
دَ هغهٔ له خپلې خولې نه وانهٔ وري
او پوه نهٔ شي چه هغه څه کار کوي
52 هغوي ورکړلو جواب ورته ئې ویل
چه تهٔ هم دَ ګلیل یې بې تحمل
وګوره. وګوره چه یو نبي
له ګلیل څخه به بالکل نه راځي

اتم باب

1 هر یو خپل خپل کور ته لاړ شه خو عیسیٰ
کوه زیتون غره وته وخوت په یو خوا
2 او په بله ورځ په لوی سحر کښې بیا
بیت الله کښې شه داخل مسیح عیسیٰ

راغلل ټول خلق او هغه کښیناسته
او تعلیم یې بیا هغوي له ورکاوه
3 کاتبانو فریسیانو بیا مګر
یوه ښځه راویستله برابر
په زنا کښې هغه ونیولي شوله
چه په خپل منځ کښې یې هغه اودروله
4 وِیې استاذه چه دي ښځې کوم ساعت
زنا کوله ونیوي شوه په سرعت
5 توریت وایي چه داسي دِښي سنګسار
خو ته څه وایې؟ کړو موږ ستا انتظار
6 ولیکن هغوي دا خبره له واره
وکړله دَ هغهٔ دَ ازمیښت له دَ پاره
چه په څه وجهه پرِ ولګي الزام
خو عیسیٰ زمکي ته ټیټ شه په قیام
7 او په ګوته یې په زمکه څه لیکل
چه هغوي بیا بیا له دهٔ څني پوښتل

لپاره د فریسیانو
چه بنګاري شیطاني هم د لته صفا
پټي نو خوګ د موسیٰ توریت وایي
چه د قتل ښځه په زنا کښې ونیول
نو د قتل حکم پکار دي. هغه
چه د رومیانو په بني اسرائیلو
زور لا ور شو. نو هغوي په
لاس کښې د قتل حکم نه
او هغوي د زنا د پاره په خپل
سره د قتل حکم ساتلي وه
مالک عیسیٰ ته راوړه

دي شاقي کښې دا جواب ښيي
درکړي وي. چه قتل د ښځي
نو فریسیانو به د رومیانو نه وایي
شو چه هغه خلق لسموي او د
قانون د باغیان به دي. مګر که
فریسیانو به عامو خلقو ته وایي
شو چه هغه د شریعت باغي دي
نه دي. نو تاسو صفا ګڼله دا سي
ښيي وایې. پاک صیغه چه د هر
جواب ورکه چوله بنده شوه.

او دریځ نیغ اوځ ئي دارَ وه یو ځوا
وِئ چه له تاسو کوم کس وِ بي گناه
وله بنایيئ چه اول گزار کړي کاڼړي
8 بيا شه ټيټ او نوري ليکل په زمکي
9 وليکن چه هغوي داسي واورېدل
مشران اول بهر تِرِ وو تل
تر اخره بيا يو يو تِر نه لاړ شنه
او عيسیٰ هلته يواځي پاتي شنه
ښځه چه په مينځ کښ وه ولاړه هم
10 عيسیٰ نيغ اُودريد. وئي وِ هغه وم
ښځي. څه شو دوي؟ هيچا نه کړي مجرمه
11 ښځي ورته وُوِ هيچا نهٔ صاحبه

عیسیٰ وِ چه زهٔ هم نهٔ جرمومه تا
لاړ شه. گناه چرې مهٔ کوه بیا
12 بیا هغوي سره وکړ کلام عیسیٰ
ورته يې وِ چه دَ دُنیا یم زهٔ رڼا
نو هغه څوک چه په ما پسي راځي
په تیارهٔ کښ به هیچري نهٔ گرزي
بلکي دَ ژوندون رڼا به دَهغهٔ وي
13 فریسیانو څکه وِ سمدستي
دَ خپل ځان په حق شاهدي ورکړله تا
ولیکن ستا شاهدي نهٔ ده رښتیا
14 په جواب کښ عیسیٰ وول که زهٔ
دَ خپل ځان په حق شاهدي وکړمه څهٔ
خو زما شاهدي رښتیا ده مقدم
زهٔ یم پوه چه له کوم ځايُ راغلي یم
چرته ځم. خو تاسو نهٔ پوهیږئ یو دم
چه زهٔ راغلم له کوم ځايُ چرته به ځم

لاکه چه عیسیٰ مسیح دلته ځان ته دَ دنیا رڼا وایي. نو مثال دَ اختر دَ دنیا ... نهٔ اخستي شوي ... باب کښي ۲ اَیت کښي بیان ... دَ بیت المقدس خلق ... کښي هرکله چه ... تیارهٔ کښي ... اختر کښي ... بیدل ... دي چه ... په رڼا شي.

٩٠

... هغه اختر کښي هم ... کښي لار ... والله اعلم ... راغلم ... هغه چه له کومي ... انسان نهٔ شي ... پیغمبرانو ... عیسیٰ ... یعني مالک ... اشارهٔ ... فریسیانو نهٔ منلو ...

15 دَ جُثې په مطابق فیصله کوئ
خو دَ هیچا فیصله زهٔ نه کړم یوځائ
16 او که وکړمه فیصله. فیصله ځما
درسته ده. ولي یواځې نه یم بیا
بلکې یو زهٔ یم او بل دي ځما پلار
چه لي زهٔ رااستولم په دی کار
17 ستاسو شرع کښ دا هم لیکلي دي
شهادت دَ دوه کسانو رښتین وي
18 یو زهٔ یم چه کړم په خپل حق کښ شاهدي
بل م پلار دي چه ځما شهادت کړي
19 هغوي ځکه ورته وُو چه ستا پلار
دي کوم ځائ. عیسیٰ دا وُو په گفتار
تاسو ما نهٔ پیژنئ. نهٔ ځما پلار
که زهٔ تاسو پیژندي نو په اعتبار
نو ر به پلار ځما هم تاسو پیژندهٔ
20 چه تعلیم لي بیت الله کښ ورکاوهٔ

دا خبري ئې خزانه کښې نورو کړلي
خو هيڅا هغه بيا هم نهٔ وه نيولي
21 ځکه چه دَ هغهٔ لاوقت نهٔ وهِ راغلي
هغه بيا ور ته دا وکړ کلام ښکلي
زهٔ خو ځمه او تاسو به مِ بيا گورئ
او په خپلو گناهونو کښې به مرئ
چه زهٔ کوم مقام ته ځمه تاسو هلته
22 راتلى نهٔ شئ ـ يهود يانو خوله کړه بيرته
دي به ځان ووژني څه؟ چه وايي چرته
چه زهٔ ځم تلي نهٔ شئ تاسو هغه دَر ته
23 او هغوي ته ئې بيا وويل له ځمه
تاسو ييئ له ښکته ـ زهٔ له پاسَ يمه
اوهم دا چه تاسو يئي دَ دي دنيا
خو دَ دي دنيا زهٔ نهٔ يم په رښتيا
24 ځکه ما تاسو ته وکړ دا کلام
خپل گناهونو کښې به مرهٔ شئ تمام

که ایمان نهٔ راوړئ چه زهٔ هغه یم
خپلو ګناهونو کښ به مړهٔ شئ (١) هم
25 نو هغوي هغهٔ ته وُوِئه تهٔ څوک یې
عیسیٰ وِ زهٔ هغه یم چه هم ورمبي
تاسو ته ویلي دي ډیر په بابه شاده ما
26 ستاسو حق کښ ډیري خبري څما
دَ وینا او دَ فیصله شته په یقین
مګر چا چه واستولم دي رښتین
له هغهٔ چه اوریدلي م دي څهٔ
هغه خبري دنیا ته کوم زهٔ
27 ویکن دوئ پوه نهٔ شوُ په هیڅ لار
چه دَ پلار په باب يئ وکړ دا ګفتار
28 عیسیٰ بیا هغوي ته وُوِ هغه دم
کوم ساعت چه په لوړه ابن آدم

(١) [illegible] عام ګناه او خلق هغه ګناه باد وي. او د ګناهونو [illegible] ... روان [illegible] ... نصیحت ورد [illegible] او د هغه ګناه [illegible] ... [illegible]

لازم دي او ذ دي
نصیحت او د هغه د نفه په ویلو نیي.
هغوي بو نبرته [illegible] او ودکړ د حقیقي
هم د نفه يي [illegible] د عیسیٰ مسیح د [illegible]
[illegible] د انسان د [illegible] خطا کوي او هم
که د نیکۍ [illegible] کوشش کوي. هکه
هر کله چه انسان په [illegible] ایمان
راوړي هغه ته [illegible] خطا
[illegible] چه [illegible] کوي.
پیښیږي [illegible]

تاسو وخیژ وئ پوه به شئ بنه شان
زهٔ هَغه یم او هیڅ نه کړم له خپل ځان
څو خبري م هَغه شان کړي دِي
لکه پلار چه ما وته ښـولي دِي
۲۹ ما سره دي چا چه را واستو لم
زهٔ یوا ځي هم هغهٔ پرېښي نهٔ یم
ولي چه هَغه کارو نه کړم مدام
چه دَ هغهٔ بی شکه خوښ دِي وا تمام
30 چه څه وقت هغهٔ کاوه دَغه بیان
ډیرو خلقو په هغهٔ راوړ ایمان
31 یهودیانو چه پرِ راوړي وه ایمان
عیسیٰ ورته کلام وکړ په دي شان
که قایم شئ تاسو په کلام زما
نو زما مریدان یئ بیا په رښتیا
32 نو به تاسو پوه شئ په حقیقت
حقیقت به مو ازاد کړِي په سرعت

33 هغوی ورکړلو عیسیٰ له دا جواب
مونږ دَ ابراهیم نسل یوُ ای جناب
هیچري موُ کړي نهٔ ده غلامي
وایيُ څنګه وبه مومیُ ازادي[ل]
34 عیسیٰ وِ وایم رښتیا چه هر انسان
چه ګناه کړي دَ ګناه مریٔ دي هر شان
35 او غلام مُدام په کور نهٔ پاتي کیږي
ولیکن ځويُ همیشه کور کښ اوسیږي
36 که ځویُ تاسو ازاد کړي نو په رښتیا
37 به ازاد یيُ. ده معلومه ماته بیا
چه دَ ابراهیم له نسله تاسو یيُ
تاسو خو کوشش کويُ چه مړم کړيُ
ولیکن وجهه داده چه څما کلام
په خپل زړه کښ تاسو نهٔ لويُ مُدام

صفحا ۱۰۱
معلومیږي چه لفظي
پلار دَ یهود دپاغو په
مذهبي بحث کښي په
جسماني طور په رحم
شان سره نه استعمالیږي
په دي ځاي کښي لفظي
پلار په دري قسمه
یادیږي - اول دَ خداي
دَ پلار دویم دَ ابراهیم
خلیل الله دَ پلار - سریم
دَ دي چه ... کاله
اول محمد دي. دریم
دَ ابلیس دَ پلار - دا ما ځکه
خبره ده چه دا دري وا امه په
جسماني طور استعمالیږي. پلار توب
دَ خوښي وایلي اصل دي. نو اصل
ته پلار ویلي شي. یهودیان په
دنیاوي طور دَ ابراهیم خلیل الله
نسل وه او هغه دَ هغوي اصل وه
هکه چه هغوي کوشش کاوه. چه
ابراهیم خلیل الله غوندي مذهبي
اصل ثابت نه کړي. نو

مالک مسیح دَ منلو نه
شوولي چه هغوي داسي
کارونه کول چه دَ کار اصل
ئي نه وه. نو مالک مسیح وایي
ابلیس ستاسو اصل په شیطان ئي
چه هغه ستاسو پلار دي. لکه چه
دي یهودو یي ستاسو لفظي هم دَ
عیسایان ... استعمالیږي او چه
دَ مالک مسیح اصل دَ پاره
اصل خبره ده لکه چه
دا دَ اصل وایي چه له خداي نه
هغه پیغمبله وایي او داغلي یم
نه راوتلي

38 چه هر څه مِ دي لیدلي له خپل پلار
هغه وایم خو چه څه تاسو بیا له وار
له خپل پلار څخه هم اوریدلي دِي
تاسو هغه شان کوئ خو یقیني
39 هغوي ورته په جواب کښ وویل
چه څمونږ پلار ابراهیم دي مکمل
عیسیٰ وِ که ابراهیم وي ستاسو پلار
دَ هغهٔ په شان به تاسو کاوه کار
40 خو اوس تاسو کړئ دَ مرګ کوشش څما
یعني یو کس چه کوي کلام رښتیا
چه خدائ نه څه هغهٔ دي اوریدلي
ابراهیم خو داسي کار نهٔ کاوه چري
41 تاسو کړئ کارونه دَ خپل پلار په شان
هغوي وُوِ. مونږ نهٔ یوُ حرامیان

د هر یو شي اصل او ذات په پلار
کښې معلومیږي. نو د
پلار په وجهه په شي
کښې هغه اصل او ذات
راغي دي. نو هر کله
چې کلمة الله یعني مالک
مسیح له خدایه راوتلی
او راغلی دی هغه اصل د
خدای په هغه کښې دی
یعني اصلي حقیقي
پلارتوب د خدای د
مالک عیسی مسیح په نسبت
دي. نو که فرض کړه یهودیان
یعني لکه چه نو د اصل
دا خدای یې دي. نو دا به هله
خدای یې دي چه هغوی اصلي مسیح
د هغه کلام ومني. چې هغه
په ماسره مینه لري. او د تاسو پلار وي
نو مالک مسیح د حق او د حق معیار
شه. چه هغه قبلوي. هم
خدای یې قبلوي. چه

موږ ته یو پلار لرو یعني پاک خدای

42 عیسی ورته وویل که خدای ستاسو پلار وو نو ما سره
به مو مینه لرله ولې چه زه له خدای نه راوتلی یم
او راغلی یم. نه چه په خپله راغلی یم
بلکه هغه زه لېږلی یم

43 ستاسو نه پوهیږئ ولې؟
سبب دا دی چه ستاسو هغه کلام
اورېدلی نه شئ. تاسو په خپل فام

44 تاسو د خپل پلار ابلیس یئ غواړئ هم
چه شوقونه د خپل پلار وکړئ هر دم
هغه وه اول خوني. او په خصلت
پاتې نه شه. په کښې نه وه حقیقت

دا لفظونه د خدای نه
قبلول دا دي یعني په
دی ورکول. او د کلمة الله
کښې ایمان او عمل په
کلام ومنی.
د هغه
چه کلمة الله
خپل
قبلوي.

چه دروغ وایي له ځان وایي. وجهه دا
دروغژن دي - بلکي دَ دروغ آبا
45 لیکن زهٔ تاسو ته وایمه رښتیا
ځکه نهٔ کوئ یقین تاسو په ما
46 دي په تاسو کښ څوک هم چه نور په ما
څه گناه ثابتوي؟- که وایم رښتیا
ولي نهٔ کوئ په ما باندِ یقین
47 که څوک وِي دَ خدائ نو هغه برحین
دَ خدائ کلام اورِي - خو تاسو ځکه
نهٔ اورئ چه نهٔ یئ له خدائ بي شکه
48 یهودیانو وِ ښه نهٔ وایو څه : دا
چه سامري یئ ته او بد روح مل دي ستا
49 عیسیٰ وِ بد روح په ځان کښ نهٔ وینم
ولیکن زهٔ دَ خپل پلار عزت کوم
تاسو کوئ بي عزتي ځما هر روم
50 مگر زهٔ خو ځپله لویئ نهٔ غواړم

خو يو شته دي چه يې غواړي فيصله کړي
51 رښتيا تاسو وته وايم سرسري
که کلام زما اوري څوک عمل پرې کړي
تر هيش پوري به مرګ و نه ويني
52 يهوديانو ورته ووې اوس پوه شو
چه په تا کښ خو بې شکه شته بدروح
ابراهيم او انبيا واړه مړه دي
ته وايې که زما په کلام څوک عمل کړي
هغه به د مرګ مزه نور تر بقا
هيچري په هيڅ شان و نه څکي بيا
53 ته لوی يې څه؟ له ابراهيم څمونږ آبا
چه مړ دي - او مړه هم دي ټول انبيا
مونږ ته ووايه - ته څه ګڼې ځپل ځان
54 عيسى ورکړلو جواب هغه زمان
که لويي ځپله کړم نو هيڅ نه ده دا
پلار زما هغه دي چه کړي لويي زما

یعني هَغه چه تاسو ئمونږ خدائي
55 وَرته وایئي. خو تاسو ئې نه پیژنئ
زهٔ ئې پیژنم. که ووایم یو آن
چه ئې نهٔ پیژنم نو ستاسو په شان
دروغژن به وم خو اوس ئې پیژنمه
دَ هغهٔ په کلام زهٔ عمل کومه
56 ستاسو پلار ابراهیم هم ښادي کوله
چه ځما ورځ وویني او وئې لیدله
57 شـه خوشحاله - بیا یهودیانو هغه ته وو
وِ چه نهٔ یي دَ پنځوسو کالو هم
ابراهیم دِ دَي لیدلی څنګه بیا
58 عیسیٰ وِ وایمه تاسو ته ربښتیا
له دي نه پخوا چه ابراهیم پیدا شه
زهٔ یم

حق تعالیٰ ابراهیم خلیل الله سره څو وعدې کړي وې اوله دا: چه ستا دنیادي قدم به یې ښاد لوی نږدي. دوییم دا: چه ستا نسل کښې به هغه ... دَ دروښتي دنیا دَ پاره دي ... خلیل الله ... هغه پیدا شي ... ستا نسل کښې به ... شان ... خوشحاله وه

100

چه دَ هغه دا الیباق وه ... چه ستا په نسل کښې دَ دنیا دَ پاره خلاصون پیدا کیږي ... کلیمة الله دا خبري ... نو چه ... مالک عیسیٰ خیل ... خلق دا ... نعمت حرکیږي ... خان دا ... دَ کلیمة الله کلام ... یوحنا ... نوي په تورات شریف کښې ... هیڅ ... مطلب ... علیه السلام ... خدائي ... شروع ... کیدل ... ربانیت ... یه اول ... هم هغه ... کاله ... خلیل الله ... مالک ... کلیمة الله ... دانه ... صفت ... اخلي ... چه ورته ...

59 هغوي ښکه کانړي پورته کړل تیار
چه په عیسیٰ باندِ زر وکړِي ګذار
خو عیسیٰ له هغوي نه پټ شهٔ دغه حین
وَوته له بیت الله نه په یقین

نهم باب

1 او عیسیٰ چه تیریدهٔ نو یو سړي
2 ئې ولیدلو چه وهٔ نور روند پیدا شوي
مریدانو تِرِ نه پوښتنه وکړه
ایُ استاذ دهٔ پخپله ګناه کړي ده
یا ئې مور پلار چه دي روند شولو پیدا
3 عیسیٰ وُوِ په جواب کښ ورته دا
نهٔ ګناه وکړله دهٔ. نهٔ ئې مور پلار
مګر چه دَ خدائ کارونه شِي اظهار
4 مونږ له ښائیُ چه تر څو پوري ورځ وِي
دَ هغهٔ کارونه وکړوُ سمدستي

چه يې راواستولم- بیا چه شپه راځي
نو په کښ به هیڅوک کار کولي نهٔ شي
5 چه ترڅو پورې زهٔ یم په دې دُنیا
ترهغې زهٔ یمه دَ دُنیا رڼړا
6 عیسیٰ بیا ورته دا وویل په یو ځل
پس له دې نه يې په زمکه وتوکل
او په لاړو باندې يې خټه جوړه کړله
بیا په سترګو يې دَ ړوند ولګوله
7 ورته يې وَوِ دَ شیلوخ تالاو ته ځه ته
دَ هغې په اوبو سترګې ووینځه ته
ړوند لاړ شهٔ او ويې وینځلې خپلې سترګې
چه يې نظر وشهٔ په بیرته راغې ښکلې
8 ګاونډیانو او هغوې چه ولیدهٔ
چه ورمبي به هغه هر وقت خیر غوښتهٔ
ځکه دوي وَوِ دا هغه نهٔ دې ځهٔ؟
چه به ناست وهٔ او خیرات به يې غوښتهٔ

د شیلوخ ترجمه دا ده:- لیږلی شوی.

۹ څنو وِ چه هغه دي۔ نور وِ نه دي
۱۰ خو دَ هغه په شان بل څوک آواره دي
خو هغهٔ پخپله وِ زهٔ هغه یمه
هغوي وِ څنګه بینا شوي له یو دمه
هغه کس چه خلق ورته وايي عیسیٰ
۱۱ هغه خټه جوړه کړله او ځما
په دي سترګو يې ولګوله وِ چه ځه
دَ شَیلوخ تالاو ته۔ هلته يې ووینځه
په فرمان يې زهٔ شَیلوخ ورته لاړم
په وینځلو مِ نظر وشه۔ وینم
12 هغوي نور هم له هغهٔ نه وکړ سوال
هغه کوم ځائ دي۔ وِ خبر نه یم په حال
13 هغوي هغه سړي چه ړومبي ړوند وُ نه
فریسیانو څخه هغه دم بوتلو نه
او هغه دَ سبت ورځ وه چه عیسیٰ
خټه جوړه کړه او سترګي يې کړي بینا

15 فریسیانو څکه هم تپوس وکهٔ
دایهٔ۔ څنګه ستا نظر ولګیدهٔ
ورته ئې وو هغه خټه جوړه کړله
او په سترګو ئې ځما ولګوله
چه زه وو ینځلي لګې زما نظر
16 څنو وُوِ فریسیانو نه مګر
چه هغه سړي د رب له لوري نهٔ دي
ولي چه د سبت د ورځي پابند نهٔ دي
مګر نورو وِ که دي وي ګنا هګار
څنګه به ئې دا نښي کړي وي اظهار؟
په دوئ کښ بې اتفاقي شوله حایل
17 هغوي څکه هغه ړوند ته وویل
د هغه سړي په باب کښ ته څه وایي
ولي چه ستا هغه پرانستلي سترګي
هغه وُوِ چه نبي دي په اعتبار
18 خو تر څو چه ئې د هغه ړوند مور و پلار

پٌه ۵ باب کښی ۹ ایت د سبت د ورځی بیان شوی دی یهودیانو پٌه دی حکم دومره سخت ټینګ شوی وو چه د سبت پٌه ورځ ئې نیکی کول ئې هم ګناه ګڼله۔

خدائی د هغوی پٌه منځ کښی یو داسی کس لیږلی وه چه پٌه قدرت سره پٌه ئې زور او دو کاروونه کول۔ عجب د خیال جوړه شوی خیال پٌه قائمولو هغوی لیږلی شوی

کس رد کړه او آدم دا ګناه پٌه عام طور سره نبی یا علم تعلیم جوړه کړی۔ چه قیاس خلاف پٌه موافق نه دی او چه د خدای کار رد کړی او خلق ئې قائم ساتی۔ جن نیک کار دا ده چه آخر خدائی خیل قابیدی او هغه خلق غرق ئې چه ئې نه منی

راغوښتلي نهُ وُو یهود تر هغه حینه
دَ هغهُ په حق کښې نهٔ کاوه یقین
چه دي ړوند وه خو اوس شوي وه بینا
۱۹ تر نه يُې دا رنګ تپوس وکړ لو بیا
ستاسو ځويُ دي څه چه تاسو وايئ دا
ړوند پیدا شه ـ څنګه يُې وشه نظر بیا
۲۰ مور و پلار يُې وِ موږ ښه پېژنُو دا
چه ځموږ ځويُ دي او ړوند هم شهُ پیدا
۲۱ په دې نه پوهیږُو اوس څنګه بینا شه
او نهٔ موږ ته دهٔ معلومه چه له چا شه
هغه دي بالغ ـ تپوس وکړئ هغهُ نه
دَ خپل ځان په حق به ووايي پخپله
۲۲ مور و پلار يُې له یهود نه ویریدل
ځکه يُې دا خبري وکړلي وا ځل
یهود دا اتفاق کړي وه دا وار
چه هر څوک چه دَ مسیح وکړي اقرار

هغه کس به خارج شِي له جماعت
23 په دي د جهي يُ مورو پلار وِيٖه ساعت
دي بالغ نو تپوس وکړئ له هغهُ
24 هغوي ړوند په دویم ځل راوغوښتهٔ
ورته ئي وِته صفت وکړه دَ ستار
معلوم دي چه دا سړي دي ګناهګار
25 هغه ړوند دا جواب ورکړ په تلوار
خبر نهٔ یم که هغه وِي ګناهګار
مګر زهٔ خالي په دي ښه پوهیږم
26 چه ړوند وم. اوس م نظرلګي. وینم
هغوي ځکه وُوِ ځه ئي وکړل چه ستا
سترګي پرانستي شوي ته شوی بینا
27 هغه وِ تاسو ته اوس ویلي دي ما
تاسو وانه وریدل. ځه غواړئ اوس بیا
چه له مانه واورئ. زړهٔ مو کیږي ځه؟
چه تاسو دَ هغهُ مریدان شئ. که؟

28 هغوي وِ ورته په بد ردَ وَیّنا
تهٔ دَ هغهٔ مرید یې. موږ دَ موسیٰ
29 موږه ښه پوهیږو چه پاک پروردګار
له موسیٰ سره وکړ کلام له وار
ولیکن نهٔ پوهیږو موږه په دي
اې کوم ځایٔ نه دي راغلي دا سړي
30 دغه ړوند وله جواب ورکړلو بیا
عجیبه راته اوس ښکاري کلام دا
تاسو نه پوهیږيُ له کوم ځایٔ دي راغلي
هم چه ځما سترګي هغه دي پرانستلي
31 موږ ته دا معلومه ده چه پاک خدائ
نهٔ اوري دَ ګناه ګار کس په هیڅ ځایٔ
مګر که چري څوک پاک خدائ یادوِي
او دَ هغه رضا کړي. خدائ يې اوري
32 دَ دنیا له شروع هیچري له چا
اوریدلي نهٔ دي چري موږه دا

چادَ روند پیدا شوي ستر کې پرانستلي
33 کہ دا کس دَ رب له لورِ نهٔ وي راغلي
نو هغه به هیڅ کولي نهٔ شو بیا
34 هغوي وُوِ په جواب کښ خوا مخوا
په گناه کښ پیدا شوي یې بالکل تهٔ
مونږ ته ښایې تعلیم څه؟ بهرئې وشاړهٔ
35 عیسیٰ واوریدل چه هغه ئې وشړلو
نو چه هغه ئې بیا موند ورته ئې وویلو
تهٔ راورېِ څه؟ دَ خدائې په ځوئې ایمان
36 نو هغهٔ جواب کښ وُوِ هغه آن
هَغه څوک دي چه ایمان پرِ زهٔ راورم
37 عیسیٰ وِ هَغه لیدلي دي تا هم
هَغه څوک چه تا سره خبري کړِي
38 هم هغه دي - سرِي وُوِ سمدستي

اىٔ مالکه زهٔ رښتی ایمان راوړم
او سجده ئې ورته وکړه هغه دم
39 عیسیٰ ووېل دَ عدالت دَ پاره
دې دنیا ته یم راغلې چه له واره
خاص هغوې چه نهٔ وینې دوې ووینه
او هغوې چه وینې هغه ړانده شینه
40 فریسیانو نه چه څوک وُو ورسره
چه ئې داخبرې واورېدې ښکاره
هغوئې وُوِ مونږ هم ړانده یوٌ څه؟
41 عیسیٰ ووېل که تاسو وې ړانده
نو گناه به ستاسو نه وه خوچه وایئ
مونږه وینو نو قائمه گناه بیایئ

لسم باب

1 رښتیا تاسو ته وایم چه څوک راځي
او هغه دَ گډو شپول ته ننوزي

خو نهُ په ور بلکي اوړي په بل لار
نو هغه بي شکه غل دي هم لوټمار
۲ چه هر څوک په دروازي شي وردرون
په ربنتیا هغه کس دي دَ ګډو شپون
۳ څوکیدار ورته پرانزي. ګډي هم
دَ هغهٔ اواز اوري په هغه دم
خپلو ګډو ته په نوم نوم اواز کړِي
او بهر یُي هم بیایُلو له بیا بیي
۴ او چه خپلي ټولي ګډي وباسي
نو مخپله دَ هغوي په مخکښِ ځِي
ولي چه ګډي دَهغهُ پیروي کړِي
سبب دا دي چه اوازيُ پیژ‌ني
۵ مګر په پردي سړي پسي به چرِي
لاړي نه شي بلکي تښتي به ترِ لري
ولي چه دَ غیر اواز نهُ پیژني
۶ عیسیٰ دويُ ته بیان وکړ حقیقي

110

[illegible]

[illegible]

لیکن پوه نهٔ شو هغوئ په دي مثال
چه دهٔ مونږ ته کوم شئ ووفي الحال
7 عیسیٰ بیا ورته ویل رښتیا وایم
زهٔ دَ ګډو حقیقي دروازه یم
8 څو چه له ما نه اول راغلي وِي
هغه واړهٔ هم لوټمار او هم غلهٔ دِي
مګر ګډو دَ هغوئ وانهٔ وریدل
9 و لیکن دروازه زهٔ یم مکمل
چه څوک په وسیلي څما ننوزي
حقیقت کښې به خلاصون دي بیا مومي
او دننه او بهر به ځي راځي
هم خوراک به هغه په بنه شان مومي

ح چه په اول مثال خلق پوه نه شو مالک مسیح ورته په بل نوع واضحو الفاظو مطلب بنایي. او خاص معني دا ده چه په یو نوع کسان چه ... راغلي موعود دي هغوي ... دروغژن دي د یهودیانو خلق چه تاریخ نه بالکل خبر ...

[illegible]

[illegible]

١٠ غل له دي نه په څه بل نیت نهُ راځي
چه غلا یا مړک یا نور ورانۍ وکړي
زهُ راغلم چه هغوي ولري ژوندون
١١ بلکي چه زیات ولري. زهُ یم ښه شپون
ښه شپون دَ ګډو دَ پاره نور خپل ځان
١٢ ورکوي. مزدور چه مالک نهُ دي هیڅ شان
څه وقت چه شرمښ په راتلو ویني
ګډي پرېږدي او ځنګله وتښتي
او شرمښ راځي او ګډي ونیسي
بیا بدحاله او خوري وري ئي کړي
13 تښتي څکه چه مزدور دي په هر حال
په بابت دَ ګډو نهُ کوي هیڅ خیال
١٤ ښه شپون زهُ یم زهُ خپلي ګډي پېژنم
څما ګډي هم ما پېژني هر دم
١٥ لکه ما پېژني پلار. زهُ ئي پېژنم
دَ ګډو دَ پاره خپل ځان ورکوم

په ۹ باب کښي کوم وقت چه کلیمة الله په ده معجزې سره خلقوله ډوډۍ ورکړله او هغوي راغلل چه مالک مسیح په زور بادشاه کړي نو هغه ځان خلاص کړه او بهر لاړه نه يعني خدا لا لاړه هم ښه موقعه د هغه خیال دي ولي هغه غوڅ غوڅ او جوړه کړم عیسی مسیح پخپله هم

او څکه هغه پادشاهت چه دنیاوي نه دي ځان هم ورکوي او هم مخالفت به ورکړي څکه شرمښ هم د مثال کښي غیر بادشاه فوج دي او دښمن یعني مالک هم اصلي شیطان دي هغه نه دي تښتیدلي

16 بي له دوئ هم نوري گډي شته ځما
دَ دي شپول نهٔ دِي خودي ضرور په ما
هغوي راولم. اواز به مِ اورِي
او گنډ ک به يو شِي هم شپون به يو وِي
17 ځکه پلار ما سره مينه کوي هروم
چه زهٔ خپل ځان ورکوم بيائي واخلم
18 نو هيڅوک ئي په زور نهٔ اخلي له ما
خو پخپله ئي ورکوم زهٔ په رښتيا
اختيار لرم چه ئي ورکړم او بيائي واخلم
پلار مِ دا حکم راکړي دي محکم
19 په يهود کښ په سبب دَ دي کلام
راغله بي اتفاقي په دي مقام
20 ډيرو وِچه هغه کښ بد روح دي پخپله
ليوني دي. دَ هغه تاسو اورئ ځله

ع په دي ځاي کښ مالک مسيح بيا دا اشارت ورکوي چه هغه تش دَ يو قوم دَ پاره نهٔ دي ... يعني دَ يهود او دَ غير قومونو ... ديوال دي ... خلق دا غلط خيال کوي چه کليسه الله صرف دَ يو قوم دَ پاره دي ...

١١٣

... هم چه ... اختيار له ځانه ... مالک مسيح پخپله ... پلار له طرف حکم دي ... عيسى به بيا ژوندي ... مالک عيسى ... دَ خدائ ...

21 نو روح چه هسي رنګ خبري ښکلي
دَ بد روح تابیع کس شي کله کولي
دَ بد روح قوت څوک شي داسي ښودلي
چه دَ ړوند کس هم شي سترګي پرانستلي
22 په بیت المقدس کښې بیا اختر شهٔ
چه يې نوم وه تجدید وقت دَ ژمي وه
23 او عیسیٰ په بیت الله کښې هغه آن
منځ و نو کښې ګرزیدهٔ دَ سلیمان
24 یهودیان تر شوُ چاپیره دا زمان
ورته يې وِ چه تر څو به تهٔ دا شان
مونږ شکمند پریږدي - که چري په رښتیا
تهٔ مسیح یې مونږ ته وُوایه صفا
25 عیسیٰ وُوِ په جواب تاسو ته ما
دِي ویلي - خو یقین نهٔ کويِ بیا
کوم کار و نه چه يې کوم په نوم دَ پلار
هم هغه مِ شاهیدي کوي بار بار

چه مالک عیسیٰ له
مسیح دلته خلقو ته صفا
نه دي ویلي چه زه هغه مسیح یم
چه راتلونکی وه نو وجهه دا ده چه
دَ خلقو خیال په دي مضمون غلط
وه. ولي چه هغوئ وِ چه هر کله
چه هغه مسیح راشي په طور دَ دنیا دي
بادشاه په لویه دبدبه به راشي. او دَ
رومي حکومت له زغمه نه به مونږ
ازاد کړي. مګر چه مالک عیسیٰ مسیح
په طور دَ [illegible] نجات
ورکوونکي راغی یعني په طور دَ
دَ فدیه په خدمت کښې راغی نو دَ
خلقو غلط خیال هغه [illegible] نه شه. ولي
هغه چه کله چري هغه ویلي دي چه زه
مسیح یم [illegible] دي نو خلقو
به بیا دا خیال کړي دي چه ازاد شو
غوغا او جنګ پکار دي چه اوس
پیدا [illegible] به صرف دا وه چه [illegible]
خلق به غرق شوي وي. ځکه تر هغه
پوري چه خلق په اصلي معني پوه نه شو
[illegible]

26 مګر تاسو پر یقین څکه نهٔ کړئ
چه شامل څما په ګډوګښ نهٔ يئ
27 او څما ګډي څما آواز اوري
زهٔ يې پيژنم. په ما پسي راځي
28 او دَ تل ژوندون زهٔ ولـه ورکوم
تل تر تله به هلاک نهٔ شي وايم
څوک له ما به يې چري ونهٔ شوکوي
29 څما پلار چه يې ما له دا راکړي دي
دي له ټولو لوئ - هيڅوک څما دَ پلار
لاس نه نهٔ شي تښتولي په هيڅ لار
30-31 زهٔ او پلار مونږ يو يو - يهوديانو بيا
کاڼي پورته کړل چه سنګسار کړي عيسیٰ

32 عیسیٰ ورکړ بیا جواب چه ما دَ پلار
له لوري ډیر وښولو ښه کاروبار
له هغهٔ نه په سبب دَ کوم یو کار
تاسو خیال کوئ چه ما اوس کړئ سنګسار
33 یهودِ وُوِ. نهٔ په وجهه دَ ښه کار
خو دَ کفر په سبب تا کړُو سنګسار
وجهه دا ده چه تهٔ هم یې یو انسان
خو تهٔ خدائ جوړوي اوس له خپل ځان
34 عیسیٰ هسې رنګه وُوِ په جواب کښې
ولې؟ نهٔ دي لیک دا رنګ ستاسو کتاب کښې
چه ما وویلے یئ تاسو خدایان
35 که هغوئ ته خدایان وُوِ بیحان
چه هغوئ ته راغې دَ خدائ کلام
(پاک کتاب منسوخ کیدی نهٔ شي زیر بام)
36 نو که هغه کس چه خاص پلار مقدس کړلو
او دنیا وته ئې بیا راواستولو

له په ۸۲ زبور کښې او په ۶ آیت کښې

دا خبره واضح ده

ورته وایيُ څه؟ تا کفر وُوِ هم
چه ماوویل چه زهٔ دَ خدایٔ څوئ یم
37 که زهٔ دَ خپل پلار کارونه چرې نه کړم
38 یقین په ماممه کړئ. خو که زهٔ ئې کوم
نو اګر که نهٔ کوئ په ما یقین
خو په دې کارونو کړئ یقین معین
دی دَ پاره چه شِې تاسو ته بنه شان
معلوم او چه په دې پوه شئ وا ان
چه پلار دې په ماکښ زهٔ په هغهٔ کښ یم
39 هغوئ څکه کوشش وکړ هغه دم
چه ئې ونیسِي. هغه ئې له مینځه لاړ
40 له یردن نه هغه خوا ته بیا وجاړ
لاړ چه چرته بپتسمه یحیٰی اول
ورکوله. هغه پاتې شه وا څل
41 او ډیر خلق به ورتلل. دا به ئې ویل
چه هیڅ نښه هم یحیٰی ونه کړه تل

خو دَ دی سری پہ حق کښ چہ ئې وئیلا
کړي وَه هغه تمام هم وَه رښتیا
42 چہ عیسیٰ هلته ډیرہ وَه کوم زمان
ډیر و خلقو پہ هغه راوړ ایمان

یوولسم باب

1 بیا یو کس ناجوړه وَه یعني لعزر
چہ دَ بیت عنیا کلي وَه اظهر
چہ وَه کلي دَ مریمي او مرتها
2 دا هم هغه مریم وَه چہ ئې پښوا
عطر اړولي وُو پہ مالک عیسیٰ
پہ ویښتو ئې دَ هغه پښي کړي وچي بیا
هم دَ دغو ورور لعزر ناجوړه وَه
3 خویند و ئې بیا خبر عیسیٰ ته واستوه
چہ لہ چا مالک تہ مینه کړي بسیار
کوره اوس هم دي ډیر هغه کس بیمار

۴ چه څه وقت دا واوریدل مالک عیسیٰ
وئي ویل دا د مرګ نهٔ دهٔ ناروغتیا
مګر ده د پاک الله جلاله د پاره
چه د خدای د ځوئ لويي شي ترېښکاره
۵ او عیسیٰ له مرتها او د هغې له خور
او له لعزر سره مینه کړه ضرور
۶ چه څه وقت ئي واوریدل چه بیمار شهٔ
هم هغه ځائ کښ چه چرته هغه وه
نوري دوه ورځي شه پاتي هغه ان
۷ مریدانو ته ئي بیا وکړه فرمان
ځئ چه نیت د یهودیه کړو بیا اغاز
۸ مریدانو ور ته وویئ استاذ
یهودیانو اوس هم دا کوشش کاوه
چه کړي تا سنګسار بیا هلته غواړي تلهٔ؟
۹ عیسیٰ نور دا جواب ورکړ سمدستي
چه د ورځي دولس ساعته څه نهٔ دي؟

که دَ ورشي کرزي ځوک تندک نهٔ خوري
ولې چه دَ دي دنیا رڼا وینِي
ولیکن که ځوک دَ شپي چري کرزي ١٠
چه رڼا په کښ نشته-تندک به خوري
پس له دي يُ وُوِ ځمونږه دوست لعزر ١١
اوده شهٔ. ځم چه يُ ويخ کړم مګر
مریدانو ورته وِ مالک بنه دِي 12
که هغه دي اوده شوي نو ځي به شِي
عیسیٰ کړ دَ هغهٔ دَ مرګ په باب کلام ١٣
ولیکن هغوي کاوه خیال دَ ارام
لعزر مړ دي عیسیٰ وُوِ بیا صفا ١٤
په سبب ستاسو خوشحاله یم زهٔ بیا ١٥
چه زهٔ هلته نهٔ وم-چه تاسو راوړئ ایمان
لیکن ځئ چه ورشو هلته دا زمان
بیا توما چه برغوني بللي شِي 16
خپل ملګرو ته وِ ځئ ځو چه دي ځي

لـ ١٠ که دوستوکي د لعزر دنیا ژوندي کولو لـ واقع نه پوره فائده غواړي نو هغه دوی خیال خاص ونه کړي چه دا تش معجزه ده. ولې چه مالک ﷺ هیڅ هیچري زوراور کار تش د معجزي په مطلب نه دي کړي. مالک عیسیٰ ﷺ خپلو مریدانو ته وُوِ چه دا ستاسو د ایمان د پاره دي یعني په دي کار کښي د مالک ﷺ د نجات د کار عکس دي. لعزر وه. په هر شان سره مړه و. بیخ مالک عیسیٰ کښې ته ورسیده. هیڅ اراښک او مخکښ نه شه کولي. چه شاید مړه نه دي. راسي دي چه تولي خبري چه کیږي مریدانو ته وښول چه مالک ﷺ خپلو د قیامت او د ټیخ کولو طاقت څه په حواله شوي دي. نو د لعزر بیا ژوندي کول صرف یو اشاره د قیامت د پاره ده.

هلته مړهٔ هغه سره شو سراسر
١٧ په تلو تلو کښې عیسیٰ شه په دې خبر
چه اوس شوي دي څلور ورځې برابر
چه په قبر کښې یې ایښي دي لعزر
18 او له بیت المقدس بیت عیناه
نږدې وه یعني قریب دَوه میله وه
١٩ له یهودیانو ډیر خلق عُذر خوا
وُو راغلي تر مریمې او مرتها
20 نو مرتها چه خبر شوه راځي عیسیٰ
زر یې مخې لره ورغلله بیا
خو مریمه کور کښې ناسته وه هکه پکه
21 بیا مرتها عیسیٰ ته وویل مالکه
که وې دلته مړ به نهٔ وه ځما ورور
22 خو اوس هم ما ته معلوم دي په ښه طور
چه ته څهٔ له خدایه غواړې درکوي
23 عیسیٰ وُو ویل بیا به ستا ورور ژوندې شي

24 مرتهاووُ زه پوهیږم له یقینه
دَ قیامت په ورځ به هغه ژوندي شینه
25 عیسیٰ ووېل زه یم ژوند او قیامت
چه په ما څوک ایمان راوړي بي مهلت
که مړ شي هم به ژوندي دي پاتي شي
26 که هر څوک ژوندي په ما ایمان راوړي
تر همیش پوري به چري مړ نهٔ شي
وایه ستا په دي خبره یقین بنه شي
27 دي وِ هو مالکَ ایمان م دي راوړلي
چه تهٔ یي مسیح دَ خدایٔ څوي بناغلي
چه هغه را تلونکي دي تر دي دنیا
28 چه یُي دا خبري وکړي لاړه بیا
خپله خور مریم یُ کړه روښان خبر
وِچه راغلی استاذ تا غواړي بهر

له
په دی ځای
کښی د عیسی مسیح یعنی چه
زوړ او ره خبره داغله بیمار ژوندی
د ټل ژوند ورکولو او د مړو ژوندی کولو طاقت په هغه کښی دی.
معلومیږی چه عیسی مسیح له شروع
نه پوره شته به څه وینی. او د لعزر په قبر باندی
یی خلقو ته وښوله چه دا کار څه
څه مطلب لری. یعنی چه
خدای تعالیٰ د قدرت

١٢٢
آواز ما ته سپارلی
دی. خاص چه کله خیال اول په دی
پکار دی چه بیان کښی د عیسی
کلمة الله په هغه له روښ به خلاصی
وری نو د هغه شان سره دومره لوی
په مسیح نه وغ انصتی. چه وشه
کار طهور د ثبوت شی. چه
د چه نزول انسان بوره هیڅ
عیسی مسیح بیان لوی ثبوت
او له دی نه شه به ټی ټوک
دی کیږی نه قایل نه شی دلیل
دلته قایل نه شی
بل په څه نه شی
شکه انسان په هغه
تولو کولیه شی.

29 چه مَریم تِر دا خبره واوریدله
زَر را پاڅیده عیسیٰ له ورغلله
30 او عیسیٰ کلي ته نهٔ وه رسید لي
هلته وه چه مرتهاچرته وه لید لي
31 یهودیان چه ناست ووغمزِله په کور
دَمریمي تلل چه یې ولیدل نو نور
په دي خیال دوي ورپسي شوله تلواره
شاید قبر باندِ ځي ژړا دَ پاره
32 چه مریم ترهغه ځایَ ورسید له
چه عیسیٰ وه نو په پښو یې پریوتله
وِ یې که ته وي په دي ځایَ ځمامالکه
نو ځما ورور به مړ شوي نهٔ وه بی شکه
33 ځکه څه وقت چه عیسیٰ داسي مریمه
یهودیان چه ورسره وو له دی وسره
په ژړا ولیدل روح کښ هغه آن
ډیر غمژن شه هم بی حده پریشان

34 عیسیٰ وِ هغه مُو یښي دي کوم خواه
دوي وِ راشه مالک خپله ئي وګوره
35 نو په دي دَ عیسیٰ اوښي وبهيد لي
36 يهوديانو دا خبري بيا وکړ لي
ګوري ځومره وِ سره مينه لرِي
37 ځنو وِ که دَ ړوند سترګي پرانزي
نو ده بيا دومره هم نه شو څه کو لي
چه دي کس دا رنګه مرګ نه وي ليد لي
38 نو عیسیٰ بيا په خپل ځان کښ غمژن شه
راغي قبر ته چه هغه يو غار وه
او يو کاڼړي ئي په خوله بانديِ پروت وه
39 عیسیٰ وِ کاڼړي کړئ لري له دېنه
دَ لعزر خور مرتها وِ بوئي به ترخيږي
وجهه دا-ئن ځلورمه ورځ ئي کيږي
40 عیسیٰ وِ. تا ته څه ويلي نه وه ما
که ايمان نه چري راوړي په رښتيا

ﻻﻟﻪ دلته موبنږ وینو چه سره د دي چه عیسیٰ مالک د بیا ژوندي کړلو طاقت لره خو هم د هغه په زړه کښي داسي پوره همدردي وه چه د خلقو په غم کښي په کامل طور شامل شه. پوره همدردي او پوره طاقت او د کتاب مقدس د تعلیم په موافق عیسیٰ کلمته الله د خدای تعالیٰ کامل عکس دي

نو معلومیږي چه ځکه عکس هم زړه سوی او هم طاقت لرلو د غیبي خدای هم لري. او دا سبب دي چه عیسایان مل په هر غم کښي خدای ته د ښا فریاد په داسي شان کوي لکه چه ماشوم خپل پلار ته کوي. او په هر ژړا او فریاد کښي خدای هم طاقت او هم تسلي ورکوي.

نو دَ رب لويي به ووينې ته بيا
41 او چه کاڼړي يې تړ لوي کړ نو عيسیٰ
خپلې سترګې کړلې پورته وې وېل
پلاره ستا شکر کوم تا م داوريدل
42 ولې ما ته ده معلومه چه مدام
ته م اوري خو په وجهه دَعوام
چاپيره چه ولاړ دي دا وو ما
دي دَ پاره چه دوي ايمان راوړي بيا
43 چه تا يم را استولي - پس لا دي زر
نعره يې وکړه چه راوُزه اې لعزر
44 په کفن تړلي دي راووته
او هم مخ يې په رومال تړلي وه

عیسیٰ وِ پراٰئي نَخَتيٰ چه شي روان
45 په دي وجهه له یهودنه ډیرکسان
چه مریمي له راغلي وُو هغه ان
چه داکار ئي ولیدٓ راٰئي وَر پرایمان
46 مګر ئه خني فریسیانو له لاړل
اوهغوئي ئي په دي کارونو خبرکړل
47 سردار کاهنانو اوهم فریسیانو
جرګه غونډه کړه وِ څه وکړو یارانو
ګوري داکس معجزي ډیري کوِي
48 که ئي پریږدُو خلق پرتول ایمان راوړي
که داوشي نور رُومیان به بیا راځي
ځمونږ دَ ځاي او قوم بنیاد به وباسي
49 خو کائفا چه دا کال وه کاهن سردار
ورته وِ-نهٔ پوهیږ ئي تاسو په هیڅ کار

50 نه کړئ خیال دا ده بهتر ځمونږ لاره
چه یو کس مړ شي د ټول امت د پاره
51 لیکن دا له ځانه ونه ویل ده
مګر هغه کال سردار کاهن ؤ دی وه
نبوت یې وکړلو چه خاص عیسیٰ
د ټول قوم په ځای به مړ شي په رښتیا
52 نه خالي د قوم د پاره خو د خدای
خواره شوي زامن راغونډ شي په یو ځای
53 نو له هغې ورځې یې دا اصلاح کوله
چه په څه شان یې ووژنو له یو ځله
نور په مینځ کښ د یهودیانو عیسیٰ
54 بیا ښکاره نه ګرځیدلو په یو ځای
یوې بلې علاقې ته تړلاړ شنه
چه ځنګل و ته هغه ځای نژدې و نه

یعني یو ښهر چه يې نوم افرایم وه
مریدانو سره هلته اوسیده
55 دَ یهود اختر دَ فسح وه قریب
اوله کلو نه ډیر خلق په ترتیب
له فسح نه وړمبي لاړل بیت الله ته
چه هر کس اول کړي خپله جثه پاکه
56 چه ولاړ په بیت الله وو نو يې بیا
هغه ځاي کښ لټوه مسیح عیسیٰ
یو تر بل به يې ویل ستاسو خیال څه شي
په اختر به راشي دي که را به نه شي
57 وجهه دا چه کاهنانو فریسیانو
هسي حکم کړي وه په خلقو عامو
که خبر شي څوک چه دي هغه کوم لور
نو دِ وښايي چه يې مونږ ونیسو في الفور

دولسم باب

۱ بیاله فسَیح رومبي شپږ ورځي عیسیٰ
راغي تربیت عنیا چه ئې لځوا
ژوندي کړي وه له مړو نه لعزر
۲ دَ نماښام خوراک له هلته شه حاضر
او مرتها ئې په ښه شان خدمت کاوه
او لعزر ناست له خوړو نکو سره وه
۳ نو مریمي نیم سیر عطر بیش بها
راوړل وا ئې روړل په ښپو پاک عیسیٰ
بیا ئې ږښي په ویښتو خپلو وچي کړلي
په ټول کور کښ دَ خوش بوئ پیچي راٰللي
۴ مګر یهوده اسکریوتي دا اٰن
چه په مریدانو کښ ئې وه یو ځوان
او ئې ورستو هغه کړه په حواله
هسي رنګه ئې وُوِ په وران قاله
۵ په یو نیم سوه دا عطر خرڅیدي شو
په خوارانو باندِ دا تقسیم کیدي شو

۲۱ په یهودیانو کښي د [illegible] د حق وخ [illegible] د یارلس [illegible] میلمه [illegible]

۱۲۶

دا اوبو په خاي عطر استعمال [illegible] صرف دا فرق دي قیمتي چه [illegible] په یهود [illegible] کښي عیسیٰ [illegible] مرهم [illegible] اشاره ولیدله .

دَ خوارانو غم هغه سره نهٔ وه مل ۶
بلکې وه هغه په خپل زړهٔ کښ خاص غل
دَ پیسو کڅوړه لې وه په لاس کښ تل
چه هر څه جمع کیدل دهٔ به ساتل
عیسیٰ ځکه وُوِیل لې دا چه ځما ۷
دَ ښخون ترَ ورځې وساتي رښتیا
وجهه دا خواران مدام تاسو سره دي ۸
خو ځما تل اوسیدل در سره نهٔ دي
چه یهود عوام ته شو دغه معلوم ۹
چه دي هلته - نو نهٔ تش دَ هغهٔ په نوم
لاړل - خو چه هم لعزر وويني بيا
چه له مړو نه ژوندي کړي وه عيسیٰ ۱۰
خو سردار کاهنو وکړ مشورت
چه لعزر هم مونږ مړ کړو په سرعت
سبب دا - دَ هغهٔ په وجهې يهود يان ۱۱
لاړل دير - او په عيسیٰ لې راوړ ايمان

12 بله ورځ چه مخلوقات اختر دَ پاره
راغلل. هلته ئې واوریدل هسي له وارهٔ
چه عیسیٰ بیت المقدّس ته راځي
13 دَ کجورو څانګي ئې پري کړي سر سري
او بهر ئې استقبال لره لاړل
او په چغو ئې داسي وویل
هوشعنا[لف] بختور دِ هغه وِي
چه په دي مقام دَ رب په نوم راځي
او دَ بني اسرائیل بادشاه رښتیا
14 او چه وموند لو یو خرګي عیسیٰ
دَ هغهٔ دَ پاسه شهٔ بیا هغه سور
لکه چه لیکلي دِي په هسي طور
15 دَ صیهون لور. مهٔ ویریږه. ګوره ستا
شاه دَ خوي په کوچي سور درځي رښتیا

[illegible]

١٦ په دي قال ورمبي پوهٔ نهٔ شوُ مريدان
چه عيسیٰ جلال ته ورسيد کوم آن
نو هغوئ ته راخبري يادي شو لي
چه دَ هغه په حق کښ وي ډيره ليکلي
چه هغه سره به دا سلوک وشي نه
١٧ بيا کوم خلق چه ورسره وو لهٔ يقينه
چه له قبره يُ لعزر را وباله
چه له مړونه يُ څه وقت ژوندي کړهُ
هغوئ کړي شهادت وه دَ دي قال
١٨ مخلوق څکه راووت په استقبال
چه هغوئ په هسي شان وُاوريدلي
چه هغه هسي شان نښي دي ښودلي
١٩ فريسيانو ويلي وو په مينځ کښ خپل
کوري تاسو هيڅ خيال نهٔ کوئ بالکل
ستاسو لاس نه هيڅ نهٔ کيږي زيروبام
کوريُ لاړشهُ په هغه پسي خلق تمام

20 له هغوئ نه چه دَ پارهِ دَ اختر
عبادت له ورُ راغلي لرو بر
څه کسان وُ په هغوئ کښ یونانیان
21 هغوئ راغلل نور فلپس له هغه ان
دَ گلیل دَ بیت صیدا فلپس وُ نه
نور په دي وینائ ورته عرض وکړُ نه
ائ صاحبه . غوارُو دَ عیسیٰ لیدل
22 فلپس راغي اندَ یاس ته ئي ووئیل
اندَ یاس او فلپس راغلل تر عیسیٰ
نور هغه ئي خبر کړ په مدعا
23 عیسیٰ وِ هغه ساعت راښي في الحال
چه به ابنَ آدم بیا مومي جلال

24 زهٔ رښتیا تاسو ته وایم په نعرو
دَ غنمُ دانه چه زمکه کښ ترڅو
پرېنه وزي - مره نهٔ شي یواځې وي
مګو که مره شي نو ډېري داني شي
25 هغه کس چه نور خپل ځان ډېر خوږ ګڼړي
له هغه نه به ضرور هغه ورک شي
څوک چه په دي جهان ځان سره کینه کړي
دَ تل دَ ژوند دَپاره يې کامل ساتي
26 هغه څوک چه خاص ځما خدمت کوي
نو هغه کس دِ په ما پسي راځي
او چه چرته زهٔ یم هلته به ځما
خدمت ګار هم وِي وا وایه رښتیا
او هغه څوک چه ځما خدمت وکړي
پلار به مِ نو دَ هغهٔ عزت کوي

له
عجیبه خبره دا ده
چه ځینې خلق دَ فدیه یا دَ
کفاري له تعلیم نه لري تښتي سره دَ
دي چه دَ کفاري دَ تعلیم مثال او اشاره
چار چاپېره په هر ځاي کښ صفا صفا ښکاري
هرکله چه دَ غنمو داني په زمکه کښ
واچولي شي نو مري او تر هغه پوري چه مړي
شوي نه وي هېڅ فایده ترې نه څېږي.
دغه شان دَ هر څیز ژوند ورن په کفاري
څوړند دي که خدا حلاله نه تېي
نو څوک لنشته. که غنم

یا جواب او ورکړه نه شي [illegible]
دومره ځای نشته. که معو د ځان نه
دَ ارکوي یا نو تېښته نه پېل کېږي. که پلار سره
دَ کار دَ پاره نه خوږ وي. نو یې ځانه پالي.
دغه شان په هر څېز کښ کفاره او وقف په
خپل عکس لري. په عیسائي مذهب کښ
دَ کفاري خاص دا تعلیم نه دی چه ما
دَ وکړه له او بل چا سزا وخوړه له.
[illegible]
مګر دا - دي چه دَ ګناه تجسیم مرګ دي
لوَ دي ګناه په وجه انسان مردي او په
دي مرګ کښ بل څوک داخل [illegible]
چه په دي مرګ ژوند ورت داتعلیم
ولي چه سوا سو عیسائیت دا تعلیم دَ
ورکوي چه اصلي خبره ... دَ
شریعت سائل او ناسائل نه
دي ولي چه اوس هم هیڅ
سائلي نه دي. اصلي خبره
دَ تل مرګ او دَ تل ژوند ورن
دي. او فدیه دي ته وایي.
چه بل چا خپل ژوند ورکړو
چه چه دَ نو درنده فایده او
دا ژنی. چه مالک میخ دا ته
دَ غنمو دَ داني مثال
استعمال کوي.

27 اوس دي زړه ځما بیده پریشان
نوزهٔ څه ووایم دا وقت په زبان
دا وایم څه ؟. بچ کړه ماله دي ساعت پلاره
لیکن راغلم خاص دَ دي ساعت دَپاره
28 ورکړه اي پلاره خپل نوم لوه جلال
له اسمان نه دا آواز راغي في الحال
ماورکړي دي او بیا به ورکوم
29 کوم مخلوق چه وُو ولاړ په هغه دم
هغوئ وِو چه اسمان وغریدلو
نور وِ نه. فریښتي کلام وکړلو
30 عیسیٰ ورکړ جواب. نهٔ ځما له کاره
بلکي راغي دا آواز ستاسو دَ پاره

31 او د دي دنیا به اوس عدالت وي
د دي دنیا سردار[ل] بهر ویستلی شي
32 که له زمکي پورته وخیژولی شم
نو ټول خلق به زه ځان ته راکاږم
33 نو په دي خبري یې ورکړ اشارت
چه په کوم مرګ به زه مړ شم په سرعت
34 مخلوقاتو وله ورکړ دا جواب
او رو موږ ده د شریعت له کتاب
چه همیشه پودي پاتي شي مسیح[ب]
بیا په څه رنګه شه ستا کلام صحیح
چه د ابن ادم دي خیژول ضرور
بیا دا ابن ادم څوک دي مشهور
35 عیسیٰ و ورته د یو ساعت د پاره
ستاسو مینځ کښ رڼا شته ګرزئ له واره

ل په دي انجیل شریف کښ دا خبر درې ځل راغلی دی چه دنیا سردار دي او د لته چرته ځله راغي. اول ځل چه بیکلي دي چه هغه به د دنیا سردار بهر ویستلی شي په دي ۱۲ باب او ۳۱ ایت چرته. دویم ځل په ۱۴ باب او ۳۰ ایت چرته چه بیکلي دي چه د دي دنیا سردار راځي خو په ما کښ د هغه هیڅ نشته یعني هغه ته په مالک مسیح کښ هیڅ تحویل نه شه. او اخر ځل په ۱۶ باب او ۱۱ ایت کښ راغلي چه د دي دنیا په سردار حکم شوي دي. له دیګانه معلومیږي چه د دي دنیا سردار هر څوک انسان نه دي مګر شیطان دي. هر چرته چه د دي دنیا سرداران یاد یږي هغه په نوي عهد کښ ملام هغه کسان دي چه د پاک خدای له مرضی نه مخالف چلیږي. او د شیطان په قابو کښ دي.

ب په بني اسرائیلو کښ د زړو نبیانو کښ حق ... مسیح د ناصره ... [illegible] ... د یو د پاره ... مسیح نه مرګ کیږي ... هغه په خپل قدرت ... سوال هم په زبور شریف کښ ... خدای په خپل ... صفات دي ... مطلب ... [illegible]

هسي نه چه تیاره تاسو راګیر کړي
چه تیاره کښ ځي نه پوهیږي چرته ځي
36 چه تر څو ستاسو رڼا وي په رڼا
یقین وکړئ چه ځامن شئ د رڼا
څه وقت چه عیسیٰ دا کلام خلاص کړه
تر نه لاړ شه او بل ځائ چرته پټ شه
37 بیا اګر که د هغوئ وړاند پاک عیسیٰ
دومره نښې ښولي وي ولیکن بیا
هغوئ رانه وړ هغه باند ایمان
38 چه پوره شي د یشعیاه نبي فرمان
خدایه چا مو په کلام وکړ یقین
د رب لاس چا ته ښکاره شه خاص مین
39 هغوئ ځکه راوړلي نه شه ایمان
یشعیاه نبی بیا کړي وه دا بیان

د اِشعیا نبي
په ۱۲ ه باب کښې دا اول
نبوت راغلی دی چه اَو
که خدای ځیل قوت انسان
ته د خلاصون د پاره
ظاهر کړ لکه چه یې
په ما لکه مسیح کښې ظاهر
کړی وه) خو بیا خلقو
یقین نه کاوه او نه یې
ایمان راوړ په نهٔ ۵ ۴
اِیت کښې هم دا راغلی دی
چه خدای د هغوی سترګي
ړندي کړي. چه آخر هغه
ورته ښکاره نه شي.
تمام د پاره یوی خطر دی او هغه
د انسان
دا دي. چه انسان ګمان کوي چه زما سترګي
رښتیا دي. زه وینم او زه پوهیږم او په رښتیا
سره خبره دا ده. چه د ... په ... وجهي
د انسان په سترګو قادر دي نو چه
وینې خطا وینې. او چه پوهیږي غلط
پوهیږي. لکه مثلاً یهودیان ډیر تعلیم
یافته او مذهبي او هوښیار خلق
وو. مګر هغوي په لیدلو

[illegible]

۴۰ دَ هغوي سترګي يې ړندي کړلي دا وخت
اوهم زړونه يې دَ هغوي ټولو کړل سخت
هسي نه چه دوي په سترګو وويني
له ليدلو پس په زړه باندِ پوه شي
او چه پوهَ شي په بيرته وګرزي
او زهَ هغه تمام روغ کړم سمدستي
۴۱ دا خبري يشعياه ځکه وکړلي
چه دَ هغهٔ لويي هم وهَ هغه ليدلي
او دَ هغه په حق کښ يې وکړلو کلام
۴۲ خو بيا هم سره دَ دي په هغهٔ مقام
مشرانو ډيرو راوړ پرِ ايمان
دَ فريسيانو په سبب يې نهٔ کړ اعلان
هسي نهٔ چه شي خارج له جماعت
۴۳ سبب دا چه هغوي له ربي عزت

دَ انسان په عزت ډېرهِ مینه کړله
44 ولیکن عیسیٰ بیا دا نعره وکړله
چه هر څوک ایمان په ما باندِ راوړي
نهٔ په ما خو په هغهٔ راوړي اصلي
چه یې زهٔ راوا ستولم یقیني
45 چه څوک ما ویني لیږونکي مِ ویني
46 زهٔ دنیا ته رڼا راغلم حقیقي
چه هر څوک ایمان په ما باندِ راوړي
په تیاره کښې به هغه پاتې نهٔ شي
47 او که څوک زما کلام خپله واوري
امانت یې نهٔ ساتي نو دَ هغهٔ
عدالت نهٔ کومه ولي چه زهٔ
را نهٔ غلم چه عدالت دَ دنیا کړم
مګر په دې چه دنیا زهٔ خلاصوم
48 څوک چه ما نهٔ مني او کلام زما
نهٔ مني دَ هغه منصف شته په رښتیا

٤٤ چه دَ عیسیٰ کلمة الله کلام لکه چه په انجیل شریف کښې راغلې دي. بې ځایه د چې په غوږ ونو کښې راغلې او دَ هغه کس په زړه وراټې. نو هغه کس دَ عدالت په ورځ هیڅ عذر. ایمانه نه لري. ولې چه دَ ماک میږ کلام تړوندوت او کار دَ هغه مرګ او یا ژوند به کیږي. چه دَ اسمان ته ختل دایې لري. نه حقیقي. یا به پیدا کیږي.

ایمان به راوړېږي. او ... بغیر ایمان به مرحمي او یا به ... بغیر ایمان ... دی. او دا هم نهٔ کیږي ... خواځه خبري ... هغه نه دي ... ولې چه ... خدای ... هر شان ... کلام ... اعانت ... منل ... دي.

یعني هغه کلام چه کړي دي ما
په ورستي ورځ به يې منصف شي رښتیا
49 لکه ما له ځانه هیڅ نه دي ویلي
مگر پلار لیږونکي دي دا فرمائیلي
چه زه څه ووایم څه کلام وکړم
50 زه خبر یم چه دَ هغه حکم محکم
دي دَ تل ژوندون. نور چه څه کړم بیان
هم هغه کړم چه پلار کړي دي فرمان

دیارلسم باب [له]

1 بیا دَ فسح له اختر اول عیسیٰ
په دي پوه شه چه اوس وقت راغي ځما
چه له دي فاني دنیا نه رخصت شم
او واپس بیا زه خپل پلار ته لاړ شم

له یعني خلق دا خیال
کوي چه دَ کلمة الله کار او
کلام بعضي هسودي خبره ده.
او دَ هغه مرگ او بیا ژوندي
کیدل څه دومره ضرور نه دي
مگر په دي انجیل شریف کښي دَ
اول دولس بابونو کښي [illegible] او له دي
[illegible]

چه هغه خپلو سره مینه لرله
په دنیا کښ تر آخره ئې وکړله
2 دَ نماښام دَ خوراک وقت کښ بیادسیتي
چه په زړه کښ دَ یهوده آسکریوطي
چه ځوئې وهٔ دَ شمعون داسي خیال شیطان
واچوه چه حواله ئې کړي دا زمان
3 او عیسیٰ ته وُو معلوم چه ښما پلار
هر څه کړل تابیع ښما دَ اختیار
او هم دا چه زهٔ له خدائي راووتم
او دا چه اوس به بیا واپس خدائي ته ښم
4 دسترخوان نه پاشیدله نور جامي خپلي
ویستلي او دست مال ئې وه اخستلي
خپلي ملا سره ئې هغه وتاړهٔ
5 بیا ئې واچولي په لوښی کښ اوبهٔ
سر شه دَ مریدانو دَ پښو په وینځو
او هم په هغه دست مال په وچولو

ځائي ئې مسیح بایه چه دي
کار ده. حق ئې کښې اشارت وغه اصلاح
انسان له ګناه نه پاکوي. او چه حضرت
پطرس ئې اشارت پوهه نه شه او هم
د سر او د لاس وینځل ئې دي و غوښتل
یعني ئې دي واوري کښې دوره معنی
ښکاري. اوله داده چه کس د
مالک مسیح ئې وسیلې صفا نه وي. نو
هغه کس ئې مسیح کښې د نجات
برخه هم نه لري. هم

میراث نو د دنیا ئې هم
مالک کیږي. او د چه صاف وي
دوېیمه مسیح ئې مغز کښې ښیني
د خپلو خبره دا ده پښو وینځل هغه
پیرېښو د مریدانو ئې اختیار کښې دي
والي کښې دله. چه د ښاره بوي هم د
ئې زخم دي ځکه د ئې مالک مسیح
پرښیني ده. دا ئې عزت عیسائي وروو
به له چه نمو ئې او خدمت
هغوئي نه تر آخره نه بي
هیره نه ئې دي
ښي.

٦ ته شمعون پطرس چه ورسید عیسیٰ
هغه وِ مالکَ ته وِیئې پښې ځما
٧ عیسیٰ وویل هغهُ ته په جواب کښ
چه اوس څه کوم ته نهٔ پوهیږي وي باب کښ
مګر وروستو به پوره پرِ پوه شي
٨ پطرس وِ ته به ہم پښي ونهٔ وِینځې
عیسیٰ وِ که چرې ونهٔ وِینځم تا
نو ته ما سره شریک نهٔ یې ربتیا
٩ پطرس وِ نهٔ خالي پښي مالکه هم
سر لاسونه ہم وویڅه په دې دم
١٠ عیسیٰ وِ چه چا لمبلي وِي ورته
بې له پښو وِینځلو نور حاجت نشته
بلکې دي سراسر پاک. تاسو پاک یې
مګر ټول نهٔ یئ په دې ہم پوره شيُ
١١ سبب دا. پیژندهٔ عیسیٰ مخبر خپل
څکه یې وُو چه ټول پاک نهٔ یئ تل

ل له دي واقفي
نه تکه له نعود منلفعرفا بونو
نه صفا معلومیږي چه کلمة الله به
یوه وه چه څه کېدونکي دي
او چه د چا له لاس به وشي
یعني داسي کار د کلمة په حق کښي
چیري نه دي چه یو بل پوره شه. بلکي
پیش شه - هغه د هرکل لاره وه -
چه د لار د سوائي د هرکل لاره ده.
چه هم سره د دي عیسیٰ صبح دا
نه هم پري نه ښعوړه.

12 څه وقت چه دَ هغوئ پښنې لې ووینځلې
پس له هغې نه بیا جامې ئې واغوستلې
ورسره کښېناست او ورته ئې ووېل
پوه شوئ چه در سره مې څه وکړل
13 وایئ ما وته استاذ مالک هر دم
او تاسو ښه وایئ ولې چه زهٔ یم
14 نو که ما یعنې استاذ مالک ضرور
پښې مو ووینځلې. تاسو یئ مجبور
15 چه دَ یو بل پښې ووینځئ. کورئ ما
نمونه ښودلې ده تاسو ته رښتیا
لکه ما چه تاسو سره اوس وکړل
تاسو هم داسې یو بل سره کړئ تل
16 زهٔ رښتیا تاسو ته وایم چه نوکر
له مالک څخه لوئ نهٔ دې لروبر
له لېږونکې لوئ نهٔ دې لیږلې
17 که په دې چړې تاسو یئ پوهېدلې

بختور یيُ که پرِ وکړيُ هم عمل
۱۸ دَ نتولو په باب دا نهٔ وایم یو څل
ولي ما ته ده معلومه په ښه شان
هغویُ ما انړ ولي دِي. دِي کوم کسان
ولیکن دَ دي دَ پاره به وشي
چه کلام دَ پاک کتاب خاص پوره شي
یعني هغه چه ډوډيُ ما سره خوري
لته را باندِ هغه اُچتوي
۱۹ له کیده نه ورمبي تاسو ته وایم
دي دَ پاره چه بیا وشي په کوم دم
ایمان راوړیُ تاسو چه زهٔ هغه یم
۲۰ تاسو ته رښتیا رښتیا زهٔ نما یُم
هوانسان چه لیږلي شوي شما
قبلوي نور هغه هم قبلوي ما
او چه قبلوي ما کوم بني ادم
هغه هم قبلوي چه يُ ولیږلم

21 چه عیسیٰ دا کلام وکړ کوم زمان
په خپل زړه کښ شه بې حد پریشان
شاهدي یې وکړله په دې وینا
دایم تاسو وته زهٔ رښتیا رښتیا
چه له تاسو نه به یو کس ضرو ري
چاته وکړي په ما باندِ مخبرِي
22 مریدانو نور یو بل ته وکتل
هغه څوک یادوي په دې کښ شک مند شول
23 نو یو کس له مُریدانو څني بیا
چه هغه ناست وه په سنګ کښ دَعیسیٰ
چه عیسیٰ ورسره کړ ډیر محبت
24 پطرس وکړلو هغهٔ ته اِشارت
وِ وایه چه هغه څوک یادوِي
25 هغهٔ هَغه سي مخ واړوه سمدستي
او عیسیٰ ته یې وِ څوک دي هَغه مالکه
26 عیسیٰ څکه دا جواب ورکړ بې شکه

چا دَپارهِ چه نمړيُ زهُ ډوبه کړم
وله ورکوم هغه کس دي محکم
نو چه بیا ښه وقت نمړيُ لي ډوبه کړله
یهوده آسکریوتي له يُ ورکړله
۲۷ پس له نمړيُ نه ورننوت شیطان
عیسیٰ وِ چه ښه کړي زر وکړهِ دا آن
۲۸ ولیکن هغويُ چه ورسرهِ ناست وُو
دَعیسیٰ په دي وینا پوهَ نه شوُ
۲۹ یهوده ښه ښوُرهِ وهَ دَ مال
ښکه ښو گمان وکړلو في الحال
چه شایُد عیسیٰ هغهُ وته وایِي
چه ښه اختر دَپارهِ پکار وِي
ته په بیعه واخله اوس هغه ضرور
یا خوارانو له ښه ورکړه په دستور
۳۰ یهوده چه نمړيُ ښه وقت واخستله
زر بهر ووته شپه ور ښکاریدله

31 څه وقت چه هغه ووتلو بهر
نو عیسیٰ هسي فرمان کړلو اظهر
چه لوییِ ابنِ آدم اوس وموندله
32 دَ خدایُ لوییِ په هغه کښ ښکاره شوله
خدایُ به هم هغهَ له په خپل ځان کښ
لوییِ ورکړِي. بلکي زر به دي‌ان کښ
33 ایُ بچو تاسو سره یم لږ ساعت نور
بیا به تاسو لټویُ ما په هر لور
لکه ما چه یهودیانو ته وویل
چه ځم چرته تاسو راتلي نه شيُ تل
34 تاسو ته هم دغه شان وایم زهُ بنه
یو نوي حکم درکوم زهُ تاسو ته
چه لويُ تاسو له یو بل سره مینه
لکه ما له تاسو وکړه له هر جینه
داسي تاسو هم یو بل سره کويُ
35 تو‌ل اولس به په دي پوه شيِ هرځایُ

چه بې شک تاسو ځما یئ مریدان
که یو بل سره لرئ مینه هران
36 نو شمعون پطرس ورته وکړ سوال
اې مالکه ته به چرته ځې فی الحال
عیسیٰ وِچه چرته ځم اوس دا سې
ته دا نلې نهٔ شې خو وروستو به راشې
37 پطرس وِ اوس د رسې ولې تلې نهٔ شم؟
زهٔ خپل ځان ستا له خاطره ورکوم
38 عیسیٰ ورکړ جواب په وجهې ځما
نهٔ به خپل ځان ورکوې څه؟ مګو بیا
ګوره تا ته وایم زهٔ رښتیا رښتیا
چه ځو دري ځله منکر نهٔ شې له ما
ترهغې به چرګ بانګ ونهٔ وایې
دا خبره تا ته وایم په صفائې

څوارلسم باب

ف
کښې مالک
قسمه پیشګوئي کړې پطرس ته دوه دي ښاغي
هغه به پخپل ... کوي پتغاول دا
مګر لکه به خپل مرګ مه ته نه ځې
به مګر چه مالک عیسیٰ د ظلم
ځان به پطرس مه شه - هم هغه
هم دا پېښ وشو - مګر ځې - او واقعې
پیشګوئي هم دا وه - بلکه
ته به له ما نه انکار دې - چه

۱۴۸

ځي. وچه دا وه چه
حضرت پطرس دلته پیدا
سوې توب نوکر کاوه او چه د
مالک هیڅ کار په دنیا کښې
دې وقت کښې له ځنې نه وه.
ښکر د حضرت پطرس ایمان چه
هم پوره نه وه. هرکله چه
د مالک هیڅ کار پوره وه. نو
او هغه آسمان ته تللې کښې
حضرت پطرس شه. چه ځان
هم ایمان پوره شه.
حې ورکه

ستاسو زړه دِ هرگزنهٔ شي پرېشان 1
لويَ په رب. په ماهم راوړیٔ ايمان
ځاد پلار په کور کښ مقامونه 2
ډير دي. که نهٔ وي مابه ويلي وُنه
ځکه ځم چه ځايَ کړم تيار ستاسو دپاره
او که لاړ شم چه هلته کښ کوم ځايَ تياره 3
بيا به راشم ځان څخه به مو بوزم
تاسو به هلته يئ چرته چه زهٔ يم
چه ځم چرته تاسو پيژنیٔ دا لار 4
توما وِ ورته مالکَ موښ. ته اظهار 5
هرگز نهٔ دِي چه تهٔ ځي اوس په کوم خوا
په څه رنگ به پيژنو هغه لار بيا
عيسیٰ وله جواب ورکړ چه 6

لاره او حق او ژوندون زۀ يم
بي ځما له وسيلي نه هيڅوک پلار ته نۀ راځي
٧ که چيري تاسو وي پيژندلي زۀ
نو به مو هم پلار پيژندلي وه ښه
له اوس نه يي پيژنئ تاسو او هم
٨ ليدلي مو دي. فليپس ورته وويل
مالکه مونږ ته وښايه پلار نو بيا
ځونږ دَ پاره بس دي - وويل عيسیٰ
٩ فليپس دومره عمر تاسو سره يم
او ته ما نۀ پيژني لا څه؟ بيا هم
چه چا زۀ وليدم - وي ليدلو پلار
وايي ته څنګه پلار مونږ ته کړه اظهار

١٠ یقین نه کړي څه؟ چه زه په پلار کښ یم
پلار په ما کښ. کوم کلام چه درته کړم
له خپل ځانه هغه نه کوم یو وار
پلار چه ما کښ دي هغه کوي خپل کار
١١ زه په پلار کښ یم یقین وکړئ په ما
پلار په ما کښ دي. او که نه نو هم بیا
یقین وکړئ دَ کارونو په سبب
١٢ رښتیا تاسو ته وایم وا عجب
چه په ما څوک ایمان راوړي نو به هم
هغه شان کارونه کړي چه زه ئې کړم

بلکي وبه کړيُ له هغويُ ځني لويُ هم
وجهه دا ده چه زهٔ خپل پلار ته ځم
چه تاسو هرڅه څما په نوم کړيُ سوال.
13 زهٔ به ئيُ کړمه چه څما دَ پلار جلال
په پوره شان سره څوئيُ کښ شِي معلوم
14 زهٔ به کړم چه غواړيُ څه څما په نوم
15 بيا که تاسو ماسره مينه لريُ
په حکمونو به څما عمل کويُ
16 زهٔ به پلار ته عرض کوم سمدستي
او هغه به مددګاربل درکوِي
چه به تل ترِ تله تاسو سرهٔ وِي
17 يعني دَ حقَ روح . هغه وي حقيقي
او دنيا قبلولي هغه نهٔ شِي
چه نهٔ ئيُ وينيِ او نهٔ ئيُ پيژنِيِ
وليکن تاسو به پيژنئيُ هغه
ولي چه هغه به او سي درسرهٔ

له انجیل شریف نه صفا معلومیږي چه هغه مددګار یا فارقلیط چه کلمة الله دلته یاد دي نه انسان دي او نه انسان چري کیدلی شي . په دي کښی څلور خبري دي اول : دا چه تل تر تله به تاسو سره دي . انسان خو مړ کیږي . لا ایمڅي له جهان نه سفر و کیږي . دویم : دنیا ئي نه ویني او نه ئي پیژني . هغو انسان پوهنکاره څیز دی چه یو له بل نه

پیژندل دي کیدی . له چه غني ئي نه مني . دا جنس سوال دی . دریم : هغه به تاسو کښی د نه وي . دا به ی شان سره د انسان صفت نه دي . څلورم : چه بل کښی د نه ... کلمة الله مبارکي ... د عیسی ... هغه ... شه . ولي چه هغه ... دنه شه . پوره شه . او په ایمانداران کښی په دویم باب کښی ... په اعمال ... هم لکه چه په ... دي . یعني مضمون بیکلی دي . روح القدس او روح الوکیل

او درون به وي په تاسو کښې به شان

18 نو ربه تاسو زهٔ نهٔ پریږدم یتیمان

زهٔ به تاسو ته خپله درشم بیا

19 لږ ساعت پاتې دي نو به مې دنیا

نهٔ وینې - مګر تاسو به مې وینئ

چه ژوندی یم تاسو به هم ژوندي یئ

20 هغه ورځ به خبر شئ زهٔ پلار کښې یم

تاسو ما کښې او زهٔ تاسو کښې قایم

21 مګر چه چا سره دي احکام زما

او پرې عمل کوي نو هغه دي بیا

چه بی شکه ما سره کړې محبت
نو رهو څوک چه ما سره کړي الفت
پلار م ورسره کړي مینه زهٔ هم کړم
او خپل ځان به ورته زهٔ ښکاره کوم
22 یهوده (نهٔ اسکریوطي) وکړ پوښتان
ای مالکه څه شوي دي چه ته خپل ځان
موږ ته ښکاره کوي او نهٔ تر دنیا
23 په جواب کښې داسي ووېل عیسیٰ
هغه څوک چه ما سره مینه لري
په کلام به نو زما عمل کوي
زما پلار به ورسره کړي محبت
موږ به هغه ته راشو بې مهلت
ورسره به کړو استوګنه واقعي
24 او چه څوک ما سره مینه نهٔ لري
په کلام زما هم نهٔ کوي عمل
او هغه کلام چه تاسو اورئ تل

خمانهٔ دي خو هغه خما د پلار دي
چه هم هغه زهٔ یه راستولي
25 چه زهٔ لا تاسو سره وم داخبري
ما تاسو سره کولي به ظاهري
26 خو چه راشي روح القدس مددګار
چه خما په نامه به يې استوي پلار
هغه به واړه خبري درښايي
بلکي هر څه چه ما درته ويلي دي
نو ر به تاسو ته هم دغه يادوي
تاسو ته زهٔ پريږدمه سلامتي
27 او سلامتي زهٔ خپله درکوم
لکه کوي دنيا هغه شان نه درکوم
ستاسو زړهٔ دې څري نهٔ پريشان کيږي
او هم نهٔ دې په څه وجه وويريږي

۱۴

دوه قسمه سلامتي
شته. يوه خدائي او بله
دنياوي. هغه سلامتي چه
دنياوي ده. په موقعه يا په شکل
حال کښي په ظاهره ده. او ځکه چه نه
دنيا په پرته راځي. چه ستا څه نقصان
نه وي دي. په دغه سبب. او که څه کړوي
په مرګ ضرور ورکوي. چه نه
دا جواب. ضرور ده. مګر خدائي يې
سلامتي په زړهٔ کښي راځي.

په احوال موقوفه ده
لکه چه په هواګانو او تکليف او بيم کښي
کښي چه په هغه خوشحالي يا بناد دي
ده. عيسائي کښي ويلي چه سلامتي
پادوي. چه هغه کا ايمان سلامتي
مخ اي. چه غيبه ده او
هم د عيسى کلام
دنيا کښي به تکليف
اوسيږي. ولي چه زړهٔ په دنيا باندي غالب يم.
زړهٔ دې سلامتي دا مطلب دي
چه کښي په هر حال
کښي. تکليف کښي دا
بناد دي کښي دا تسلي
نري چه خدائي او دا
سره محبت لري او دا
محبت په دنياوي حال
نه ښکاره کيږي. مګر
په مسيح عيسى کښي ښکاره
شوي دي. نو دغه
سلامتي ابدي او غير
فاني ده. مګر بغير د
خالق مسيح له وسيلي
بغير نه هغه سلامتي
نه موندلي کيږي

۲۸ واورېدل موځه م وُوِدرته هم
چه زهٔ اوس ځم او واپس به بیا درځم
لوکه تاسو ما سره مینه لرلي
نور په دي بانِد به موخوشحالي کړلي
چه زهٔ اوس خپل پلار ته ځم او ځکه
چه پلار م له ما نه لوئ دي بې شکه
۲۹ له کید و نه اول م وویُل دا چین
چه ځه وقت بیاوِشي وکړئ پرِ یقین
۳۰ ورانِد تاسو سره ډیر کلام نه کړم
چه سردار دَ دي دنیا راځي وا دم
ولیکن دَ هغهٔ په ما کښ هیڅ نشته
۳۱ مکر دا. چه شِي دنیا په دي آګاه
چه زهٔ پلار سره بې شکه مینه لرم
او چه څنګه ما پلار راکړِ حکم
زهٔ همیشه هم کومه دغه شان
پاڅئ. ځئ چه شو له دي ځایُ نه روان

دا ټولي خبري معلومیږي چه
وشوي. چه هغوي په دي ځای کښ
ناست وو. یعني لاړ شو
خوارلسم باب د دیارلسم او
وشو. د زیارت ورځ نږدې شوي
وه او د حج په شپه وه عیسیٰ
کیسه الله هغه نیږدې او د حج
ورځ په مخت مصیبت نیږدې کړي.

پنځلسم باب

اي

1 اصلي بوټي دَ انګور زهٔ یم کامل
او څما پلار دی باغوان بنه مکمل
2 چه څه څانګه میوه ماکښې نه نیسي
نو څما پلار هغه څانګه لرې کوي
کومه چه میوه نیسي هغه کوي صفا
چه لا زیاته میوه هم ونیسي بیا
3 دَ کلام په سبب چه ویلي دي ما
تاسو اوس هم یئ ټول پاک او صفا
4 زهٔ په تاسو. تاسو ماکښې شئ قایم
لکه څانګه چه پخپله میوه هم
په هیڅ شان سره نیولي نهٔ شي نه
که په بوټي کښې قایمه بنه نهٔ وینه
دغه سي تاسو کولي نهٔ شئ یو څل
که په ماکښې قایم پاتې نه شئ تل

سلم
نو چه هغوی پاخیدل او روان شو
ماکې هغه باغ ته تلل چه هغه
ونیولي شه. او په هم هغه شپه کښې
عیسیٰ الله هم دا مثال ورته
وادوه

دَ بوټي دَ باغوان
هغه کښې دَ ... او دَ انګور
دَ بوټي دَ هغوی په څانګو کښې دَ
عیسیٰ او دَ یوحنیانو تعلق ښکاره شو. چه دَ
دائمي دي که دَ خپل مالک سره دَ
څانګې تعلق بوټي

5 تاسو څانګي یئ مګر بوټي زهٔ یم
چه څوک ما کښې پاتي کیږي او زهٔ هم
یم هغه کښې - هغه ډیره میوه نیسي
خوله ما نه جدا هیڅ کولي نهٔ شي
6 څوک چه ما کښې نهٔ وي۔ دَ څانګي په شان
به بهر ګذار شي چه وچ شي وا آن
خلق ټول کړي۔ اور کښې اچوي وسیزي
7 که په ما کښې یئ کلام م در کښې وي
هر څه چه غواړئ وکړئ دَ هغې سوال
8 وبه شي ستاسو دَ پاره باکمال
لوییئ ښکاري په دي کښې څما دَ پلار
دَ میوي چه تاسو ونیسئ ډیره بار
بیا به تاسو شئ څما مریدان هلله
9 لکه پلار چه ما سره مینه وکړه

مثل ... دَ مذهب ... اصلیت دي. نو در دا خیال ... شریعت دي. بغیر ... له شک نه دا انجیل خبري هم ... عیسایت کښې ... [illegible]

... کلیمه ... [illegible]

... چه عیسیٰ کلیمة الله دَ ... تعلیم پاپیغمبر ... [illegible]

دغه شان تاسو سره وکړه ماهم
او ځما مینه کښې پاتي شيُ قایم
10 که ځما په احکامو کويُ عمل
ځما مینه کښې به پاتي شيُ بیاتل
لکه ما چه په احکامو دَ خپل پلار
عمل وکړ یم په هغې میني ایسار
11 ځکه ما در سره وکړ دا کلام
چه ځما ښادي په تاسو کښې وِيُ تام
او چه ستاسو خوشحالي هم شِيُ کامله
12 او ځما حکم هم دا دي له هر څله
لکه ما در سره مینه کړي ده
هسي تاسو هم لريُ یو بل سره
13 دې نه زیاته مینه هیڅوک نهٔ لرِي
چه دَ دوستانو په ځايُ خپل ځان ورکوي
14 کوم احکام چه درکومه وا زمان
که عمل پرِ وکريُ. یيُ ځما دوستان

١٥ پس له دي درڅه نهٔ وايم نوکران
ولي چه نوکر خبر نهٔ وي هيڅ شان
چه دَ هغه مالک څه څه کار کوي
خو ما تاسو ته دوستان ويلي دي
چه ما څه دي اوريدلي له خپل پلار
په هغي باندِ م کړلي خبردار
١٦ نهٔ يم تاسو غوره کړي زهٔ مګر
ما کړئ تاسو خوښ او کړئ م مقرّر
يعني دا چه لاړ شئ ونيسئ ميوه
دا ميوه دِ شي قايمه په هر خواه
دي دَ پارهِ چه له پلار غني هر څه
چه ځما په نامه غواړئ. دو کړي به
١٧ زهٔ دَ دي خبرو حکم درکوم
چه يو بل سرهِ کوئ مينه هردم
که کينه تاسو سرهِ کړي دا دنيا
پوه شئ چه اول له تاسو نه بيا

له ما سره دنیا کینه وکړله
۱۹ که تاسو وي دَدي دنیا یو ځله
دنیا به خپلو سره مینه کړه له
وجهه دا ده چه نه یئ دَدي دنیاه
مګر ما له دنیا یئ انږولي
ځکه در سره کینه به دنیا کړي
۲۰ لوئ یاد هغه خبري لرو بر
چه م کړي در ته وي یعني نوکر
په هیڅ شان له خپل مالک نه لوئ نه وي
چه لئ زه ازار کړم تاسو به هم کړي
په خبري لئ که ځما وکړ عمل
په کلام به ستاسو هم وکړي کامل
۲۱ ولیکن به په سبب دَ نوم ځما
هغوئ تاسو سره وکړي واره دا
ولي چه هغوي هغه نه پیژني
چه لئ زه دا واستولم یقیني

22 او هال ـ بي شکه که زهٔ نهٔ وي راغلي
او خبري مې هغوئ ته نهٔ وي کړي
نو گناه به يې نهٔ وه وليکن اوس
دَ گناه عُذر لولي نه شي خس
23 هغه څوک چه ما سره کينه کوي
شما پلار سره دي هم کينه لري
24 که دَ هغوئ په مينځ کښې داسي کارونه ما
کړي نهٔ وي لکه چه کړي نهٔ دي چا
نو گناه به يې نهٔ وه مگر وا آن
يې ليدلي دي خو کينه په هر شان
يې کړي ده ـ يعني ما سره او هم
شما له پلار سره يې کړي ده هر دم
25 وليکن څکه داسي وشو ـ تمام
چه پوره شي خاص دَ پاک کتاب کلام
بې سببه يې کينه ما سره وکړله
26 خو چه هغه مددگار راشي يو څله

۷ هغه اصلي گناه ده چه عیسیٰ مسیح دلته یاد کړې ده کیږي دا هغه د حق ناقبلولو گناه ده ... او د دې گناه د پاره صرف یو عذر ... چه انسان د خدای په حکمونو ... معلومیږي ... که مالک عیسیٰ مسیح ... په کوشش ... قوم ... نو هغه قوم د قبلولو ... او د ناقبلولو موقعه نه لري ... او د ناقبلولو گناه کیږي

۱۶۲

۸ ... چه ... ورسیږي ... عیسایان په ملک کښې ... کتاب مقدس د خلقو ... ترجمه کړي ـ تعلیم او شهادت ورکړي ـ د عبادت ... جوړه وي ـ او کلام د خدای په ... او هغه قوم ولاړ ... لیکن هیڅ عذر نه لري ـ او ناقبلولو گناه ... شوه ـ

چه دَ پلار له لوري به ئې درته استوم
یعني روح دَ حقیقت چه له پلاره هم
راوزي. نو هغه به په باب څما
27 شاهدي ورکوي تاسو هم هر څوا
په بابت څما کښې شهادت ورکړئ
ولي چه له شروع نه ما سره یئ

شپاړسم باب

1 څکه ما دا کلام وکړلو بې شک
چه بیا پړوانډ تاسو ونهٔ خوړئ تند ک
2 جماعتونو نه به مو هم خارج کړي
بلکي هغه وقت هم ورسيږي راځي
چه څوک تاسو قتلوي گمان به کړي
چه هغه خاص دَ خدای خدمت کوي
3 دا به څکه کړي. چه ئې ونهٔ پیژند پلار
نهٔ ئې زهٔ وپیژندلم په څه لار

ف

اصلي او ضروري
کار دَ عیسایانو دَ نجات
دَ علم دَ خوَرولو دَ پاره دا دي
چه شاهدي ورکړي. څکه چه څنګه به
الخاص هغه شاهدي ده. هغه مریدان
مقدس کښې راغلي دي. هغه سره وو
چه له شروع نه مالک مسیح
په ضعوي خدای ته هم هغه شهادت
ولیکه او عیسایان هم دا شاهدي نور
خلقو ته دسپړي. او ضعوي به
لفظ په کښې بد اوليږ.

دا څرګول لازم دي. او په ضعوي
دا هم دَ ضعوي خپل ایمان دي. ولي
او دَ خوَرولو اپنډ دي بلکي دا اپنډ دي
په فرض ده. هر څوک دَ عیسایانو
په کوشش او اپنډي لیږ نه کېږي.
ولي چه روح القدس هم شاهدي
ورکوي. یعني دَ انجیل شوېږي
کلام په خلقو ثابتوي. چه قایل
ئې او ایمان راوړي.

دا مَ دي دَ پارهٔ وکړ کلام ۴
چه هر کله چه وقت راشي تمام
نو ستاسو په ښه شان یاد شي بې تحمل
چه ما تاسو ته ویلي وُو اول
په شروع کښې ما وُنه کړ دا کلام
ولي چه لا درسره وم مدام
ولیکن بیرته هغه له اوس ځم ۵
چه يُې زهٔ دلته کښې راواستولم
او له تاسو نه نور هیڅوک نشته دي
چه تپوس کوي چه تهٔ اوس چرته ځي
غو چه وم کړ دا تاسو ته کلام ۶
نور مُو زړه له غمه ډک شو تمام
خو رښتیني کلام تاسو ته کوم ۷
فائده منه تاسو له دي چه زهٔ لاړ شم
او که لاړ نهٔ شم نو هغه مددګار
را به نهٔ شي تاسو ته نور په هیڅ لار

ولیکن که لاړ شم واستوم به ئې بیا
8 چه هغه راشي نو هغه به د دنیا
دَ ګناه - دَ صداقت - دَ عدالت
په باب کښې قایله کړي په هر حالت
9 دَ ګناه په باب ځکه چه پر آن
په ما باندِ نهٔ راوړي هغه ایمان
10 او په باب دَ صداقت ځکه چه زهٔ
پلار له ځم - بیا به م تاسو وینئ نهٔ
11 په بابت دَ عدالت وجه ده دا
حکم شوي دي په سردار دَ دي دنیا
12 ډیري خبري م لا شته چه در وکړم
خو لیُ اوس کولي نه شئ تاسو زغم
13 مګر هغه - یعني روح دَ حقیقت
چه راشي نو ر به مو دَ کل اصلیت
په لاره بیایئ - او سبب دَ هغي دي دا
چه له ځانه به هغه هیڅ نه وایي بیا

دا انجیل شریف هر چیرته چه
کښې اوروي لیکي کیږي په دي دنیا
انسان چه دي د دریو خبرو روح القدس
اول دا چه هغه انسان خپل قایلوي.
پېژني ولې چه خاص ګناهګار
ایمان نه لري. چه خدای مقرر کړي
یعني کلیمة الله. دویم هغه به
دي شي. چه بې شکه عیسی مسیح راستي
او صادق دي. ولې چه
ته ځي نو خدای

۱۶۵

دریم په ځکه له مړو نه
بیا ژوندي کړي و
عدالت دي. ولې چه
شیطان. یعني د دي دنیا
په سردار حکم شوي وي. نو خود
په هغه نو له خلقو بانه شوي
دي. چه لا تر اوسه د شیطان
په الټي چل چالاکي کوي.

ولیکن هرڅه چه واوري نو هغه
به وایي تاسو ته دغه خوا مخواه
په راتلونکي اشیا به مو کړي خبر
14 هغه به ځما لویي کړي سراسر
ولي چه هغه به له ما نه اخلي
او هم هغه تول به تاسو ته ښایي
15 هغه دي ځما. هرڅه چه دي دَ پلار
ځکه ما تاسو ته وکړ دا ګفتار
یعني چه هغه به اخلي خاص له ما
او هم هغه به تاسو ته ښایي بیا
16 ما به تاسو نهٔ وینئ لږ ساعت پس
بیا لږ ساعت او ما به وینئ په هوس
17 دَ هغهٔ له مریدانو ځنو بیا
په خپل مینځ کښ وویل چه څه دي دا
چه وایي نهٔ به م وینئ ساعت پس
ساعت پس به بیا ما وینئ په هوس

له

له ۱۲ ایت نه تر ۲۴ پورې مسیح دَ خپل مرګ او بیا ژوندي کیدلو اشارة وړکوي. غم او بیا راځم. او ستاسو غم به په خوشحالي بدل شي. په تاریخي طور هم هغه نشان وشه. مریدان دَ عیسیٰ مسیح دَ نیولو او دَ مړکیدلو په وخت خوارة وارة او غمژن شو. مګر چه هغه له مړو نه بیا ژوندی پیدا شه او هم هغوي

سره تر ۲۸ ورځو پوري ځمکه ودریده. نو له دي نه ورستو هم هغه مریدانو په هر قسم غم او عذاب او تکلیف ښادي او خوشحالي کوله. بلکي تر دي حده پوري چه غیر خلق حیران پاتي شو.

او بیا هم دا چه زهٔ خپل پلار څخه څم
څکه یُ وِ دَ دي ساعت مطلب دي کوم ۱۸
دا خبرهِ عجیبه ده نه رسیږو
چه څه وایي په مطلب یُ نه پوهیږو
نو په دي هم پوه شه مسیح عیسیٰ ۱۹
هغوئ غواړي چه تپوس وکړي له ما
ورته یُ وِ تاسو دَ دي کلام په باب
له یو بل څخني تپوس کوئ احباب.
چه به لږ ساعت پس ونه وینئ ما
لږ ساعت او ما به خود ووینئ بیا
رښتیا وایم تاسو به ژړا کوئ ۲۰
فریاد و نه به په زړه باندِ لرئ
ولیکن باقي دنیا به شي خوشحا له
سکو تاسو به غمژن شئ له هر حاله
خو دا غم به په ښادئ مُوبدل شي
چه دَ ښځي څه هلک جنئ کیږي ۲۱

نو هغه ډیره غمژنه شي په زړه
ولي چه وقت دَ هغي اوس پوره شه
مگر څه وقت چه پیدا شي تر ماشوم
نو خوشحاله شي دَ دي دا دي مفهوم
چه پیدا یو بني آدم شه په دنیا
هغه دا عذاب هم نه یادوي بیا
22 څکه اوس شته دي په تاسو کښ خفگان
مگر بیا به مو ووینمه په شان
ستاسو زړونه به بي حد خوشحال شي
دا ښادي به در نه هیڅوک وانه خلي
23 هغه ورځ به ما نه نه کوئ هیڅ سوال
ریښتیا تاسو ونه وایم په دي حال
چه تاسو هر څه چه وغواړئ له پلاره
ځما په نامه به در کړي تول له واره

هر څو مره دعا چه په عیسایت کښي کیږي هغه ټوله دَ مالک مسیح په نامه کیږي. دَ دي مطلب دا نه دي چه دَ کلیمة الله نوم په قسم دم دي. یا تعویذ دي او نه دا دي. چه عیسایان دا یقین کوي چه هر کله دعا چه وکړه چه دَ مسیح نوم ورسره وایو. نو هغه قبلیږي. دَ عیسیٰ مسیح په نامه دعا کول دا دي چه دَ هغه په روح په نیت او په مقصد سره

دَ عیسیٰ تعلیم نه تعلق لري. او دَ عیسیٰ مسیح له ژوند ون او تعلیم نه موږ دَ دعا په مطابق دَ دي خبري ونیسو. اوله دا ده چه هغه به هر څه دَ خدای تعالیٰ په مرضي موقوف کوي داسي دعا دَ هغه له خولي نه خښلي نه ده. چه هغه به چېري بچېري. دویمه دَ عیسیٰ مرضي نیت وکړه. چه په مسیح په نامه داسي دعا نه کیږي په بد نیت چه تا نقصان رسول غواړي یا ولي چه کلیمة الله پخپله فرمایلي دي چه دَ دنیا نه دَ پاره دعا و غواړه او ورسره مینه سوره. دریمه دَ مالک مسیح په خود غرضي اوله کیږي. ولي چه په نامه هم دعا دَ هغه نه تول تعلیم او ژوند ون نه مخالفت دي. نو هر کله چه هغه په ریښتیا دعا کیږي. او دَ عیسیٰ کلیمة الله په نامه سره دَ عیسیٰ. نو خدای هغه دعا کیږي. او دَ خپلي مرضي اوري. او دَ مطابق یې قبلوي.

24 او تر دي ساعته پوري تاسو لا
هيڅ غوښتلي په نامه نهٔ دي ځما
دعا غواړئ در به کړي شي حقيقي
